فیضانِ بسم الله (پښتو)

# فَیضانِ بِسمِ الله


شیخ طریقت، امیر اهلسنت، بانی دعوت اسلامی، حضرت علامه مولانا ابو بلال

مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة


www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامي سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنۡ شَآءَ اللّٰه تعالٰی څه چه لولئ هغه به مو یاد پاتې کیږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام

ترجمه: اے الله تعالٰی په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسیره [یعني بیرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!



طالبِ غم
مدینہ بقیع و
مغفرت

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفکر بیروت)

(اول او آخر کښې یو یو ځل دُرود شریف ولولئ)

۱۳شوال المکرم ۱۴۲۸

د کتاب نوم: فَيۡضَانِ بِسۡمِ الله

اول ځل: ........................

تعداد:

ناشِر: مکتبةُ المَدینه، عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه، بابُ المَدینه کراچي.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې کتاب د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه وکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه ته رجوع وکړئ.

www.dawateislami.net

# فَیضانِ بِسمِ الله

د فَیضانِ سُنَّت جلد اَوَّل دا باب "فیضانِ بسم اللّٰہ" شیخِ طریقت اَمیرِ اَھلِسُنَّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت عَلّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمَّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ په اردو ژبه کښې لیکلي دي.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې باب په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غَلَطي یا کمي، زیاتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلسِ تراجم ته خبر وکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**پیشکش: مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي**

برائے رابطہ:


عالمی مَدَنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## ”زه دعوتِ اسلامی سره مِینه کووم“ د 22 حروفو په نِسبَت دَ درسِ فیضانِ سُنَّت ۲۲ مَدَنی کْلونه

(1) فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”څوك چه زما اُمَّت ته يوه اِسلامي خبره ورسَوي د دې د پاره چه د هغې په ذريعه سُنَّت قايم شي يا د هغې په ذريعه بدمذهبي لرې کړې شي نو هغه جَنَّتي دې. (حِلْيَةُ الْاَوْلِياء ج١٠ص٤٥ رقم ١٤٤٦٦)

(2) سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دې: ”اللّٰه تعالٰی دِ هغه [کس] تر و تازه ساتي څوك چه زما حديث واوري، ياد ئې وساتي اونورو ته ئې ورسَوي.“ (سُنَن تِرمِذی ج٤ص٢٩٨ حديث ٢٦٦٥)

(3) د حضرت سَيِّدُنا اِدريس عَلَيْهِ السَّلَام د نوم مبارك يو حکمت دا هم دې چه د کُتُبِ اِلٰهي په کثرت سره د درس و تدريس کولو په وجه د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام نوم اِدريس [يعني درس ورکوونکې] شو. (تفسير کبير ج٧ص٥٥٠، تفسير الحسنات ج٤ص٤٨)

(4) حضورِغوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: دَرَسْتُ الْعِلْمَ حَتّٰى صِرْتُ قُطْبًا يعني ما د علم درس حاصِلَوَلو تر دې چه زه د قُطبِيَّت مقام ته ورسيدم. (قصيده غوثيه)

(5) دَ فيضانِ سُنَّت نه درس ورکول هم د دَعوتِ اسلامي يو مَدَنی کار دې. کور، جُمات، دُکان، سکول، کالج، چوك وغيره کښې وخت مُقرر کړئ او هره ورځ د درس په ذريعه ډېر ډېر د سُنَّتو مَدَني کْلونه خوروئ او ډېر ثوابونه ګټئ.

(6) د فيضانِ سُنَّت نه هره ورځ کم نه کم د دوو درسونو ورکولو يا اوريدَلو سعادت حاصلوئ (په دې دوو کښې يو ”د کور درس“ ضروري دې)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف ولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

(7) سيپاره 28 سُوْرَةُ التَّحْرِيْم شپږم آيت کښې ارشاد دي: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ (مفهوم ترجمهٔ كنزُالإيمان: اے ايمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه بچ کړئ چه د هغې خشاك انسانان او کانړي دي). خپل ځان او د خپل کور کسان د دوزخ د اور نه د بچ کولو يوه ذريعه د فيضانِ سُنَّت درس هم دې. (د درس نه علاوه د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مكتبةُ المَدينه نه جاري کړې شوې د سُنَّتو ډك بيان يا د مَدَنی مُذاکرې يو کيسټ يا V.C.D هم هره ورځ د خپل کور کسانو ته اوروئ)

(8) ذمه دار دِ وخت مقرر کړي او هره ورځ دِ د چوك درس اهتمام کوي مثلا دَ شپې په نهه بجې په مدينه چوك کښې، (نهه نيمي) بجې په بَغدادي چوك کښې وغيره. دَ چوټې په ورځ د يو نه په زياتو ځائيونو کښې دَ چوك درس اهتمام کوئ (خو چه حقوقِ عامَّه ضائع نه شي مثلاً ستاسو په وجه د مسلمانانو لاره بنده نه شي ګني ګنهګار به شئ)

(9) دَ درس د پاره داسې لمونځ وتاکئ چه په هغې کښې د زياتو نه زيات اسلامي وروڼړه شريك کيدې شي.

(10) د درس والا لمونځ هم په هغه جُمات کښې په اولنې صف کښې د جَمعې او د تکبيرِ اُولٰى سره ادا کوئ.

(11) د محراب نه يو طرف ته (د جُمات په غولي وغيره کښې) يو داسې ځاۍ د درس د پاره خاص کړئ چه په هغه ځاۍ کښې نورو لمونځ کوونکو او تِلاوَت کوونکو ته تکليف نه رسي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درود پاك لوستل هير كړل هغه دَ جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

(12) د ذِيلي مُشاوَرَت نِگران ته پكار دي چه په خپل جُمات كښې دوه خير خواهان مُقَرَّر كړي چه هغه د درس (يا بيان) په موقع باندې روان كسان په نرمئ سره حِصَاروي او ټول نِزدې نِزدې كښينوي.

(13) په پرده كښې پرده[1] كوئ او د قعدې [يعني د اَلتَّحِيَّات] په حالت كښې كښينئ او درس وركوئ. كه اوريدونكي زيات وي نو په ولاړه باندې يا دَ مائيك په ذريعه هم درس وركولو كښې باك نشته، خو هله چه لـمونځ كوونكو او تِلاوَت كوونكو وغيره ته تكليف نه رسي.

(14) آواز نه زيات اوچت پكار دي او نه ډير كم، حَتَّى الْاِمْكَان په دومره آواز كښې درس كوئ چه صرف حاضرين ئې اوري. د دې خبرې هميشه اِحتياط كوئ چه د درس و بيان په آواز يو اوده كس يا لـمونځ كوونكي يا په تِلاوت كښې مشغول كسانو وغيره ته تكليف نه رسي.

(15) درس په قلاره قلاره رفتار كښې او په درميانه آواز كښې وركوئ.

(16) چه كوم درس وركوئ اَوَّل كم از كم هغه يو ځل لَولئ چه غلَطي پكښې نه كيږي.

(17) د فيضانِ سُنَّت مُعَرَّب [يعني زير، زبر، پيش والا] الفاظ د اعرابو مطابق ادا كوئ دغسې به مو اِنْ شَآءَالله تعالٰى دَ تَلَفُّظ د صحيح ادا كولو عادت جوړ شي.

---

[1] ځادر او كه نه وي نو لمَن مخكښې ورروستو او په ورنونو داسې خوره كړئ چه د پردې ځائيونه پكښې نور هم ښه پټ شي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر وشو او هغه په ما درودِ پاك ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّى)

(18) حَمْدُ و صَلوٰة، د دُرُود و سلام دواړه صيغې، آيتِ دُرُود او اِختتامی آيتونه وغيره يو سُنّي عالِم يا قارى ته ضرور واورَوئ، هم دغه شان دَ عربئ دُعاگاني وغيره مو چه تر څو سُنّي عالم ته نه وي اورَولي تر هغې ئې يواځې هم مه وائې.

(19) د فيضانِ سُنَّت نه علاوه د دعوتِ اسلامي دَ اِشاعتي اداري مكتبةُ المَدينه نه شائع شوو مَدَنی رِسالو نه هُم درس وركولې شئ.[1]

(20) درس سره د اِختِتامي دُعا په ووه مِنټه كښې دننه دننه مكمل كړئ.

(21) هر مُبَلّغ ته پكار دي چه هغه د درس طريقه، آخِرې ترغيب او اِختِتامى دُعا په يادو زده كړي.

(22) د درس په طريقه كښې دِ اسلامى خويندې د ضرورت مطابق بدلون وكړي.

# د فَيضانِ سُنَّت نه د درس وركولو طريقه

درې ځله داسې اِعلان وكړئ: "نِزدې نِزدې تشرِيف راوړئ." [بيا] په پرده كښې پرده وكړئ د قعدې په انداز كښېنئ او داسې شروع وكړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

د دِې نه پس داسې دُرود و سلام اووائې:

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

---

[1] (د اَميرِاهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دَ رِسالو نه علاوه دَ بل كتاب نه د درس كولو اِجازت نشته. مركزى مجلس شورىٰ)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاك ولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

که په جُمات کښې ئې نو داسې د اِعتِکاف نِيَّت وکړئ.

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت وکړو)

بيا داسې اووائې: **خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** نِزدې نِزدې راشئ، د درس دَ ادب په نِيَّت نظر ښکته ساتئ او که کيدې شي نو دَ قعدې [يعني د اَلتَّحِيَّات] په شکل کښې کښينئ که چرې ستړې شئ نو چه څنګه تاسو ته آسانه وي هغسې کښينئ او په تَوَجُّه سره د **الله** تعالیٰ د رِضا د پاره دَ عِلمِ دِين حاصلولو په نِيَّت دَ فيضانِ سُنَّت **دَرس واورَئ** ځکه چه د درس د اوريدو په دوران کښې په بې پرواهئ سره اخوا دِيخوا کتلو، په زمکه باندې د ګوتو لوبولو، د جامو، بدن يا ويښتو وغيره د سَمَولو په وجه د دې دَ بَرَکتونو د ختميدو يَره ده. (د بيان په شروع کښې هم په دې انداز کښې ترغيب ورکړئ او [پخپله او په اوريدونکو هم] ښه ښه نِيَّتونه وکړئ) د دې وئيلو نه پس د **فيضانِ سُنَّت** نه په کتلو د درود شريف يو فضيلت بيان کړئ. بيا داسې اووائې:

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

څه چه ليکلي شوي وي هم هغه لولئ. د آيتونو او عربي عبارتونو صرف ترجَمه لوَلئ، د يو آيت يا د يو حديث د خپل طرف نه بالکل هيڅ خُلاصه مه بيانوئ.

## د درس په آخره کښې داسې ترغيب ورکړئ

(هر مُبَلِّغ ته پکار دي چه دا ترغيب زبانی ياد کړي او دَ درس او بيان په آخِره کښې بغير دَ څه کمې يا زياتی نه هم دغسې ترغيب ورکوي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ دَ تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالمګير غير سياسی تحريك دَعوتِ اسلامی په خوشبوداره مَدَني ماحول کښې په کثرت سره سُنَّتونه زده کيږي

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه جفا وکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

او ښودلې کیږي. هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځای کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتِماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِله** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذرِیعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ. اِنْ شَآءَالله تعالٰی د دې په بَرَکت به د سُنَّتو د پابند جوړیدلو، د ګناه نه د نفرت کولو او د ایمان دَ حفاظت د پاره د سوچ او فکر ذِهن جوړ شي. هر اسلامی ورور دِ خپل دا ذِهن جوړ کړي. چه "ما ته دَ خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اصلاح کوشش کول دي" اِنْ شَآءَالله تعالٰی د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په مَدَنی انعاماتو عمل کول او دَ ټولې دُنیا دَ خلقو د اصلاح د کوشش د پاره[1] په مَدَنی قافلو کښې سفر کول دي.

اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلّ.

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں　　اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہو

الله دِ کرم وکړي په تا داسې په جهان کښې
اے دعوت اسلامی ته دِ عام شي په هر ځائ

په آخِره کښې په خُشُوع او خُضُوع (یعني دَ بدن او دَ زړه په عاجزئ) او دَ قبلیدو د یقین سره په دُعا کښې د لاس اوچتولو د آدابو د خیال ساتلو سره د کمې او زیاتې نه بغیر داسې دُعا اوغواړئ.

[1] دلته دِ اسلامي خویندې اووائي: د کور په نارینؤ په مَدَني قافِلو کښې سفر کول دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاك ونه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

يَارَبِّ مُصْطَفٰی عَزَّوَجَلَّ! په خاطِرِ دَ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږه، زمونږ دَ مور و پلار او دَ ټول اُمَّت بخښنه وکړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! د درس غَلَطۍ او زمونږه ټول ګناهونه مُعاف کړې، د نیك عمل جذبه راکړې، مونږه پرهیز ګار او دَ مور و پلار فرمانبردار جوړ کړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږه ستا او ستا د مَدَني حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُخلِص عاشِقان جوړ کړې. مونږ ته د ګناهونو د بیمارو نه شِفا راکړې. یاالله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته په مَدَنی اِنعاماتو باندې دَ عمل کولو، په مَدَنی قافلو کښې د سفر کولو او دَ اِنفرادي کوشش په ذریعه نورو ته هُم دَ مَدَنی کارونو دَ ترغیب ورکولو جذبه راکړې. یاالله عَزَّوَجَلَّ! مسلمانانو ته د بیمارۍ، قرضدارۍ، بې روزګارۍ، بې اولادۍ، بې ځایه مُقَدَّمو، او د قِسم قِسم پریشانو او مصیبتونو نه خلاصي ورکړې. یاالله عَزَّوَجَلَّ! اسلام ته غَلَبه ورکړې او د اسلام دُښمنان مخ تورن کړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته دَ دعوتِ اسلامي په مَدَنی ماحول کښې استِقامَت راکړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته دَ شین ګُنبد لاندې دَ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دِیدار کولو کولو کښې شَهادَت، په جَنَّتُ الْبَقِیع کښې خخیدل، او په جَنَّتُ الْفِردَوس کښې دَ خپل مَدَنی حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ را نصیب کړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! دَ مدینې مُنَوَّرې دَ خوشبودارو او یخو هواګانو په خاطِرِ زمونږه ټولې جائزې دُعاګانې قبولې کړې.

کہتے رہتے ہیں دُعا کے واسطے بندے تیرے　　　کردے پوری آرزو ہر بے کس و مجبور کی

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كَنْزُ الْعُمَّال)

وائي بندګان ستا، د پاره د دُعا يا ربّ
پوره كړې د هر بې وسه او مجبوره مُدَّعا يا ربّ

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د شعر نه پس دا آيتِ مباركه ولولئ:

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پ۲۲، الاحزاب: ۵۶)

تول دِ دُرُود اُووائې بيا دا آيتونه ولولئ.

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾
وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾ (پ۲۳، اَلصّٰفّٰت)

دَ درس دَ فائِدې حاصلولو د پاره د ثواب په نِيَّت (په ولاړه ولاړه نه بلكه) په ناسته په خوش اخلاقئ د خلقو سره ملاقات كوئ، يو څو نوي اسلامی وورنړه د ځان سره نِزدې كښينوئ او د اِنفرادي كوشش په ذريعه ښه په مُسكا مُسكا هغوئي ته د مَدَنی اِنعاماتو او د مَدَنی قافلو بَرَكتونه بيانوئ. (په ناسته ملاقات كولو كښې حكمت دا دې چه څه نه څه اسلامي وورنړه كيدې شي چه ستاسو سره كښيني كَنې په ولاړه ولاړه ملاقات كوونكي عام طور د تللو د پاره روان شي او دغسې د اِنفرادي كوشش د سعادت حاصلولو نه محرومه پاتې كيدې شئ)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاك ولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

تمھیں اے مُبلّغ یہ میری دعا ہے کیے جاؤ طے تم ترقی کا زینہ

تا ته اے مُبَلِّغ دا زما دُعا ده روان اوسې په بره، ډير په ترقئ كښې

دُعائےعطّار! يا الله عَزَّوَجَلَّ! زما او په پابندئ سره هره ورځ دَ فيضانِ سُنَّت نه كم از كم دوه درسونه يو په كور كښې او دويم په جُمات، چوك، اسكول، وغيره كښې د وركوونكي او اوريدونكي بخښنه وكړې او مونږه د حُسنِ اخلاق نمونه جوړ كړې. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مجھے درسِ فیضانِ سنّت کی توفیق ملے دن میں دو مرتبہ یا الٰہی عَزَّوَجَلَّ

ما ته دَ درسِ فيضانِ سُنَّت توفيق راكړې په ورځ كښې دو ځله يا اِلٰهى

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# فَيضَانِ بِسمِ الله

د الله تعالیٰ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”چا چه په ما يو ځل درود شريف ولوستو الله تعالیٰ به په هغه لس ځله رحمت نازل کړي.

(مسلم شريف ج۱ ص۲۱۶ رقم الحديث ۴۰۸)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نيمګړې کار

خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”کوم يو اَهم [يعني ضروري] کار هُم چه د بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم سره شروع نه کړې شي، هغه نيمګړې پاتي کيږي.“ (اَلدُّرُّ الْمَنْثُوْرُ ج ۱ ص ۲۶)

## بِسمِ اللّٰه وائي

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د خوراك کولو او په بل د خوړلو، د څښلو او په بل د څښلو، د کيښودلو او پورته کولو، د وينځلو او پخولو ، د لوستلو او وئيلو، د تللو او (ګاډي وغيره) چلولو، پاڅيدلو او پاڅَوَلو، کښيناستلو او کښينولو، د بلب بلَوَلو، د پکي چلولو، د دسترخوان غوړوَلو، د بسترې غونډوَلو او خوروَلو، د دُکان بيرته کولو، د جرندې [يعني تالې] لګولو او بيرته کولو، د تيلو او د عطرو لګولو، د بيان کولو او

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك وليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِی)

د نعت شريف وئيلو، د پيزار په ښپو ګولو او عِمامه په سر کوَلو، د دروازې بيرته کولو او بندوَلو، غرض دا چه د هر جائز کار په شروع کښې (چه کله شرعاً منع نه وي) د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وئيلو عادت جوړول او د دې بَرَکتونه حاصلول ډير لوئي سعادت دې.

## د پيريانو نه د سامان د حفاظت طريقه

حضرت سَيِّدُنا صَفوان بن سُلَيم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "چه د انسان سامان وغيره او د اغُوستلو څيزونه پيريان اِستعمالوي. نو پکار دي چه کله په تاسو کښې څوك خپلې جامې اغوندي يا اوباسي نو "بِسْمِ الله شريف" دِ لوَلي. د دې د پاره د الله جَلَّ جَلَالُہٗ نوم مُهر دې." (يعني چه بِسْمِ الله پرې اووئيلې شي نو پيريان به هغه جامې نه استعمالوي)

(لُقطُ المَرجَان فی احکام الجان لِلسُّیُوطی ص ۹۸)

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! دغه رنګ د هر څيز د کيښودلو او راخستلو په وخت کښې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وئيل خپل عادت جوړول پکار دي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د وران کارو پيريانو د ضرر نه به په حفاظت کښې اوسئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## بِسْمِ الله صحيح لولئ

د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم په لوستلو کښې حروف د صحيح مخارجو سره ادا کول لازمي دي او کم نه کم دومره اواز ضروري دې چه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدی)

که څه رکاوټ نه وي نو چه په خپلو غوږونو ئې اوريدې شي. په تادئ کښې ځيني خلق حروف جوئي [يعني حروف نيمګړې ادا کوي]. قَصداً داسې وئيل منع دي او د معنې د فاسد کيدو په صورت کښې ګناه هم ده. په تادئ د لوستلو د عادت په وجه چه کوم خلق غلط وائي هغوئي دِ خپله اصلاح وکړي، او په کوم ځائ کښې چه د پوره لوستلو څه خاص وجه نه وي نو که هلته صرف بِسۡمِ الله اووائي نو بيا هم صحيح ده.

## شور ګډ شو

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ارشاد فرمائي: چه کله بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم رانازله شوه نو وريځې مشرق طرف ته وتښتيدې، هواګاني ودريدې، سمندر په جوش کښې راغې، ځناورو په غور سره د اوريدو د پاره غوږونه کيښودل او شيطانان د آسمانونو نه په کاڼړو وِيشتلې شُو او الله تعالٰی اوفرمائيل: "چه زما دِ په خپل عِزَّت او جلال قَسَم وي! په کوم څيز چه بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ولوستلې شوه په هغې کښې به زه بَرَکت اچووم." (اَلدُّرُّالۡمَنۡثُوۡر ج ۱ ص ۲۶)

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم د نولَّسمې سيپارې د سُورَةُالنَّمۡل د ديرشم آيت حصّه هم ده او د قرآن مجيد يو پوره اٰيت هم دې چه د دوو سورتونو په مينځ کښې د جدائې د پاره رانازل شوې دې. (حلبی کبیر ص ۳۰۷)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف ولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُ العُمَّال)

## د بِسمِ الله د "ب" جامعيت

الله تعالىٰ په ځينې انبيائے کِرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام باندې صَحِيفې او کتابونه رانازل کړې دي چه د هغې شمير يو سل څلور دې، په دې کښې پنځوس صَحِيفې په حضرت سَيِّدُنا شِيث عَلَيْهِ السَّلَام باندې، ديرش په حضرت سَيِّدُنا اِدريس عَلَيْهِ السَّلَام باندې، لس صحيفې په حضرت سَيِّدُنا ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې، لس صحيفې په حضرت سَيِّدُنا موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې دَ تورات د نازليدو نه مخکښې نازلې شوي وې. او دا څلور غټ کتابونه هم نازل شوي دي: (١) تورات شريف په حضرت سَيِّدُنا موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې (٢) زبورشريف په حضرت سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام باندې (٣) اِنجيل مُقَدَّس په حضرت سَيِّدُنا عيسىٰ روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام باندې او (٤) قرآنِ مَجِيد په جنابِ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې [نازِل شوې دي]. (الاحسان بترتيب صحيح ابن حبان ج١ ص٢٨٨، حلية الاولياء ج١، ص٢٢٢ مُلَخَّصًا)

د دې ټولو کتابونو او جمله صحيفو مَتَن او مضمونونه په قرآنِ مجيد کښې او د ټول قرآنِ مجيد مضمون په سُورَةُ فَاتِحه کښې او د سورۂ فَاتِحه ټول مضمون په بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم کښې او د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ټول مضمون د دې په حرفِ "ب" کښې موجود دې او د دې معنىٰ دا ده چه بِيْ كَانَ مَا كَانَ وَبِيْ يَكُوْنُ مَا يَكُوْنُ (يعني څه چه دي هغه زما (يعني د الله تعالىٰ) له طرفه دي او څه چه کيږي هغه به زما (يعني د الله تعالىٰ) له طرفه وي.)

(اَلْمَجَالِسُ السَّنِيةُ ص ٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف ولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكۍ ليكي. (تِرمِذِی)

## اِسمِ اَعظم

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ دَ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم د فضيلت په باره كښې تپوس وكړو نو د الله تعالیٰ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”چه دا دَ الله تعالیٰ په نومونو كښې يو نوم دې او د الله تعالیٰ د اِسم اعظم او د دې په مينځ كښې داسې نِزدې والې دې څنګه چه د سترګې د تور او سپين په مينځ كښې دې.“ (اَلْمُستَدرَك لِلحاكِم ج اول ص ۷۳۸، رقم الحديث ۲۰۷۱)

## د اِسْمِ اَعْظَم سره دُعا قبليږي

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د اِسمِ اَعظم ډير بَرَكتونه دي د اِسمِ اَعظم سره چه كومه دُعا وكړې شي هغه قبليږي. د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه والِدِ مُحتَرَم حضرت رَئِيْسُ الْمُتَكَلِّمِين مولانا نَقِی علی خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْحَنَّان فرمائي: ”چه ځينې عالِمَانو بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ته اِسمِ اَعظم وئيلې دې، د پِيرانِ پِير حُضُورِغوث پاك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه مَنقُول دي چه بِسْمِ الله د عارِف (يعني د الله تعالیٰ د معرفت لرونكې) په ژبه داسې ده څنګه چه د كلامِ خالِق تعالیٰ نه كُن.“ (يعني وشه) (اَحسَنُ الوِعاء ص ۶)

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! په خپلو نيكو او جائزو كارونو كښې د بَرَكت اَچولو د پاره مونږ له مخكښې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ضرور لوستل

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

پکار دي، که چرې تاسو په هره خبره کښې د بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم دَ لوستلو دَ عادت جوړَوَلو شوق لَرئ نو د دعوتِ اسلامی دَ سُنّتو دَ تربيت دَ په مَدَنی قافِلو کښې د عاشِقانِ رَسُول سره د سُنّتو نه ډك سفر خپل عادت جوړ کړئ، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اِسلامی په مَدَني قافِلو کښې د دُعا کوونکو دَ مشکلاتو د حل کيدو ډير واقعات موجود دي. چنانچه

## کږه پوزه

د يو اِسلامی ورور بيان په خپل اَنداز کښې دَ بيانَوَلو کوشش کووم، [هغه وائي] چه زما دَ پوزې هډوکې کوږ وو، په سر او سترګو به مې هميشه درد وو، ما په مَدِينَةُ الاولياء ملتان شريف کښې په نِشتر ميډيکل هسپتال کښې د آپريشن کولو اِراده کړې وه. د دې نه مخکښې را ته د عاشِقانِ رَسُول دَ سُنّتو دَ تَربِيَّت د مَدَني قافِلې سره پاکپَتَن شريف ته د سُنّتو نه د ډك سفر کولو سعادت حاصل شو. ما د مخکښې نه اوريدلي وو چه په مَدَني قافِله کښې دُعاګانې قبليږي، په دې وجه ما د الله تعالیٰ په بارګاه کښې دُعا وکړه: "ياالله عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اِسلامی د مَدَني قافِلې په بَرَکت زما د پوزې هډوکې صحيح کړې." د مَدَني قافِلې نه په بيرته راتلو يو څو ورځې پس چه ما د پوزې هډوکي ته په غور وکتل نو ډير زيات خوشحاله شوم. ځکه چه د عاشِقانِ رَسُول په نزديکت کښې د اوسيدلو او د مَدَني قافِلې په بَرَکت د غوښتلې دُعا قبليدل مې

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک ونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

په خپلو غرېدلو سترګو ولیدل او هغه داسې چه زما د پوزې هډوکې بالکل صحیح شوې وو.

سیکھنے سنّتیں قافِلے میں چلو
لُوٹنے رَحمتیں قافِلے میں چلو
لینے کو بَرَکتیں قافِلے میں چلو
پاؤ گے راحتیں قافِلے میں چلو
ٹیڑھی ہوں ہڈّیاں ہوں گی سیدھی میاں
دَرد سارے مِٹیں قافِلے میں چلو

زده کړئ ښکلې سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
وګټئ ډیر رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
ومومئ ډیر برکتونه قافلو کښې لاړ شئ
ومومئ به راحتونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به سم کاږه هډونه قافلو کښې لاړ شئ
هُم به ختم شي دردونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو وِاسلامی ورونړو! بیشکه د مسافرو دُعا قبوله ده او بیا چه خوك د الله تعالٰی د لارې مُسافِر وې او د عاشِقانِ رسُول په نزدیکت کښې دُعا وکړې نو ولې به نه قبلیږي. د سرکارِ اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ والِدِ ماجِد، رَئِیْسُ الْمُتَکَلِّمِین حضرت مولانا نقي علی خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللہِ الْحَنَّان په "اَحْسَنُ الْوِعاء" ص57 باندې د دُعا د قبولیت په آدابو کښې دریویشتم "ادب" بیانوي: "که د اولیاء او عُلَماء په مجلسونو." (یعني د یو ولي او سُنّي عالِم په محفل کښې یا د هغوئي په قُرب کښې دُعا اوغواړئ نو قبوله به شي) د

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

دې "ادب" په حاشيه باندې اَعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د اولياء او علماء په باره كښې فرمائي: رَبّ تعالىٰ په صحيح حديثِ قُدسي كښې فرمائي: "هُمُ الْقَوْمُ لَايَشْقٰى بِهِمْ جَلِيْسُهُمْ" يعني دا هغه خلق دي چه د هغوئي سره ناست اِنسان بدبخته كيدې نه شي." (احسنُ الوِعاء ص57)

يَك زَمانه صُحبَتِ با اَولياء بِهتَر اَز صَد ساله طاعَت بے رِيَا

(يعنې د اولياء كرامو سره لږه شان ناسته) (د سلو كالو د عبادت نه غوره ده)

ولي خواه كه ظاهري طور ژوندې وي يا كه په مزار شريف كښې تشريف فرما وي دَ هغه نزديكت د دُعا د قبوليت سَبَب دې. د كروړونو شافعيانو پيشوا حضرت سَيِّدُنا امام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه: ما ته كله څه حاجت پيښ شي نو زه دوه ركعته لمونځ وكړم او دَ امامِ اعظم ابوحنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه مزارِپُراَنوار ته لاړ شم دُعا اوغواړم، نو الله تعالىٰ زما حاجت پوره كړي. (اَلْخَيراتُ الحسان ص ٢٣٠)

## د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه كرامت

معلومه شوه چه دَ اولياءِ كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى په مزاراتو باندې دُعا كانې هُم قبليږي او مرادونه هُم پوره كيږي. چنانچه اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه كله د يو وِيشت كالو ځلمې وو د هغه وخت يوه واقعه واوريئ، چنانچه هغوئي فرمائي چه: "وولسم رَبيعُ الاخر ١٢٩٣ھ چه د فقير [يعني د اعلىٰ حضرت] عمر يو ويشت كاله وو. زه [يعني اعلىٰ حضرت] د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندي دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف ولوستل د هغه د دوو سوو كالو گناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمّال)

خپل والِد صاحب او حضرت مُحِبُّ الرَّسول جناب مولانا مولوي **محمد** عبدالقادر صاحب بدايوني دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سره د حضرت **محبوب** اِلٰهي نظامُ الحَقِّ والدِّين، **سُلطانُ الاولياء** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ مزار شريف ته حاضِر شوم. د حُجرې مقدَّسې خلور طرف ته د سُورنو باجو باطل **مجلسونه** لگيدلې وو، دَ شور او غوغا په وجه خبره نه اوريدې شوه، دواړه حضرات د زړه په اطمِنان مزار مبارك ته مُتَوَجِّه شو، فقير د دې شور و غَوغَا په وجه په زړه کښې خفه شو. په دروازه کښې ودريدم او حضرت سلطانُ الاَولياء رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته مې عرض وکړو: اے مولٰی! غلام چه دَ څه د پاره حاضر شوې دې دا آوازونه په هغې کښې خلل اچوي، (خبره هم دا وه يا دې ته نِزدې وه بهرحال مضمون هم دا وو) دا عرض مې وکړو او بِسمِ الله مې اووئيله او ښئ ښپه مې د پاکې حُجرې په وَر کښې کيښوده، په اِمداد د رَبُّ الْعِزَّتْ جَلَّ جَلَالُه يو دَم هغه اوازونه ورك شو، زما گمان شو چه گني دا خلق چپ شو، چه په شا مې وکتل نو د سُورنو باجو بازار گرم وو، قدم چه مې بيا باهر کيښودلو، هم هغه اوازونه وو، بيا مې بِسمِ الله اووئيله ښئ ښپه مې دننه کيښوده، بِحَمْدِاللهِ تَعَالٰی بيا مې غوږونه دمه شو. بيا پوهه شوم چه دا دَ **الله رَبُّ الْعِزَّتْ** عَزَّوَجَلَّ كرم او د حضرت سُلطانُ الاولياء رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه كرامت دې او په دې بنده باندې رَحمت او مَعُونَت [مدد] دې. شكر مې ادا كړو او قبر مبارك ته مُتَوَجِّه شوم،

www.dawateislami.net

هیڅ اواز نه راتلو، چه بَهر راغلم بیا هغه حال وو چه د خانقاه نه باهر قیام ګاه ته رسیدل ګران وو، په ما فقیر چه کومه مهرباني شوې وه دا د هغې بیان وو. دا د الله تعالیٰ احسان وو او الله تعالیٰ ارشاد فرمائي: وَاَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ (پ۳۰،الضحیٰ:۱۱) [ترجَمه] او د خپل رَبّ تعالیٰ نعمتونه ډیر بیانوئ.

د دې سره سره په دې کښې د اولیاءِ کرامو د غلامانو د پاره زیرې او د انکار کوونکو د پاره مُصیبَت او حسرت دې. اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! د خپل **محبوب** بندګانو په وسیله مونږه ته په دُنیا، آخِرت ، قبر او حشر کښې د خپل **محبوب** بندګانو بَرَکتونه نصیب کړې.

(اَحۡسَنُ الوِعاءِ لِاٰداب الدُّعاءِ ص۶۰تا۶۱)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! دا حکایت د ”بائیس خواجہ کی چوکھٹ دھلی شریف“ نه اغستې شوې دې. په دې کښې دَ جناب سَیِّدُنا نِظامُ الدِّین اولیاء رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ښکاره کرامت دې، د دې سره سره دا زما د آقا اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه کَرامت هم دې چه د قبرِ انور په کمره کښې به ئې قدم کیښودو نو د ډول باجو اوازونه به ئې نه اوریدل. د دې حکایت نه دا هم معلومه شوه چه بِالفرض که په مزاراتو باندې ناپوهه خلق څه غیر شرعي کارونه کوي او د هغوئې د منع کولو څه طاقت نه وي نو بیا هم د اولیاءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی دَ دربارونو دَ زیارت نه ځان مه محرومه کوئ. خو دا واجِب دي چه هغه خُرافات [یعني بد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعي په شپه او د جُمعي په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

كارونه] په زړه كښې بد ګنړي او په هغې كښې د شامليدو نه ځان ساتي بلكه د هغې د كتلو نه هم ځان وساتي.

## عجيبه بُوډا او تور پيرې

د مسجدِ نَبَوي شريف عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په ښكلې فَضا كښې يو ځل حضرت سَيِّدُنا اَمِيرُالمُؤمِنِين عُمر فاروقِ اعظم او د نورو صحابهٔ كرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان په مينځ كښې د قرآنِ پاك په فضائلو بحث كيدلو، په دې كښې حضرت سَيِّدُنا عَمرو بن مَعدِيكَرب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض وكړو: يا اَمِيرَ المُؤمِنِين! تاسو د بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم عجائبات ولې هيروئ، قَسم په خُدائے! بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم ډيره لويه عجوبه ده. اَمِيرُالمُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ سَم كښيناستلو او وئې فرمائيل: اے ابو ثور! (دا د حضرت سَيِّدُنا عَمرو بن مَعدِيكَرب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ كُنيت وو) تاسو مونږ ته څه عجيبه [قِصّه] واوروئ؟ حضرت سَيِّدُنا عَمرو بن مَعدِيكَرب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: د جاهِلِيّت زمانه وه د قحط كال وو د رِزق په تلاش كښې په يو ځنګل ورغلم دَ لرې نه مې يوه خيمه وليده، نِزدې مې يو اَس اَو نور څاروي هم وليدل، چه كله نِزدې ورغلم نو هلته يوه ښائسته او ښكُلې زنانه هُم موجوده وه او دَ خيمې نه بهر په انګڼ كښې يو بوډا ډېره وَهلې ناست وو. ما په هغه دباؤ واچولو او ورته مې اووئيل: "چه څه درسره دي ټول ما ته راكړه" هغه اووئيل: "اے سړيه! كه ته ميلمستيا غواړې نو راشه او كه مدد غواړې نو مونږ به

ستا مدد وكړو،" ما ورته اووئيل: "خبرې مه جوړوه، چه څه درسره وې ما ته ئې راكړه!" نو هغه بوډا د كمزورو په شان په ډېره مشكله ودريدو، بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم ئې اووئيل او ما ته را نِزدې شو او په ډېره تُندئ ئې په ما حمله وكړه، زه ئې په زمكه راغوزار كړم او په سينه راته كښيناستو او را ته ئې وئيل: " اوس وايه! حلال دِ كړم كه دِ پريږدم؟" ما په يره اووئيل: "ما پريږده." هغه زما د سينې نه لرې شو. ما په زړه كښې ځان بيكاره وګنړلو او ځان سره مې اووئيل، چه اے عَمْرُو! ته خو د عربو مشهور شهسوار [د آس د سورلئ ماهِر] ئې، د دې كمزورې بوډا نه تيښته نامَردي ده. د دې ذِلَّت نه خو مرګ ښه دې. په دې وجه ما بيا هغه ته اووئيل: "ستا سره چه څه دي ما ته ئې راكړه!" د دې په اوريدو هغه عجيبه بُوډا بيا بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم ولوستله، په ما ئې بيا حمله وكړه او دَ ستركې په رپ كښې ئې زه بيا ښخلولم او زما په سينه كښيناستو او ما ته ئې اووئيل: "وايه حلال دِ كړم او كه دِ پريږدم؟" ما ورته اووئيل: ما معاف كړه، هغه زه پريښودم، خو ما ترې بيا مال اوغوښتو، هغه بيا بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم ولوستله.او زه ئې بيا ښخلولم او كلك ئې ونيولم. ما ورته اووئيل: ما پريږده، هغه اووئيل: "اوس په دريم ځل دِ داسې نه پريږدم." دا ئې اووئيل او اواز ئې وكړو، اے وينزې! تيره تُوره راوړه! هغې تُوره راوړه، بيا هغه زما د سر د مخې طرف ته د وينښتو چونټه پريك كړه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاك ونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سُنّي)

او زه ئې پرېښودم. زمونږ په عربو كښې دا رواج دې چه د چا د سر د مخې طرف ته د وېښتو چونټه پرېكړ كړې شي نو بيا هغه د دوباره غتېدو نه مخكښې د خپل كور كسانو ته د مخامخ كېدو نه شرمېږي (ځكه چه دا وېښته كټ كيدل د شكست خوړونكي نښه ده) په دې وجه زه د يو كاله پورې د هغه عجيبه بُوډا د خدمت پابند شوم.

د كال پوره كېدو نه پس هغه زه د غر يو ناؤ ته بوتلم هلته هغه په اوچت اواز باندې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ولوستله نو ټولې مَرغۍ د خپلو جالو نه والوَتلې. بيا ئې چه ولوستله نو ټول سرې خواره ځناور د خپلو غارونو نه باهر راووتل او لاړل. بيا ئې په دريم ځل په اوچت اواز كښې ولوستله نو د كجورې د ډېر همره اوچتې وَنې والا يو خطرناك تور پيرې راښكاره شو هغه پيرې د وړئ جامې اغوستې وې، ما چه هغه وليدو نو د يرې نه مې بدن په لړزان شو، هغه عجيبه بُوډا اووئيل: اے عَمۡرُو! حوصله ساته، كه چرې دا په ما باندې غالب شو نو ته دا وايه چه اوس به زما ملګرې د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم په بَرَكت غالب شي!" بيا هغه عجيبه بُوډا او تور پيرې په خپل مينځ كښې په پرزَوَلو شو، عجيبه بُوډا پاتې راغې او هغه تور پيرې پرې غالب شو. په دې باندې ما اووئيل، چه اوس به زما ملګرې د لات او عُزّٰى (يعني د كافرانو د بُتانو د نومونو) په وجه غالب شي. چه هغه عجيبه بُوډا دا واوريدل نو ما له ئې په مخ داسې تيزه څپيړه راكړه چه ستركو مې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

بَخَري وكړل او ما وئيل ګني سر به رانه اوغورزيږي. ما ترې مُعافي اوغوښتله او ورته مې اووئيل چه بيا به داسې نه وايم. بيا مُقابَله شروع شوه. عجيبه بُوډا د هغه تور پيري په ګيرولو كښې كامياب شو. نو ما اووئيل: ”زما ملګرې د بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم په بَرَكت غالب شو.“ چه څنګه مې دا اووئيل نو عجيبه بُوډا په ډيره تُندئ هغه [تور پيرې] په زمكه كښې لكه د لرګي خخ كړو او بيا ئې د هغه ګيډه اوشلوله او د لالټين په شان څه څيز ئې د هغه د ګيډې نه را اووِيستو او وئې وئيل: ”اے عَمرُو! دا د ده دوكه او كفر دې.“ ما د هغه عجيبه بُوډا نه تپوس وكړو، چه ستاسو او د دې تور پيرى څه قصه ده؟ وئې وئيل: يو نصرانى [يعني عيسائي] پيرې زما دوست وو. دَ هغه دَ قوم نه هر كال يو پيرې زما سره جنګ كوي او اللّٰه تعالیٰ دَ بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم په بَرَكت ما ته فتح راكوي، بيا مونږه مخكښې لاړو په يو ځائ كښې هغه عجيبه بُوډا چه كله بې خبره اوده شو نو ما ته موقع په لاس راغله ما د هغه توره را واغسته او په ډيره تُندئ مې دَ هغه دواړو پنډو ته راخَلاصه كړه او د هغه دواړه پنډئ كټ شوې او د بدن نه جُدا شوې، هغه په چغه اووې: ”اے غَداره! تا ما سره ډيره غټه تګي وكړه!“ خو ما هغه ته د برابريدو موقع ور نه كړه، پرله پسې مې پرې ګزارونه وكړل او ټكړې ټكړې مې كړو! بيا چه كله زه خيمې ته بيرته راغلم نو هغه وِينزې اووئيل: اے عَمرُو! د پيرى سره

د مقابلې لخه وشو! ما اووئيل هغه بوډا پيريانو قتل کړو. هغې اووئيل: ته دروغ وائې، اے بې وفا! د هغه قاتِلان پيريان نه دي بلکه ته پخپله [د هغه قاتِل] ئې. دا ئې اووئيل او په اَفسوس او خفګان ئې په ژړا کښې پينځه عربي شعرونه اووئيل، د هغې ترجَمَه دا ده. (1) اے زما سترګو! تاسو په هغه بهادر شَهسَوار پسې ډيرې وژاړئ او پرله پسې اوښکې توئ کړئ (2) اے عَمْرُو! ستا په ژوند باندې افسوس دې. حالانکه ستا دوست خپل ژوند د مرګ طرف ته بوتلې دې. (3) او (اے عَمْرُو! خپل دوست د خپله لاسه) د قتل کولو نه پس به ته د (خپلې قبيلې) بَنِی زُبَيده او د کُفّارو (يعني د ناشکرو) د ډلې په مخکښې څنګه په فخر ګرځې؟

(4) زما دِ په خپل عمر قسم وي! (اے عَمْرُو!) که چرې تا واقعي د رښتياؤ جنګ کولې (يعني د ټګئ نه بغير دِ که د نرانو غوندې مقابَله کولې) نو د هغه د طرف نه به ضرور تا ته تيره توره در رسيدلې وه (او ته به ئې ختم کړې وې)

(5) (اے د هغه بوډا قاتِله!) بادشاهِ حقيقي (الله تعالیٰ) دِ تا ته (ستا د جرم بده او ذليله کوونکې بدله درکړي او تا ته دِ د هغه د طرف نه د ذِلّت او رُسوائي ژوند نصيب شي (څنګه چه تا د خپل دوست سره د ذِلّت او رُسوائي سلوک کړې دې)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرَاني)

ما په غُصّه کښې د هغې د قتل کولو د پاره ورمنډه کړه خو زه حيران پاتې شوم ځکه چه هغه زما د نظر نه داسې غائبه شوه لکه زمکه ئې چه رانښکاږي. (مُلَخَّص از لقطُ المرجان فی احکام الجان للسُّیُوطی ص ۱۴۱ نه ۱۴۳)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو وليده! چه دَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم څنګه عجيبه بَرَکتونه دي. د دې بَرَکتونو دَ حاصلولو دَ پاره او دَ دې د عادت جوړولو دَ پاره دَ دعوتِ اِسلامي په مَدَني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسُول سره د سفر کولو سعادت حاصلوئ. اِنْ شَآءَ الله تعالٰی ستاسو ټول مشکِلات به حل کيږي او د الله تعالٰی د طرف نه به ستاسو غيبي مدد کيږي.

## نيت صفا منزِل آسان

دَ عاشِقانِ رسُول يوه مَدَنی قافله ګپړوَنج (ګجرات هِند) ته ورسيده، د ”نيکئ د دعوت د علاقائي دورې“ په دوران کښې د يو شرابي سره مخامخ شو، عاشِقانِ رَسُول په هغه باندې ښه ډير اِنفِرادي کوشش وکړو، هغه چه د شنو شنو عمامو والؤ عاشِقانِ رَسُول ډير زيات د محبت او مهربانۍ انداز وليدو نو سمدستي ورسره روان شو. د عاشِقانِ رسُول د صُحبت په بَرَکت ئې د ګناهونو نه توبه وکړه، ګيره ئې پريښوده، د شنې عمامې تاج ئې په سر کړو، د مَدَني لباس اغوستو ذِهن ئې هم جوړ

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر وشي او هغه په ما درودِ پاك ونه لولي. (ترمِذی)

شو، د شپږو ورځو پورې ئې په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو سعادت حاصل کړو، او د 92 ورځو د پاره ئې په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو نِيَّت هم وکړو خو د سفر خرچه ورسره نه وه. يوه ورځ ئې د يو خپلوان سره ملاقات وشو، هغه چه د معاشرې هغه بدنام شرابي په کِیره، شنه عمامه او مَدَنی لباس کښې وليدو نو حيران پاتې شو، هغه ته اووئيل شو چه دا ټول په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو بَرَکت دې او اِنْ شَآءَالله تعالٰی که [د خرچ وغيره] بندوبست وشو نو د 92 ورځو د نور سفر کولو ئې هم پخه اراده ده، هغه خپل کس ئې اووئيل چه دَ رَقم فکر مه کوه، د 92 ورځو د سفر کولو خرچه زما د طرف نه قبوله کړه او ورسره ورسره د 92 ورځو پورې دِ د کور د خرچې هم زه ذمه وار يم. دغسې هغه "ديوانه" د 92 ورځو د مَدَني قافِلې مسافِر جوړ شو.

غیبی امداد ہو گھر بھی آباد ہو چل کے خود دیکھ لیں قافلے میں چلو
رزق کے دَر کھلیں بَرکتیں بھی ملیں لطفِ حق دیکھ لیں قافلے میں چلو

غيبي به کيږي اِمدادونه، هم آباد به شي کورونه
لاړ شئ اوګورئ پخپله، قافِلو کښې لاړ شئ
د رزق به بيرته شي درونه، شي نصيب به بَرَکتونه
رب به وکړي رَحمتونه، قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاك ونه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرَانِي)

# پينځه مَدَني ګلونه

دَ حضرت سَيّدُنا عبدُالله بن عَمْرُوبِنِ العاص رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ارشاد دي: پينځه عادتونه داسې دي چه څوك دا اختيار کړي نو په دُنيا او آخِرت کښې به نيك بخته شي. (1) ساعت په ساعت دِ لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وائي (2) چه کله په څه مُصيبَت کښې اخته شي (مثلاً بيمار شي يا ئې څه نقصان وشي يا د خفګان خبر واوري) نو اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ او لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم دِ وائي (3) چه کله هم ورته څه نِعمَت نصيب شي نو په شکرانه کښې دِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن وائي (4) چه کله يو جائز کار شروع کوي نو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم دِ وائي او (5) چه کله ګناه وکړي نو داسې دِ وائي: اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ (يعني زه د لوئي الله تعالٰی نه بخښنه غواړم او هغه ته توبه اوباسم.)

(اَلْمُنَبِّهات لِلْعَسْقَلانی ص ۵۸)

# چه څنګه دروازه هغسې خيرات

مُفَسِّرِ شَهِير حضرت مُفتی احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ فرمائي: الله تعالٰی په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم کښې د خپل اِسمِ ذات سره سره د رَحمت د دوو صفتونو بيان فرمائيلې دې څکه چه د "الله" تعالٰی په نوم مبارك کښې هَيبَت وو او په رَحْمٰن او رَحِيْم کښې رَحمت دې. د "الله" تعالٰی د نوم اوريدو سره نيکانو بندګانو هم د هغه په دربار کښې د څه عرض کولو

www.dawateislami.net

هِمَّت نه شو کولې، خو چه رَحْمٰن او رَحِیْم ئې واوریدل نو په هر مُجرِم او خطا کار کښې هم د عرض کولو هِمَّت پیدا شو او حقیقت هم دا دې چه د هغه د جلال په مخکښې څوك حَرَکت کولې شي؟ او دَ جَمال [یعني مهربانۍ] ظاهریدو په وخت کښې هر یو ناز کولې شي. په "تفسیرِ کبیر شریف" کښې د دې لاندې دا **عجیبه حِکایت** لیکلې شوې دې، چه یو سوالګر د یو غټ مالدار یوې لوئې دروازې ته راغې او څه سوال ئې وکړو، د کور نه معمولی څیز راغې، فقیر هغه واغستو او لاړو. بله ورځ ئې یوه مضبوطه کوداله راوړه او دروازه ئې [دَ بیخ نه] کنستل شروع کړه، مالِك ترې تپوس وکړو، دا څه کوې؟ فقیر ورته اووئیل: "یا خو خیرات د دَروازې لائق کړه یا دروازه د خیرات لائق کړه" یعني چه دروازه دِ دومره غټه جوړه کړې ده نو پکار ده چه د غټې دروازې نه خیرات هم غټ را اوځي ځکه چه خیرات او ورکړه د دروازې او د نوم لائق پکار دې. مونږ عاجِز ګنهګاران بندګان هم دا عرض کوو: "اے مولٰی! عَزَّوَجَلَّ مونږ ته زمونږه لائق مه راکوې بلکه دَ خپل جُود و سخا لائق راعطا کړې. بیشکه مونږ ګنهګار یو خو ستا غَفّاري زمونږ د ګناهونو نه ډیره فراخه ده. (تفسیر نعیمی پارہ اول ص ٤٠)

گُنَہِ گدا کا حساب کیا وہ اگرچہ لاکھ سے ہیں سوا
مگر اے عَفُوّ تِرے عَفْو کا نہ حساب ہے نہ شمار ہے

ګناهونه که زما وي د لکونو په حِساب
اے رَحِيم ستا د بخښنې نه شُمار شته نه حساب

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! الله تعالیٰ يقِيناً رَحْمٰن او رَحِیْم دې څوك چه د هغه په رحمَت نظر ساتي او د هغه نه ښه ګمان لري اِنْ شَآءَالله تعالیٰ په دواړه جهانه كښې به كامياب وي، هغه د الله تعالیٰ د رَحمت نه كله هم محرومه نه شي پاتې كيدې. چنانچه په تفسيرِ نعيمي سيپاره اوَّل ص۳۸ كښې دي.

## دَ رَحمَت نه ډك حكايت

**دوه** ورونړه وو، يو ديندار او بل بدكاره. كله چه بدكاره مړ كيدو نو هغه پرهيزګار ورور ورته اووئيل: "اوګوره تا ته ما ډير نصيحت كړې وو خو ته د ګناهونو نه منع نه شوې، اوس وايه ستا به څه حال وي؟" هغه جواب وركړو: " كه چرې د قيامت په ورځ زما ربّ تعالیٰ زما فيصله زما مور ته حواله كړي نو زما مور به ما چرته ليږي دوزخ ته كه جنّت ته؟" پرهيزګار ورور ورته اووئيل چه مور خو به دِ واقعي جَنَّت ته ليږي. ګنهګار جواب وركړو: "زما ربّ تعالیٰ زما د مور نه هم زيات مهربانه دې." دا ئې اووئيل او وفات شو. مشر ورور په خوب كښې هغه ډير زيات خوشحاله وليدو، دَ بخښنې تپوس ئې ترې وكړو؟

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نيزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

وئي وئيل: د مرگ د وخت د هغه خبرې په وجه زما ټول گناهونه معاف کړې شو. دَ الله تعالىٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

ہم گنہگاروں پہ تیری مہربانی چاہیے
سب گُنہ دُھل جائیں گے رَحمت کا پانی چاہیے

د شعر ترجَمه: مونږ گنهکارانو ته ستا مهرباني پکار ده، که ستا رَحمت رانازِل شي نو زمونږ ټول گناهونه به ووينځلې شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! واقعې دَ الله تعالىٰ رحمت ډير لوئ دې د ژبې نه وَتلې "يو لفظ" دَ بخښنې سبب هم جوړيدې شي او د هلاکت سبب هم جوړيدې شي، لکه اوس چه تاسو په دې حکايت کښې واوريدل چه يوې خبرې د هغه گنهگار بيړئ پورې ويسته. دغه رنگ د هلاکت مثال داسې دې که چرې څوك صراحةً [يعني واضِحه] د کفر يوه خبره د خُلې نه اوباسِي او بغير د توبې نه مړ شي نو د هميشه د پاره به جَهَنَّم ته لاړ شي.د هلاکت نه د ځان بچ کولو او د بخښنې دَ حاصلولو بهترينه ذريعه د تبليغِ قرآن و سُنَّت عالمگير غيرسياسی تحريك دعوتِ اسلامی په مَدَنی قافِلو کښې د عاشِقانِ رَسُول سره دَ سُنَّتو نه ډك سفر هم دې. که چرې دَ سفر نِيَّت په اِخلاص

www.dawateislami.net

سره وشي او په څه وجه سفر نصيب نه شي نو بيا هُم اِنْ شَآءَالله تعالىٰ كامیابی ده. په مَدَنی قافِلو کښې د سفر د نِيَّت کوونکي یو خوش نصیبه د ایمان نه ډك حکایت واورئ او خوشحاله شئ. چنانچه

## د باغ تهال

د حیدرآباد (بابُ الاسلام سندهـ) په یوه محلّه کښې د نیکئ د دعوت د علاقائي دورې نه یو ماډرن [یعني فیشني] ځلمې مُتَاَثِّره‌شو او جُمات ته راغي. په بیان کښې په مَدَني قافِلو کښې د سفر ترغیب ورکړې شو نو هغه په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو د پاره نوم ولیکلو. په مَدَنی قافِله کښې د هغه سفر کولو ته یو څو ورځې پاتې وې چه وفات شو. د کور په خلقو کښې یو کس هغه په خوب کښې ولیدو چه په یو شین باغ کښې په تهال کښې ځانګي او خوشحاله دې. خوب لیدونکي تري تپوس وکړو چه دلته څنګه راغلي ئې؟ جواب ئې ورکړو: ”د دعوتِ اسلامی د مَدَني قافِلې سره راغلي یم د الله تعالیٰ لوئ کَرَم وشو، زما مور ته اوواېه چه هغه زما غم نه کوي، زه دلته په ډیر ارام [یعني سکون] کښې یم.“

خُلد میں ہوگا ہمارا داخِلہ اِس شان سے یا رسولَ اللهﷺ کا نعرہ لگاتے جائیں گے
داخلیږو به جَنَّت ته په دا شان
لګوو به مونږ نعره د یَارَسُولَ الله

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّي)

دَ غیرِ نبي خوب لیدل په شریعت کښې دلیل نه دې خو مونږ له د الله تعالیٰ دَ رَحمت اُمِّید ساتل پکار دي او د دې سره سره دَ الله تعالیٰ د پټ تدبیر نه یریدل هم پکار دي.

دا هر څه د الله تعالیٰ په مَشِیَّت موقوف دي که چرې اوغواړي نو په یوه ګناه اِنسان ونیسي او که اوغواړي نو په یوه نیکۍ ئې اوبخښي. یا صِرف په خپل کرم هم داسې مهرباني وکړي. لکه څنګه چه په سیپاره 24 سُوْرَۃُالزُّمَر اٰیت 53 کښې **الله** تعالیٰ ارشاد فرمائي:

قُلْ یٰعِبَادِیَ الَّذِیْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰۤی اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِیْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴿۵۳﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: تاسو اوفرمائي اے زما هغه بندګانو چا چه په خپلو ځانونو ظلم کړې دې، د الله تعالیٰ د رَحمت نه مه نا اُمیده کیږئ بیشکه الله تعالیٰ ټول ګناهونه بخښی. بیشکه هُم هغه بخښونکې مهربانه دې.

د بُخاری شریف د حدیث دا مضمون دې چه

## د سلو کسانو قاتِل اوبخښلې شو

د بني اِسرائیلو یو کس یَو کم سَل مرګونه کړي وو، د یو راهِب (یعني دُنیا پرېښودونکې یو عیسائي عبادت ګزار) خوا ته لاړو او تپوس ئې ترې وکړو چه آیا زما په شان مُجرِم د پاره د توبې څه ګُنجائش

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاك ولوستل دَ قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي . (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

شته دې؟ راهِب هغه مایوسه کړو نو هغه راهِب ئې هم قتل کړو. خو بیا پښېمانه شو او دَ خلقو نه ئې د توبې د طریقې تپوس کولو. آخِر چا ورته اووئیل چه فلانکي کلي ته لاړ شه (هلته د الله تعالیٰ یو وَلِي اوسیږي هغوئي به تا ته څه لار وښائي) نو هغه [قاتِل] دَ هغه [ولي د کلي] طرف ته روان شو خو په لاره کښې بیمار شو، چه کله مرګ ته نِزدې شو نو خپله سینه ئې هغه کلي طرف ته کړه او وفات شو. بیا د هغه د وړلو په باره کښې د رَحمت او د عذاب په فرښتو کښې اِختلاف پیدا شو. د زمکې کومه حصّه چه د مړي او د کلي د مینځه وه الله تعالیٰ هغه حِصّې ته د راغونډېدو حکم وکړو چه مړي ته رانِزدې شه او د کوم ځائ نه چه راغلې وو هغه ځائ ته ئې د لرې کیدو حکم وکړو بیا **الله** تعالیٰ د ناپ [یعني د ګز کولو] حکم اوفرمائیلو، نو کوم کلي ته چه دې روان وو هغه کلي ته یو لویشت نِزدې وو. په دې وجه **الله** تعالیٰ هغه اوبخښلو. (صحیح بخاری حدیث ۳۴۷۰ ج۲ص۴٦٦) دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامی ورونړو! معلومه شوه چه د اولیاءِ کرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی په بارګاه کښې حاضِري، د هغوئي دَ علاقې تعظیم کول او هغوئي د خپل رُوح قبله جوړول ډیر غوره عمل دې. بس دَ **الله** تعالیٰ په رحمت باندې خوشحاله شئ. هغه ربّ تعالیٰ چه دَ سلو کسانو قاتِل صرف په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر وشو او هغه په ما دُرودِ پاك ونه لوستو هغه جفا وكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

خپل رَحمت اوبخښى نو كه چرې د سُنَّتو د زده كړې د پاره د عاشِقانِ رسُول سره په **مَدَنى قافِله** كښې دَ سفر كولو نِيَّت كوونكي خوش نصيبه ځلمي باندې مهرباني وكړې نو دا هم دَ هغه رَحمت او رحمَت دې او الله تعالٰی ته په هر څيز باندې قُدرت حاصل دې. زما دا مَدَنى مشوره ده چه د دعوتِ اسلامى د مَدَنى ماحول سره هر وخت خپل تعلق مضبوط ساتئ اِنۡ شَآءَالله تعالٰی په دواړو جهانو كښې به مو بيړئ پورپوَځي. د **دعوتِ اسلامى** د مَدَنى ماحول د بَرَكتونو به څه وائي. يقيناً د عاشِقانِ رَسُول صُحبَت اثر كوي. ژوند په خپل ځائ، خو ځيني مرې هُم قابلِ رَشك وي. دَ يَو داسې قابلِ رشك مرګ ذِكر واورَئ او رَشك وكړئ.

## قابلِ رَشك مرګ

**محمّد** وسيم عطّارى (د باب المَدينه نارتهـ كراچئ اوسيدونكې) به د سګِ مدينه عُفِیَ عَنۡهُ خوا ته راتلو، د غريب لاس كينسر شو. ډاكټرانو ترې لاس پريك كړو. د هغه د علاقې يو اسلامى ورور دا خبره وكړه، چه وسيم بهائى د درد د سختئ په وجه سخت په تكليف كښې دې. زه د تپوس د پاره هسپتال ته ورغلم او تَسَلّي مې وركړه چه، ديوانه! كه څ لاس دِ كټ شو د دې غم مه كوه، اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ ښې لاس خو دِ بچ دې او د ټولو نه لوئې سعادت دا دې چه اِنۡ شَآءَالله تعالٰی ايمان دِ هم

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

سلامت دې. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ما ته هغه ډېر صبرناك ښکاره شو، صرف مُسکې مُسکې کيدو، تر دې چه د بِسترې نه راپاځيدو او زما د رُخصتولو د پاره د بهره پورې راغلو. په قلاره قلاره ئې د لاس تکليف ختم شو خو د غريب بل امتحان شروع شو، او هغه دا چه په سينه کښې ئې اوبه وشوې. شپې او ورځې ئې په درد او تکليف کښې تيريدلې. آخِر يوه ورځ ئې تکليف ډېر زيات شو. ذِکرُالله ئې شروع کړو. توله ورځ ئې په کوټه کښې د الله، الله انګازې وې. طبيعت ئې ډېر زيات خراب شوې وو. ډاکټر له د بوتلو دَ پاره پرې ډېر کوشش وکړې شو خو اِنکارئې وکړو. نيا [يعني د پلار مور] ئې د محبت او شفقت په وجه په خپله غيږه کښې خملولو.په ژبه ئې کلِمۂ طَيّبه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جاري شوه او د ۲۲ کالو محمد وسيم عطاری وفات شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ

چه کله ئې مرحوم د غسل د پاره وړلو نو ناڅاپه ئې څادر د مخ نه لرې شو، د مرحُوم مخ د ګلاب د ګل په شان ښائسته شوې وو. د غسل نه پس ئې مخ نور هم ډېر ښائسته شو. د دفن کولو نه پس عاشِقانِ رسُول نعتونه وئيل، د قبر نه ئې داسې خوشبوئ راپورته کيده چه دِماغ ئې خوشبوداره کول خو چه په چا خوشبو ولګيده په هغه ولګيده. د کور په خلقو کښې چا د مرګ نه پس محمّد وسيم عطّاری

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمُعې په ورځ درود شریف لولي زه به د قِیامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

په خوب کښې په ګلونو ښائسته شوي کوټه کښې ولیدو. تپوس ئې ترې وکړو چه چرته اوسیږې؟ په لاس ئې یوې کوټې ته اِشاره وکړه وئې وئیل: "دا زما کور دې دلته زه ډیر خوشحاله یم." بیا په یو ښائسته بستره باندې څملاستو. د مرحوم والد صاحب په خوب کښې خپل ځان د وَسیم عطّاری د قبر په خوا کښې ولیدو. ناڅاپه قبر اوشلیدو او مرحوم شنه عمامه په سر او سپین کفن اَغوستې بهر را اووَتو، څه خبرې ئې وکړې او بیا قبر ته داخل شو او قبر بیا بند شو. **د الله تعالٰی دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

**یا الله** عَزَّوَجَلَّ زما، د مرحوم او د **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّت مغفرت اوفرمائې. او مونږ ټولو ته د دعوت اسلامی په مَدَنی ماحول کښې اِستقامت راکړې او د مرګ په وخت مونږ ته ذِکر و درود او کَلِمَهٔ طیبه وئیل نصیب کړې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

عاصی ہوں، مغفرت کی دعائیں ہزار دو نعتِ نبی سنا کے لحد میں اُتار دو

راته وکړئ دُعاګانې زما ډیر دي ګناهونه
چه لحد کښې مې کیږدئ نو راته واوروئ نعتونه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك وليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

## بِسْمِ اللّٰهِ وكړه وئيل منع دي

ځينې خلق داسې وائي: "بِسْمِ الله وكړه!" "راشه جی بِسْمِ الله!" "ما بِسْمِ الله وكړه." سوداګر خلق چه اوله سودا په ورځ کښې کوې هغې ته عموماً "بَونی" وائي خو ځينې خلق دغې ته هم "بِسْمِ الله" وائي مثلاً "زما خو نن تر اوسه بِسْمِ الله نه ده شوې" د کومو جُملو مثالونه چه وړاندې کړې شو دا ټول غَلَط دي. دغه رنګ که د ډوډۍ خوړلو په وخت کښې څوك راشي نو اكثر ډوډۍ ته ناست كس هغه ته وائي راځه ته هم اوخوره، نو عام طور داسې جواب وركول شي، "بِسْمِ الله" يا داسې وائي: "بِسْمِ الله وكړئ." **بهارِ شريعت** جلد3حصه 16ص 379 کښې دي چه "په دې موقع داسې بِسْمِ الله وئيل علماؤ سخت **منع** کړې دي." خو داسې وئيلې شي چه، بِسْمِ الله اووائې او خورئ. بلکه په داسې موقع دَ دُعا جُمله وئيل بهتر دي مثلاً بَارَكَ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ يعني الله تعالیٰ دِ مونږ او تاسو ته بَرَکت راکړي. يا د ئې په خپله مورنۍ ژبه کښې وائي چه، **الله** تعالیٰ دِ تاسو ته بَرَکت درکړي.

## بِسْمِ الله وئيل كله كُفر دي

د **حرام** او ناجائز كار نه مخكښې بِسْمِ الله بالكل، بالكل او بالكل مه وائي. په "فتاوٰی عالمګیری" کښې دي دَ شراب څښلو په وخت او د زِنا كولو په وخت بِسْمِ الله وئيل كفر دي. (فتاوٰی عالمګیری ج۲ص۲۷۳)

www.dawateislami.net

## فرښتې به مسلسل نيکئ ليکي

**د حضرت** سَيِّدُنا ابو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې چه **سرکارِمدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: اے ابو هريره (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ)! چه کله ته اودس کوې نو بِسۡمِ للهِ وَالۡحَمۡدُلِلّٰه وايه، تر څو پورې چه ستا اودس وي د هغه وخته پورې به ستا فرښتې (يعني کِراماً کاتِبِين) ستا د پاره مسلسل نيکئ ليکي." (طبرانی صغیرج۱ص ۷۳ رقم الحدیث ۱۸٦)

## په هر هر قدم باندې يوه نيکي

څوك چه په يو څناور [اس وغيره باندې] د سوريدو په وخت کښ بِسۡمِ الله او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه اووائي نو د هغه څناور په هر **قدم** به د هغه سواره په حق کښ يوه **نيکي** ليکل شي. (تفسیر نعیمی ج اول ص ٤٢)

## په کشتئ کښ ډيرې ډيرې نيکئ

**څوك** چه په **کشتئ** کښ د سوريدو په وخت بِسۡمِ الله او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه ولولي تر څو چه هغه په هغې کښ سور وي د هغه د پاره به نيکئ ليکل کيږي. (تفسیر نعیمی ج اول ص ٤٢)

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم فَضائِل دومره ډير دي چه څوك ئې واوري نو زړه ئې غواړي چه هر وخت مې "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم" لوستلې خو دا سعادت صرف د رَبُّ الۡعِزَّت عَزَّوَجَلَّ په

مهربانئ نصيب كيدې شي. د **الله** عَزَّوَجَلَّ په عطا سره د **دعوتِ اسلامی** په مَدَنی ماحول كښ د اوسيدلو او په يو بل د **اِنفِرادي كوشش** كولو په ذريعه هم كه د **الله** تعالیٰ مهربانی وشي نو دَ **بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم** د وئيلو عادت جوړيدې شي. يقيناً دَ دِين په تبليغ او اِشاعت كښ د **اِنفِرادي كوشش** ډير زيات عمل دَخَل دې، **تر دې چه زمونږه خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **او نورو ټولو پيغمبرانو** عَلَيْهِمُ السَّلَام **دَ نيكئ د دعَوت په كار كښ اِنفِرادي كوشش كړي دې. اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ** عَزَّوَجَلَّ **د دعوتِ اِسلامی مُبَلِّغِين هم د انفرادي كوشش په سُنَّت باندې د عمل كولو په ذريعه د خلقو په زړونو كښ د عِشقِ رسُول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **شمع روښانه كولو كښ مشغول دي.** دَ هغوئي د انفرادي كوشش د بَرَكتونو نه ډك خطونه هم كله كله زما د نظر نه تير شي. چنانچه

## په ډرائيور اِنفرادي كوشِش

**يو** عاشقِ رسول ما ته مكتوب [يعني لِيك] را كړې وو د هغې خلاصه په خپل انداز او الفاظو كښ د عرض كولو كوشش كووم. "د دعوتِ اسلامي مَدَنی مركز **فيضانِ مَدِينه** (بابُ المَدينه كراچئ) ته د پنجشنبې [يعني د زيارت] په ورځ كيدو والا هفته واره د سُنَّتو نه ډكه اجتماع كښ د شِركت د پاره د مختلف علاقو نه راغلي مخصوص بسونه د بيرته تلو په اِنتِظار كښ چه كوم ځائ ودريږي، په هغه ځائ چه تيريدم نو څه ګورم چه په يو خالی بس كښ سندرې غږيږي او ډرائيور ناست

دې چرس څښنې، زه ورغلم او دَ ډرائيور سره مې د محبّت په انداز کښې ملاقات وکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د ملاقات بَرَکتونه ډير زر ښکاره شو او هغه سندرې بخپله بندې کړې او د چرس هغه سګريټ ئې هم مړ کړو. ما په مُسکا مُسکا هغه ته د سُنَّتو نه د ډك بيان کيسټ "قبر کی پہلی رات" ورکړو هغه په هم هغه وخت په ټيپ ريکارډ کښې ولګولو، زه هم ورسره په خپله اوريدلو ته کښيناستم ځکه چه نورو ته د اوريدو فائده منده طريقه هم دا ده چه بخپله ئې هم ورسره بنده واوري. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په هغه ډير ښه اثر وشو، ډير زيات اويَريدو او د ګناهونو نه ئې توبه وکړه، د بس نه راکوز شو او زما سره راغې په اجتماع کښې کښيناستو."

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان کيسټ په تحفه کښې ورکوئ

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو وليده! د اِنفِرادي کوشش څومره فائده وي! لِهٰذا په هر مسلمان باندې اِنفرادي کوشش کول او هغوئې ته د لمونځ دعوت ورکول پکار دي. دَ اجتماع وغيره د پاره که په بس يا ويګن وغيره کښې راځئ نو ډرائيور او کنډيکټر ته هم د شرکت درخواست کول پکار دي.که چرې بِالفرض څوك دَ راتلو دَ پاره نه تياريږي نو د بيان کيسټ ورته پيش کړئ او د اَوريدو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

درخواست ورته وکړئ، چه هغه ئې واوري نو هغه ترې واپس واخلئ او بل ورته ورکړئ او چه څومره کیدې شي د بیان کیستې ورته ورکول او په بدله کښې ترې د سندرو کیستې اخستل پکار دي او د سندرو په ځائ پکښې بیانونه اچول پکار دي او دغه شان دا کیستې مخکښې خورول پکار دي. نو دغه رنګ به څه نه څه د ګناهونو نه ډکې کیستې اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ختمې شي. اِنفِرادي کوشش او پوهه کول پرینښودل نه دي پکار. اَللّٰهُ رَبُّ الۡعٰلَمِیۡنَ جَلَّ جَلَالُهٗ په سیپاره ۲۷ سُوۡرَةُ الذّٰرِیٰت آیت ۵۵ کښې ارشاد فرمائي،

وَّذَكِّرۡ فَاِنَّ الذِّكۡرٰی تَنۡفَعُ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۵۵﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او پوهه کول کوئ ځکه چه پوهه کول مسلمانانو ته فائده ورکوي.

## که خوك مَني او که نه ستا ثواب وشو

که خوك زمونږ خبره نه مَني نو بیا به هم اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ زمونږه د نیکئ د دعوت ورکولو ثواب کیږي. چنانچه حُجَّةُ الۡاِسۡلام حَضرت سَیِّدُنا اِمام محمّد غزالی عَلَیۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الۡوَالِی په مکاشَفَةُ القُلُوب کښې فرمائي: حضرتِ سَیِّدُنا موسیٰ کَلِیمُ الله عَلَیۡهِ السَّلَام عرض وکړو: اے الله عَزَّوَجَلَّ څوك چه خپل وررور را اوبلي، هغه ته د نیکئ دعوت ورکړي او دَ بدئ نه ئې منع کړي د هغه څه جزا ده؟ وئې فرمائیل: زه د هغه په هره خبره باندې د یو کال د

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف ولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

عبادت ثواب ليکم او هغه ته د جَهَنَّم په سزا ورکولو کښ ما ته حيا راځي. (مکاشَفَةُ القلوب ص ٤٨)

## د ټولې زمکې د بادشاهئ نه غوره

که ستاسو په اِنفِرادي کوشش کولو ځوك د مونځونو او دَسُنَّتو په لاره روان شو، نو ستاسو بيړئ به هم پوريوځي،ځنګه چه د رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد دي: ”که الله تعالٰی ستا په ذريعه يو کس ته هدايت ورکړي نو دا ستا د پاره د ټولې دُنيا د بادشاهئ په لاس راتلو نه غوره ده.“ (جامِعُ الصَّغِير ص ٤٤٤ حديث ٧٢١٩)

يو ځل حضرت سَيِّدُنا خالِد بن وليد رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته يوځو مجوسيانو [يعني د اور عبادت کوونکو] عرض وکړو چه تاسو (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ) مونږ ته څه داسي نښه وښائي چه د هغې په وجه مونږ ته د اسلام حَقانِيَّت معلوم شي؟ نو هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ زَهرِقاتِل را اوغوښتل، بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم ئي ولوستله او هغه زهر ئي اوخوړل. د بِسمِ الله په بَرَکت هغه زَهرِقاتِل په هغوئي باندې هيڅ اثر ونکړو. دا مَنظر چه مجوسيانو وليدو نو بې اختياره ئي اووئيل چه دينِ اسلام حق دې. (تفسير کبير ج اول ص ١٥٥)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه د خوراك څښاك نه مخکښ بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم لوستلو کښ چه څنګه د آخِرت عظيم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف ولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمّال)

ثوابونه دي هم دغسې په دُنيا کښې هم د دې دا فائده ده چه که د خوراك څښاك په څه څيز کښې چرې مُضِر (يعني نقصان ورکوونکې) څه څيز شامل وي، نو هغه به اِنْ شَآءَالله تعالٰی نقصان نه شي کولې. په حضرت سَيِّدُنا خالد بِن وليد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ باندې د **زهر د اثر نه کولو** دا واقعه د الفاظو د فرق سره په نورو کتابونو کښې هم موجوده ده. دا هم کيدې شي چه دَ يو ځل نه زيات ځله دا کرامت ظاهر شوې وي. چنانچه

## خوفناك زهر

**حضرت** سَيِّدُنا خالد بن وليد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ چه کله په مقامِ "حيره" کښې د خپل لښکر سره پړاؤ وکړو نو خلقو عرض وکړو: يا سَيِّدي! مونږ ته انديښنه ده چه چرې دا عَجَميان تاسو ته **زَهر** در نه کړې؟ ځکه تاسو احتياط کوئ. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: راوړئ چه زه ئې اوګورم چه د عجميانو **زهر** څنګه وي؟ نو خلقو هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) ته هغه زهر راوړل، هغوئي بِسمِ الله اوويله او زهر ئې اوخوړل. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته يو ذرّه نقصان هم ونه رسيدو. او د "کلبی" په روايت کښې داسې دي، چه يو **عيسائي پادري** چه د هغه نوم عبدُالمَسيح وو، هغه داسې زهر راوړل چه د هغې دَ خوړلو نه يوه ګينټه پس مرګ يقيني وي، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغه نه هغه زهر واغستل او د هغه په مخکښې ئې بِسْمِ اللّٰهِ وَ بِاللّٰهِ رَبِّ الْاَرْضِ وَالسَّمَآءِ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ دَاءٌ

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه جفا وکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

اووئيل او زهر ئې اوخوړل، دا مَنظر چه عبدُالمَسيح وليدو نو خپل قوم ته ئې اووئيل: "اے زما قومه! ډيره د حيرانتيا خبره ده چه دومره خطرناك زهر ئې اوخوړل او دا بيا هم ژوندې دې، اوس ښه خبره دا ده چه دَ دوئي سره صُلح وکړې شي، ګني د دوئي فتح يقيني ده." دا واقعه دَ اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په دورِ خلافت کښې شوې وه. (مُلَخَّص حُجَّةُ اللهِ عَلَی الْعَالَمِين ج۲ ص ۶۱۷) دَ الله تعالىٰ دِ په هغوئې رَحمَت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږ بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو وليده! چه په سَيِّدُنا خالِد بِن وليد رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ باندې د الله تعالىٰ څومره خاص کرم وو او يقيناً بِإِذنِ اللهِ تَعَالٰی دا د هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ کرامت وو. دَ کرامت ډير قِسمونه دي چه په هغې کښې يو قِسم "د مُهلِکاتُو (يعني هلاك کوونکې څيزونو) اَثر نه کول" هم دي. په اولياءُ الله رَحِمَہُمُ اللہُ تَعَالٰی باندې دَ زَهرو د اثر نه کولو واقعات منقول دي، چنانچه

## اور وو، که باغ وو؟

يو بدعقيده بادشاه يو بزرګ رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه دَ خپلو ملګرو سره ګرفتار کړو او ورته ئې اووئيل چه کرامت وښايه ګني د ملګرو سره به دِ شهيد کړو هغوئې رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه دَ اوښ د پـچو طرف ته اشاره وکړه او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف ولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

وئې فرمائيل چه دا راوړئ او اوګورئ. چه څه دي؟ چه خلقو هغه پـَچې را واغستې او وئې کتلې نو هغه **خالص دَ سرو زرو ټکړې** وې بيا هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ يوه خالي پياله را واغسته او تاو ئې کړه بيا ئې نسکوره کړه او بادشاه ته ئې ورکړه نو هغه د اُوبو نه ډکه وه او د نسکورَوَلو باوجود د هغې نه يو څاڅکې اوبه هم توئ نه شوې. دا دوه کرامتونه ئې چه وليدل نو **بدعقيده بادشاه** اووئيل چه دا ټوله نظر بندي ده او جادو دې. بيا بادشاه د اور بَلَوَلو حکم وکړو.کله چه دَ اور لَمبې اوچتې شوې، نو هغه بزرګ رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ او د هغوئي ملګري اور ته کوز شو او د ځان سره ئې ورُوکې شهزاده هم يوړو. بادشاه چه کله خپل بچې په اور کښې وليدو نو ډير بې قراره شو، لږ ساعت پس ئې شهزاده د بادشاه په غيږه کښې په داسې حال کښې واچوو، چه د هغه په يو لاس کښې **منړه** وه او په بل لاس کښې ئې **انار** وو. بادشاه ترې تپوس وکړو: بچيه! ته چرته تلې وې؟ هغه اووئيل، چه زه يو باغ ته تلې ووم. دا ئې چه وليدل نو د **ظالِم او بدعقيده بادشاه** درباريانو اووئيل چه د دې کار هيڅ حقيقت نشته (دا جادو دې) بادشاه اووئيل، که ته دَ زهرو دا پياله وڅښې نو زه به تا رښتينې اومنم. هغه بزرګ رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بيا بيا د زهرو هغه پياله وڅښله، هره پيره به د زهرو د اثر په وجه د هغه بزرګ رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ صِرف جامې شليدې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف ولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

خو دَ هغوئي په ذات باندې د زهرو هيڅ اثر ونه شو. (ملخص از حُجَّةُ الله على العٰلمين ج٢ ص٦١١) دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

فانوس بن کے جس کی حفاظت "ہَوا" کرے
وہ شَمْع کیا بُجھے جسے روشن خدا کرے

د شعر ترجَمه: کومه شمعَ چه الله روښانه کړې او د هغې د حفاظت د پاره پخپله هوا فانوس جوړ شي نو هغه شمع به څنګه مړه شي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! بې شکه د اولياءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی ډير لوئي شان دې او د هغوئي د کراماتو به څه وائي! د اولياءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی غلامي د تبليغِ قرآن و سُنَّت عالمګير غير سياسی تحريك دعوتِ اسلامی ښکاره ننبه ده. د دې سره تَعَلُّق لرونکو باندې هم د ربِّ کائنات عَزَّوَجَلَّ داسې داسې احسانات کيږي چه عقلونه ورته حيران پاتې شي، چنانچه

## حيرانوونکي واقعه

دَ اتوار په ورځ ٢٦ رَبيعُ الاوَّل ١٤٢٠ھ بمطابق 11-07-1999 د غرمې په وخت کښې د پنجاب د مشهور ښار **لاله موسیٰ** په يو مصروف سړك باندې يو ترالر د دعوتِ اسلامی يو مُبَلِّغ او ذمّه دار (د محلّه اسلام پوره لاله موسیٰ اوسيدونکې) **محمد مُنير حُسين عطّاري** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ډير بد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

اوچقوَلو، تر دي چه د هغوئي د خیتي نه بره او لاندي حصي جُدا جُدا شوي. خو عجیبه خبره ده چه هغه بیا هم ژوندي وو او زیاته د حیرانتیا خبره دا وه چه حَوَاس [یعني سوچ اوفِکر] ئي بالکل صحیح وو او په اوچت اواز ئي اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَارَسُوْلَ الله او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وئیل. دَ لاله موسیٰ د اسپتال د ډاکټرانو په وینا ئي هغه د ګجرات ښار عزیز بهټي هسپتال ته یوړو چا چه هسپتال ته ورلو دَ هغه اسلامی وروړ دا په قَسَم سره بیان دي چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د محمد منیر حُسین عطاری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ په ژبه په تهوله لار دَغه رنګ په اوچت اواز د درود و سلام او کَلِمَهٔ طَیِّبَه وظیفه جاری وه. دا مَدَنی منظر ئي چه ولیدو نو ډاکټران هم ډیر زیات حیران شو چه دا څنګه ژوندي دي! او فِکر ئي دومره برابر دي چه په اوچت اواز باندي درود و سلام او کَلِمَهٔ طَیِّبَه وائي! د ډاکټرانو وینا ده چه مونږ په خپل ژوند کښ اول ځل داسي د حوصلي والا او د کمال خاوند ولیدو. لږ ساعت پس هغه خوش نصیبه عاشقِ رسول محمد مُنیر حُسین عطّاری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښ په ډیره عاجزئ او بي قرارئ داسي فریاد وکړو.

یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړئ!

یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما مدد وکړئ!

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك وليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

يَا رَسُوْلَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما معاف کړئ!

د دې نه پس ئې په اوچت اواز لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اووئيل او شهيد شو. آو جی! چه کوم مسلمان په حادِثه کښې وفات شي هغه شهيد دې. دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

واسِطہ پیارے کا ایسا ہو کہ جو سُنّی مرے ‏ ‏ ‏ یوں نہ فرمائیں ترے شاھِد کہ وہ فاجِر گیا

د شعر ترجَمه: يا الله چه هر يو سُنّي مري نو د خوږ نبي په خاطِر داسې مرګ ورکړې چه ستا ګواه فرښتې دا ونه فرمائي چه دا فاجِر او ګنهګار مړ شو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ‏ ‏ ‏ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سحر د لمانځه د پاره پاڅول سُنَّت دي

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! دا واقعه په هغه ورځو کښې مختلفو اخبارونو شائع کړې وه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ شهيدِ دعوتِ اسلامی محمد منير حسين عطاری رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دعوتِ اسلامی ذِمَّه دار مُبَلِّغ وو او د حادثې نه يوه ورځ مخکښې د عاشِقانِ رسُول د سُنَّتو د تربيت د مَدَني قافِلې سره د سفر نه بيرته راغلې وو. مرحوم به هره ورځ صَدائے مدينه هم لګوله. دَ دَعوتِ اسلامی په مَدَنی ماحول کښې د سحر د لمانځه د پاره رابيداروَلو ته "صَدائے مدينه" وائي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ بې شميره خوش نصيبه اسلامی ورونړه دا سُنَّت ادا کوي. آو جی! د سحر

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف ولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

د لـمانځه د پاره مسلمانان رابیدارَوَل سُنَّت دي. ځکه چه (د بَنُو ثَقِیف یو صحابی) حضرت سَیِّدُنا ابو بکره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: زه دَ سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د سحر د لـمانځه د پاره اووَتم نو خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چه د کوم اوده کس په خوا تیریدلو هغه ته به ئي د لـمانځه غږ کولو یا به ئي په خپله ښپه مبارکه خوزَوَلو.

(ابوداؤد شریف ج۲ص۳۳رقم الحدیث ۱۲۶٤)

## څوك په ښپه خوزَوَل کولې شي؟

کوم خوش نصیبه چه ”صَدائے مدینه“ لګوي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه د سُنَّتو دَ ادا کولو ثواب مومي. یاد ساتئ په ښپه باندې د خوزَوَلو هر یو ته اِجازت نشته. صرف هغه بزرګ په ښپه خوزَوَل کولې شي، د چا په ښپه خوزَوَلو چه اوده کس نه خفه کیږي. او که څه شرعی رُکاوټ نه وي نو د راپاخولو د پاره په خپلو لاسو (د اوده کس) ښپې چاپې کوَلو کښې باك نشته. یقیناً که چرې زمونږ خوږ نبی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل یو غلام په خپله مبارکه ښپه اوخوزَوي نو د هغه اُوده قِسمَت به رابیدار کړي او که د یو خوش نصیبه په سر، سترګو یا سینه باندې خپل قدم مبارك کیږدي نو قَسَم په خدائے! د دوارو جهانو آرام او سکون به ورکړي.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف ولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه راليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكئ ليكي. (تِرمِذِی)

ایک ٹھوکر میں اُحُد کا زلزلہ جاتا رہا رکھتی ہیں کتنا وقار اللہُ اکبر ایڑیاں

یہ دِل یہ جگر ہے یہ آنکھیں یہ سر ہے جدھر چاہو رکھو قَدم جانِ عالَم

په يو توكر لاړه د اُحُد زلزله

لرِي خومره عِزّت اَللّٰهُ اَكبر دا قدم

دا زړه دا ځيګر دي دا سترګي دا مي سر دي

چه غواړئ په كوم ځائ كيږدئ قدم جانِ عالم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مرګ په وخت كښې د كَلِمَه لوستلو فضيلت

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ داسې معلوميږي چه د محمد مُنير حسين عطاری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ د دعوتِ اسلامی خدمت رنګ راوړو او هغوئي ته په آخِري وخت كښې كَلِمَه نصيب شوه، او چا ته چه دَ مرګ په وخت كښې كَلِمَه نصيب شي د هغه د آخِرت بيړئ پوريوَتَه ځكه چه د نَبِيّ رَحمَت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دي: ”دَ چا چه آخِري كلام لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ شو نو هغه به جَنَّت ته داخِل شي.“ (ابوداؤد شريف ج٣ص١٣٢ حديث ٣١١٦)

فضل و کرم جس پر بھی ہُوا اُس نے مرتے دَم کَلِمہ

پڑھ لیا اور جنّت میں گیا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

د شعرترجمه: فضل و كَرَمَ چه په چا وشو، هغه دَ مرګ په وخت كښې كَلِمَهٔ طيبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ولوستله او جَنَّت ته داخِل شو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

# خورب او تازه شيطان

**يو** ځل د دوو شيطانانو ملاقات وشو، يو شيطان بنه **خورب** [يعني پيړ] **او تازه** وو. او بل **نرې او وَچ** وو. خورب شيطان د نرې نه تپوس وكړو، وروره! آخِر ته وَلې دومره كمزورې ئې؟ هغه جواب ورکړو: چه زه د يو داسې نيك بنده سره يم چه هغه كور ته د داخليدو او د خوراك څښاك په وخت كښې بِسمِ الله شريف لولي په دې وجه زه د هغه نه لرې تښتيدو باندې مجبوره شم. بيا نرې اووئيل چه: ياره ته بنه خورب شوې ئې، دا خو راته اووايه چه دا څه راز دې؟ خورب شيطان اووئيل: "زه په يو داسې **غافِله كس** باندې مُسَلّط يم چه هغه كور ته داخليږي نو بِسمِ الله نه وائي، دغسې د خوراك څښاك په وخت كښې هم بِسمِ الله نه وائي ځكه زه د هغه په دې ټولو كارونو كښې د هغه سره شريك كيږم او په هغه باندې د ځناور په شان سور اوسم. (دا راز دې زما د صِحَّت مند كيدو)" (اَسرارُالفاتحه ص ۱۵۵)

# د نهو شيطانانو نومونه او كارونه

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د دې حكايت نه دا درس حاصليږي چه كه مونږه په خپلو كارونو كښې دَ شيطان د شريك كيدو نه حفاظت او په خپلو كارونو كښې خير و بَرَكت غواړو، نو پكار ده چه مونږ د هر نيك كار په شروع كښې بِسمِ الله وايو. ګني شيطان لعين به راسره په هر

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاك ونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

عمل کښې شريك کيږي. دَ شيطان ډير اولاد دي او هغوئ په مختلفو کارونو مقرر شوي دي ځنګه چه حضرتِ علّامه اِبنِ حَجَر عَسْقَلانی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي، چه اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه: د شيطان نهه اولاد دي. (۱) زَلِيْتُون (۲) وَثِين (۳) لَقُوْس (٤) اَعْوَان (٥) هَفَّاف (٦) مُرَّه (٧) مُسَوِّط (٨) داسِمْ او (٩) وَلْهَان.

زَلِيْتُون: په بازارونو باندې مقرر دې او هلته ئې خپله جَنډه خخه کړي وي.

وَثِين: خلق په ناڅاپه افتونو کښې اخته کولو باندې مقرر دې.

لَقُوْس: په آتش پرستو [يعني د اور عِبادت کوونکو] باندې مقرر دې.

اَعْوَان: د حکمرانانو سره وي.

هَفَّاف: د شرابيانو سره وي.

مُرَّه: د سَندرو او سازونو والؤ [يعني ويونکو او اوريدونکو] باندې مقرر دې.

مُسَوِّط: په افواګانو عام کولو باندې مقرر دې. دَ خلقو په ژبو باندې افواګانې جارې کوي او د اصل حقيقت نه خلق بې خبره وي.

داسِم: په کورونو کښې مقرر دې. که د کور کس کور ته د سلام کولو نه بغير داخِل شي او د بِسْمِ الله وئيلو نه بغير په کور کښې ښپه کيږدي نو د کور خلق په خپل مينځ کښې جنګوي. تر دې چه طلاق يا خُلَع يا وهلو ټکولو ته خبره ورسيږي.

وَلْهَان: په اوداسه، لمانځه او نورو عبادتونو کښې د وَسوَسو اچولو د پاره مقرر دې. (المُنَبِّهات لِلْعسقلانی ص91)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# د كورنو جګړو علاج

مُفتی احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: **كور** ته دَ داخليدو په وخت كښې بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم لوستلو نه پس اول ښځ ښپه په دروازه كښې داخلول پكار دي، بيا كور والؤ ته **سلام** وكړئ او كور ته داخل شئ كه چرې په كور كښې څوك نه وي نو اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اووائې. ځينې بزرګان ليدلي شوي دي چه د ورځې په شروع كښې كور ته د داخليدو په وخت كښې بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم او قُلْ هُوَ الله شريف [پوره سورت] وائي. ولې چه د دې [په بَرَكت] په كور كښې اِتّفاق وي (يعني جګړه نه كيږي) او په رِزق كښې **بَرَكت** هم وي.

(مِراٰةُ المَناجيح ج٦ص٩)

يا الٰہی عَزَّوَجَلَّ ہر گھڑی شیطان سے محفوظ رکھ دے جگہ فردوس میں نیران سے محفوظ رکھ

خُدايا مونږ وساتې هر وخت د شيطان نه
فردوس راكړې هُم مو وساتې نِيران نه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د خوراك نه مخكښې ضرور بِسْمِ اللّٰهِ وائې

د **خوراك** نه مخكښې بِسْمِ اللّٰهِ وئيل سُنَّت دي. حضرت سَيِّدُنا حُذيفه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دي چه د تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دي: په كوم خوراك باندې چه بِسْمِ الله ونه وئيلې شي، هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

طعام د شيطان د پاره حلال شي. (يعني د بِسمِ الله نه وئيلو په صورت كښې شيطان په هغه خوراك كښې شريك شي) (صحيح مسلم ج ٢ ص ١١١٦ رقم الحديث ٢٠١٧)

## خوراك د شيطان نه بچ وساتئ

د خوراك نه مخكښې د بِسمِ اللّٰهِ نه وئيلو په وجه په طعام كښې بې بَرَكتي راځي. حضرت سَيِّدُنا اَبُو اَيُّوب اَنصارى رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ارشاد فرمائي، مونږ د حُضُورِ اَكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمتِ بابَرَكت كښې حاضر وو. طعام راوړې شو، په شروع كښې دومره بَرَكت مونږه په يو طعام كښې هم نه وو ليدلې خو په آخِره كښې مو ډيره بې بَرَكتي وليده، مونږ عرض وكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې وَلې وشو؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: "مونږ ټولو د خوراك په وخت [يعني شروع] كښې بِسمِ اللّٰهِ وئيلې وه، بيا يو كس دَ بِسمِ اللّٰهِ لوَستلو نه بغير طعام ته كښيناستو، د هغه سره شيطان طعام اوخوړلو. (شَرحُ السُّنَّة ج ٦ ص ٦٢ رقم الحديث ٢٨١٨)

## بِسمِ اللّٰهِ اَوّلَهٗ واٰخِرَهٗ

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا عائشه صديقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا فرمائي چه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: چه كله څوك طعام خوري نو د الله تعالٰى نوم دِ واخلي. يعني بِسمِ اللّٰهِ دِ ولولي او كه په شروع كښې ترې بِسمِ اللّٰهِ لوستل هير شي نو داسې دِ اووائي، "بِسمِ اللّٰهِ اَوّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ".

(سنن ابوداؤد ج ٣ ص ٣٥٦ الحديث ٣٧٦٧)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك ولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

## شیطان خوراك بیرته را وګرځوو!

**حضرت** سَیِّدُنا اُمَیَّه بِن **مَخْشِي** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي، حُضُورِ اَکرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف فرما وو، یو کس د بِسْمِ اللّٰهِ وئیلو نه بغیر طعام خوړلو، چه کله ئې خوراك وکړو او صِرف یوه نوړئ پاتې شوه نو هغه نوړئ ئې راواغسته او وئې وئیل: بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ. تاجدارِمدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُسکې شو او وئې فرمائیل: شیطان د ده سره طعام خوړلو، چه کله ده د الله تعالیٰ نوم واغستو نو څه چه د هغه [شیطان] په خیټه کښې وو، وئې ګرځول.[یعني اُلتئ ئې کړل] (سنن ابوداؤد ج۳ص۳۵٦ حدیث ۳۷٦۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ نظرِ مُصطفٰی نه هیڅ پټ نه دي

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! کله چه ډوډئ خورئ نو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ضرور لولئ، څوك چه نه وائي نو دَ هغه **قَرِین** نومې شیطان هم د هغه سره په خوراك کښې شریك شي. دَ حضرت سَیِّدُنا اُمَیَّه بِن **مَخْشِي** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ دَ حدیث نه صفا ظاهرېږي چه زمونږ د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مبارکې سترګې** هر څه وِینې، ځکه خو ئې شیطان په اُلټو کولو ولیدلو او د شیطان په وارخطائې باندې مُسکې شو. په دې وجه **مفتی احمد یار خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د **رحمتِ عالَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظر

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

مبارك په حقيقت کښې پټ مخلوق هم وينى او دا حديث مبارك بالکل په خپله ظاهري معنٰى دې د هيڅ تاوِيل ضرورت نشته. څنګه چه زمونږ مِعده د مچ والا خوراك (يعني چه مچ پکښې پروت وي) نه قبلوي. دغسې د شيطان معده د بِسمِ اللّٰهِ والا خوراك نه شي هضمَولې. اګرچه دَ هغه بيرته ګرځولې طعام زمونږ په کار نه راځى خو هغه مردود بيمار شي او ورېږې پاتې شي او زمونږ د خوراك تَلې بَرَکت بيرته راشي، غرض دا چه په دې کښې زمونږه فائده ده او د شيطان دوه نقصانه، او کيدې شي چه هغه مردود زمونږ سره آئِنده د بِسمِ اللّٰهِ وئيلو نه بغير خوراك هم د دې يَرې نه نه کوي چه هسې نه دا په مينځ کښې بِسمِ اللّٰهِ اووائي او زه په اُلټو کولو مجبوره شم. په حديثِ پاك کښې چه د کوم سرى ذِکر دې غالباً هغه يواځې خوراك کولو، که چرې دَ حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ئې خوراك کولې نو بِسمِ اللّٰهِ به ترې نه وه هيره شوې، ځکه چه هلته حاضرو کسانو خو به بِسمِ اللّٰه په اوچت اواز وئيله او ناستو کسانو ته به ئې د بِسمِ اللّٰه وئيلو حکم کولو. (مراٰۃ شرح مشکوٰۃ ج٦ص٣٠)

اَلحَمدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامى په مَدَنى قافِلو کښې د خوراك په شروع او آخِر کښې اکثر په اوچت اواز سره د بِسمِ اللّٰهِ شريف دُعا ګانې لوستلې کيږي. دَ مَدَني قافِلې مسافِر دَ دُعاګانو او د سُنَّتو زده کولو سعادت حاصلوي. تاسو هم د دعوتِ اسلامي په مَدَنى قافِلو کښې سفر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

خپل معمول جوړ کړئ، دَعاشِقانِ رسُول دَ مَدَنی قافِلو به څه وائې! واورئ او خوشحاله شئ.

## صِدِّيق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ مَدَنی آپريشن وکړو!

د **يو** عاشقِ رَسُول بيان په خپل انداز او الفاظو کښ د وړاندې کولو کوشش کووم: زمونږ **مَدَنی قافِله** **ناکه کهاړړی** (بلوچستان، پاکستان) ته د سُنَّتو د تَربِيَّت د پاره تلې وه دَ **مَدَنی قافِلې** د يو مُسافِر په سر کښ ځلور ورې وړې غوټې راختلې وې، چه د هغې په وجه به هغه د نيم سيرې په درد کښ اَخته وو. کله به چه درد شروع شو نو د درد طرف ته د مخ حصه به ئې توره شوه او د ډير زيات تکليف په وجه به سخت ناقلاره وو. يوه شپه هغه د هم هغه درد د تکليف نه بې قراره شو مونږ ورله څه ګولئ ورکړې او اوده مو کړو چه سحر پاڅيدو نو ډير خوشحاله وو، او وئيل ئې چه اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ په ما باندې کرم وشو. په خوب کښ **سرکارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د څلورو يارانو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان په ما باندې کرم اوفرمائيلو. **سرکارِمدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما طرف ته اِشاره اوفرمائيله او حضرت سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته ئې اوفرمائيل: "د ده درد ختم کړه." نو يارِ غار و يارِ مزار سَيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په داسې طريقه زما **مَدَنی آپريشن** وکړو چه زما سر ئې وسپړدو او زما دَ دِماغو نه ئې ځلور تورې دانې را اوويستلې او وئې فرمائيل: "ځويه! اوس به تا ته هيڅ کله هم تکليف نه کيږي." واقعی

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر وشو او هغه په ما درود پاك ونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

هغه اِسلامي ورور بالکل صحيح شوې وو. دَ سفر نه بيرته چه راغلو نو بيا ئې د سر "معائنه" وکړه، ډاکټر حيران شو، او وئيل ئې: وروره عجيبه خبره ده ستا د دِماغو څلور واړه دانې غائبې شوې دي! نو هغه په ژړا ژړا په مَدَني قافِله کښې دَ سفر د بَرَکت او دَ خوب ذکر وکړو. ډاکټر ډير مُتَأَثِّرَه شو. او په هغه اسپتال کښې موجود دولسو کسانو سره د ډاکټرانو د دولسو ورځو په مَدَني قافِله کښې دَ سفر کولو نِيَّتونه وليکل او ځينې ډاکټرانو سمدستې په خپلو مخونو دَ سرورِ کائنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ سُنَّتو نښه يعني د ګيرې پريښودلو نِيَّتونه وکړل.

ہے نبی کی نظر قافِلے والوں پر
آؤ سارے چلیں قافِلے میں چلو
سیکھنے سُنّتیں قافِلے میں چلو
لُوٹنے رَحمتیں قافِلے میں چلو

د نبي دي نظر د قافلې په مسافر
ځئ چه ټول سفر کوو قافِلو کښې لاړ شئ
زده کړئ شکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
وګټئ ډير رحمتونه قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامی وروڼو! په خوب کښې د علاج دا واقعه څه نوې نه ده، رَسُولِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ الله تعالیٰ په عطا سره مريضانو ته شِفا ورکوي. چنانچه د حضرت سَيِّدُنا اِمام يوسف بِن اسماعيل نَبهانِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د مشهور کتاب "حُجَّةُ اللهِ عَلَى الْعٰلَمِيْن فِيْ مُعْجِزَاتِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْن"

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دویم جلد نه د خوب په ذریعه د شِفا پینځه حکایتونه واورئ او خپل ایمان تازه کړئ.

## (١) آقا ﷺ سترګې روښانه کړې!

د **حضرت** سَیِّدُنا محمد بن مُبارَك حَربی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بیان دې چه علی ابوالکبیر رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نابینا وو، په خوب کښې ورته د جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار نه نصیب شو، خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه په سترګو باندې خپل لاسِ شِفا راښکلو، چه سحر پاڅیدلو نو سترګې ئې روښانه شوې وې. (مُلَخَّص حُجّةُ اللهِ عَلَی العٰلَمین ج٢ ص٥٢٦)

آنکھ عطا کیجئے اُس میں ضیاء دیجئے جلوہ قریب آگیا تم پہ کروڑوں دُرُود

سترګې را عطا کړئ نُور هم پکښې راکړئ
دیدن ستاسو نِزدې شولو، په تاسو دِ وي ډیر دُرُود

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٢) آقا ﷺ د مرئ د غُوټو علاج وکړو

**حضرت** سَیِّدُنا تَقِیُّ الدِّین ابومُحَمَّد عبدُالسَّلام رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "زما دَ وِرور اِبراهیم په مرئ کښې غوټې شوې وې. او هغه د ډیر تکلیف په وجه بې قراره وو، په خوب کښې پرې سرکارِنامدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کَرَم اوفرمائیلو، عرض ئې ورته وکړو: **یا رسولَ الله** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دَ بیمارئ د لاسه په ډیر سخت تکلیف کښې یم. هغوئي اوفرمائیل:

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر وشو او هغه په ما درود پاك ونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

"ستا فرياد واوريدې شو." اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بَرَکت زما ورور ته شفا حاصله شوه. (اَيضاً ص ٥٢٦)

سرِ بالیں اُنھیں رَحمت کی ادا لائی ہے
حال بگڑا ہے تو بیمار کی بن آئی ہے

د شعر ترجمه: د بيمار خوا ته خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپله مهربانئ تشريف راوړو. د بيمار قِسمَت ته اوګوره چه بيمار شو نو بخت ئې بيدار شو.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٣) د آقا ﷺ په بَرَکت د ساه لنډي مريض ته شِفا نصيب شوه

يو بُزُرګ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: چه زه سخت ناجوړه ووم او د خپل کور په لانديني منزِل کښې پروت ووم، زما بوډا پلار د دَمې [يعني د ساه لنډې] د مرض په وجه سخت په تکليف کښې وو او د کور په دويم **چَت** کښې پروت وو. نه زه بره تلې شوم او نه هغوئې ښکته راتلې شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په خوش قِسمتئ سره يوه شپه ما ته د **سرورِکائنات** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، ما د سرکارِنامدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې بالَبنت پيش کړو. سرکار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دېره ولګوله او تشريف فرما شو، ما دَ خپلې او د خپل بوډا پلار دَ بيمارئ فرياد وکړو. زما فرياد ئې واوريدلو او سرکارِمدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بره مَنزل ته تشريف يوړو. کله چه دَ سحر دَ لمانځه وخت شو نو زما په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمُعې په شپه او د جُمُعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَراني)

غوږونو کښې د آه! آه! [د فرياد] اواز راغې. په اصل کښې زما والِد صاحِب په پوره ښکته راکوزيدلو. زما خوا ته راغلو او وئې فرمائيل: ځويه! په ما باندې ډير زيات کرَم وشو، نن شپه رحمتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ما باندې غټه مهرباني وکړه. ما عرض وکړو: بابا جانه! سرکارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اَوَّل زما ګهنګار خوا ته تشريف راوړې وو بيا ئې په تاسو باندې د کرَم کولو د پاره بره مَنزِل ته تشريف دروړې وو.اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَلٰی اِحْسَانِهٖ د تاجدارِ رِسالَت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بَرَکت مونږ دواړو ته صحت نصيب شو. (ايضاً ص ٥٢٧)

مريضانِ جہاں کو تم شِفاء ديتے ہو دم بھر ميں
خدارا دَرد کا ہو ميرے دَرماں يا رسولَ الله

**د شعر ترجَمه:** يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو په يو ساعت کښې د جهان ډيرو مريضانو ته شفا ورکوئ د الله د پاره زما د درد هم دارو وکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٤) آقا ﷺ دَ برګې علاج وکړلو

**حضرت** سَيِّدُنا شيخ ابو اِسحٰق رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائې: چه زما په اُوګه باندې د برګې داغ راښکاره شوې وو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په خوب کښې راته د جنابِ رِسالَت مآب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو نو ما د خپل مرض شکايت وکړو. سرکارِمَدِينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرې خپل د شِفا نه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

ډك مبارك لاس را ښكلو، چه سحر راپاڅيدم نو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د برګې څه نښه هم نه وه پاتې. (ايضاً ص ٥٣١)

مرضِ عصیاں کی ترقّی سے ہُوا ہوں جاں بَلَب
مجھ کو اچھا کیجئے حالت مِری اچھّی نہیں

د شعرترجمه: د ګناهونو د مرض د لاسه مې ځنکدن دې، ما ښه کړئ، زما حالت ښه نه دې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ( ) آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم د لاس پولئ (يعني دانې) ښې كړې

يو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: چه د حضرتِ حَمَّاد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په لاسو پولئ راختلې وې او هغه ماتې شوي وې، ټولو طبيبانو مُتَّفِقه فيصله وكړه چه لاس دِ كټ كړې شي حضرت سَيِّدُنا حماد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: هغه شپه ما په ډير تكليف او بې قرارئ كښې د كوټې د پاسه تيره كړه او په عاجزئ مې د الله تعالیٰ په دربار كښې د شِفا سوال وكړو چه كله اوده شوم نو د سر سترګې مې پټې شوې او د زړه سترګې مې اوغړيدې. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په خوب كښې راته د تاجدارِ رسالت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو. ما عرض وكړو: يارسولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په لاس باندې كرم وكړئ. وئې فرمائيل: لاس وغزوه. ما لاس وغَزَوَلو نو سركار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرې خپل لاس مبارك راښكلو او وئې

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښې زما ذِكر وشي او هغه په ما درودِ پاك ونه لولي. (تِرمِذِی)

فرمائيل: وديريږه چه زه ودريدم نو اَلْحَمْدُ لِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بَرَكت زما دَ لاس بيمارِي ختمه شوې وه.

(ایضاً ص ۵۲۸)

یہ مریض مر رہا ہے ترے ہاتھ میں شفاء ہے
اے طبیب جلد آنا مَدَنی مدینے والے

دا مريض په مړ كيدو دي ستاسو لاسو كښې شِفاء ده
اے طبيبه تشريف راوړئ، مَدَني خوږه سرداره

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

وسوسه: صرف الله تعالىٰ شفا وركوونكې دې خو د دې حكايتونو په اوريدو سره وسوسې راځي چه آيا د الله تعالىٰ نه علاوه بل څوك هم شفا وركولې شي؟

علاج وسوسه: بې شكه ذاتي طور شِفا وركوونكې صرف او صرف الله تعالىٰ دې خو د الله تعالىٰ په عطا سره د هغه بندګان هم شِفا وركولې شي. خو كه څوك دا دَعوٰی وكړي چه د الله تعالىٰ دَ وركړې شوې طاقت نه بغير بنده چا ته شِفا وركولې شي نو يقيناً هغه كافر دې. ځكه چه كه شفا وي او كه دارو وي، يوه ذرّه هم چا ته دَ الله تعالىٰ د عطا [يعني وركړې] نه بغير څوك نه شي وركولې. دَ هر مسلمان دا عقيده ده چه انبياء عَلَیْہِمُ السَّلَام او اولياء رَحِمَہُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی چه څه وركوي هغه صرف دَ الله تعالىٰ په عطا [يعني وركړې شوي طاقت] وركوي. او مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ كه څوك دا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاك ونه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِي)

عقيده لري چه الله عَزَّوَجَلَّ يو پيغمبر يا يو وَلِي ته د مرض نه د شِفا وركولو يا د څه عطا كولو بالكل اختيار نه دې وركړې، نو داسې كس د قرآنِ پاك د حُكم خِلاف كوي. د سيپاره ۳ سُوْرَۃُ اٰلِ عِمْرٰن اٰيت: ۴۹ او د دې ترجَمه ولولئ: اِنْ شَآءَ الله تعالٰی وسوسه به مو بالكل ختمه شي او شيطان به ناكامه او نامُراده شي، چنانچه د حضرت سَيِّدُنا عيسٰی روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام دَ مبارَك قول حِكايت په قرآن پاك كښې ارشاد شوې دې:

وَ اُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَ الْاَبْرَصَ وَ اُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ
(پ ۳ اٰلِ عمرٰن: ۴۹)

مفهوم ترجَمۂ كنزُالايمان: او زه شِفا وركووم پيدائِشي ړَندو ته او د برګي [مَرَض] والؤ ته د الله (عَزَّوَجَلَّ) په حكم.

تاسو وليده! حضرت سَيِّدُنا عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام صفا صفا فرمائي: چه زه د الله تعالٰی په وركړې شوي طاقت پيدائِشي ړَندو ته او د برګي [مَرَض] بيمارانو ته شِفا وركووم. تر دې چه مړي هم ژوندي كووم.

دَ الله تعالٰی د طرف نه انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام ته قِسم قِسم اختيارات وركړې شوي دي، او د انبياءِ كرام په بَرَكت اولياءِ كِرام ته هم وركول كيږي. لِهٰذا هغوئي هم شفا وركولې شي او نور هم ډير څه وركولې شي. چه د حضرت سَيِّدُنا عيسٰی روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام دا شان دې نو دَ خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به څومره لوئي شان وي! دا ياد لرئ! چه سرورِكائنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ ټول مخلوق او د ټولو پيغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَام دَ كمالاتو جامِع دې، بلكه چا ته چه څه وركړې شوي دي هغه د

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي پاندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

سرکار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بَرَکت ورکړي شوي دي. معلومه شوه چه که سَيِّدُنا عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام مريضانو ته شِفاء، رَندو ته سترګي او مړو ته ژوند عطا کولي شي نو نَبِيِّ اَکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې بَدَرَجهٔ اولٰى عطا کولي شي.

حُسنِ يوسُف، دمِ عيسٰى په نہيں کچھ مَوقُوف
جس نے جو پايا ہے، پايا ہے بدولت اُن کی (ذوقِ نعت)

د شعرترجمه: دَ يوسف عَلَيْهِ السَّلَام په حُسن او د عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام په دَم هيڅ موقوف نه دي بلکه چا چه څه موندلى دي د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بَرَکت ئې موندلي دي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## شپږ اويا زره نيکئ

حضرت سَيِّدُنا اِبنِ مسعود رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دي چه د نَبِي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مُبارَك دي: "څوك چه بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ولولي، الله تعالٰى به دَ هر حرف په بدله کښ د هغه په اعمال نامه کښ خلور زره نيکئ وليکي، خلور زره ګناهونه به ئې اوبخښي او خلور زره درجي به ئې اوچتي کړي. (فردوسُ الاخبار ج ٤ ص ٢٦ رقم الحديث ٥٥٧٣)

خوږو خوږو اسلامی وروڼرو! خوشحاله شئ او د خپل خوږ الله عَزَّوَجَلَّ د رحمت نه قربان شئ. لږ حساب خو ولګوئ په بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښ 50 ځله درودِ پاك ولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

كښ 19 حروف دي. دغسې كه څوك يو ځل بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اووائي نو شپږ اويا زره نيكئ به وكټي، شپږ اويا زره ګناهونه به ئې معاف شي او شپږ اويا زره درجې به ئې اوچتې شي. وَاللّٰهُ ذُوالۡفَضۡلِ الۡعَظِيۡم (يعني الله عَزَّوَجَلَّ د لوئې فضل مالك دې)

## د حلالولو په وخت كښ دَ اَلرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم نه وئيلو حِكمت

**حضرت** مُفتي احمد يارخان رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د خدائے رَحمان عَزَّوَجَلَّ د لوئې رحمت په باره كښ فرمائي: "غور وكړئ په سُورۀ تَوبه كښ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم نه ده ليكلې شوې دغه رنګ د ذَبۡح [يعني د حلالولو] په وخت كښ پوره بِسۡمِ اللّٰهِ نه وئيله شي، بلكه بِسۡمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكۡبَر وئيل شي. په دې كښ څه حِكمَت دې؟ **حِكمَت** دا دې چه په سورۀ توبه كښ د اوّل نه تر آخِره پورې د جِهاد او جنګ ذِكر دې او دا په كافرو باندې قهر دې، دغه رنګ په ذبح [يعني حلالولو] كښ د څاروي ساه وِيستلې شي. دا هم دَ جَبَر او قهر وخت وي نو ځكه په دې موقع باندې دَ رَحمت ذِكر مه كوئ. سُبۡحٰنَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څوك چه پوره بِسۡمِ اللّٰه شريف (يعني بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم) ولولي نو اِنۡ شَآءَ اللّٰه تعالٰی د الله عَزَّوَجَلَّ دَ غضب نه به په حِفاظت كښ اوسي. (تفسير نعيمی ج اول ص ٤٣)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نُولَّسو حُرُوفو حکمتونه

د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ۱۹ **حُروف دي** او د دوزخ عذاب ورکوونکي فرښتې هم نُولَّس دي. اُمِّيد دې چه دَ يَو يَو حَرف په بَرَکت به دَ يَوې يَوې فرښتې عذاب لرې شي، **بل صِفَت ئې دا دې** چه په شپه او ورځ کښې ۲٤ ګينټې دي، چه په هغې کښې پينځه ګينټې پينځه نمونځونو راګيرې کړې دي او د نُولَّسو ګينټو د پاره د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم نُولَّس حُروف عطا کړې شوي دي. پس څوك چه د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وظيفه کوي اِنۡ شَآءَ اللّٰه تعالٰی د هغه هره ګينټه به په عِبادت کښې شميرلې شي او د هرې ګينټې ګناهونه به ئې معاف شي. (تفسير کبير ج اول ص۱۵٦)

## دَ قبر نه عذاب لرې شو

**حضرتِ** سَيِّدُنا عيسٰی روحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام د يو قبر په خوا تيريدلو نو په قبر والا باندې عذاب وو. څه ساعت پس بيا په هغه قبر راتيريدلو نو څه ګوري چه هم هغه قبر د نُور نه ډك دې او هلته د رحمتِ اِلٰهی باران راوريږي. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام ډير حيران شو او په دربار اِلٰهی کښې ئې عرض وکړو چه يااللّٰه عَزَّوَجَلَّ ما ته د دې راز وښائې. ارشاد وشو: "اے عيسٰی (عَلَيۡهِ السَّلَام)! دا سړې ډير ګنهګار وو څکه په عذاب کښې ګرفتار وو. خو د وفات په وخت کښې د ده د بي بي (يعني د کور والا) "اُمِّيد" وو، د هغې هلك پيدا شو او نن هغه مدرسې ته وليږلې شو،

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

اُستاذ ورته [په سبق کښې] بِسْمِ اللّٰهِ اووئیله، ما ته حیا راغله چه زه هغه کس له په زمکه کښې دننه عذاب ورکړم د چا بچي چه د زمکې د پاسه زما نوم اخلي. (تفسیر کبیر ج اول ص ۱۵۵) دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اے خدائے مصطفٰے میں، تری رحمتوں پہ قُرباں
ہو کرم سے میری بخشش، بطُفیلِ شاہِ جیلاں

اے خُدائے مصطفٰی، ستا په رحمتونو شم قربان
په کرم وکړه زما بخښنه، په خاطِر د شاهِ جیلان

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ، سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ، سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! مونږ ټولو ته پکار دي چه خپلو بچو ته د "ټاټا، پاپا" زده کولو په ځائ د شروع نه د الله عَزَّوَجَلَّ نوم ورزده کړو او داسې نه ده چه کښې صرف وفات شوو مور او پلار ته د دې بَرَکتونه حاصلیږي، بلکه زده کوونکې او ورزده کوونکې ته هم د دې بَرَکتونه نصیب کیږي. لِهٰذا د خپلو مَدَني ماشومانو د لوبولو په وخت کښې د هغوئي په مخکښې ساعت په ساعت الله، الله وائې نو هغوئي به هم اِنْ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ چه کله خبرې کول شروع کوي نو اولني لفظ به الله وائي.

## د ماشوم د مَدَني تربیت حکایت

حضرت سَیِّدُنا سَهل بن عبدُالله تُستَرِی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: زه د درې کالو ووم چه د شپې به راوِیښ شوم نو خپل ماما حضرت سَیِّدُنا محمّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر وشو او هغه په ما دروِدِ پاک ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّی)

**بن سوار** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه به مې په لـمانځه ليدلو، يوه ورځ هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ما ته اوفرمائيل: آيا ته هغه **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُهٗ نه يادَوې چا چه ته پيدا كړې ئې؟ ما اووئيل: زه هغه څنګه ياد كړم. وئې فرمائيل: چه كله دَ شپې اوده كيږې نو د ژبې خوزَوَلو نه بغير صرف په زړه كښې **درې ځله** دا كلمات وايه:

اَللّٰهُ مَعِیَ ، اَللّٰهُ نَاظِرٌ اِلَیَّ ، اَللّٰهُ شَاهِدِیْ

يعني الله تعالٰی زما سره دې، الله تعالٰی ما وِينی، الله تعالٰی زما ګواه دې.[1]

**فرمائي**: ما يو څو شپې دا **كَلِمات** اووئيل او بيا مې هغوئي ته خبر وركړو، هغوئي اوفرمائيل: اوس هره شپه **ووه ځله** وايه، ما هم دغسې كول او بيا مې هغوئي خبر كړلو. وئې فرمائيل: هره شپه **يوولس ځله** دا **كَلِمات** وايه. (فرمائي) ما هم دغسې لوستل نو ما په زړه كښې د دې خوَند محسوس كړو. چه يو كال تير شو نو زما ماما رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: ما چه تا ته څه ښودلي دي دا قبر ته دَ تلو پورې همشيه وايه، اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی دا به تا ته په دُنيا او آخِرت كښې فائِده دركوي. سَيِّدُنا **سَهل بِن عبدُالله** تُستَرِی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ما د ډيرو كلونو پورې داسې كول نو ما په خپل زړه كښې د دې ډير زيات خوَند محسوس كړو.

[1] **نوټ**: كه كيدې شي نو دا كلمات وليكئ او په كور او دُكان وغيره كښې ئې په داسې ځائ كښې زوړند كړئ چه ستاسو سترګې پرې لګي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک ولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

ما به په تنهائي [يعني ځان له ځائ] کښې دا ذکر کولو. **بيا** يوه ورځ زما ماما رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه اوفرمائيل: اے **سَهل!** الله تعالیٰ چه د چا سره وي، هغه وِيني، او دَ هغه ګواه وي نو آيا هغه به دَ هغه نافرماني کوي؟ هيڅ کله هم نه. لِهٰذا! ځان د ګناه نه ساته، بيا ماما رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه زه **مدرسې** ته وليږلم. ما سوچ وکړو چه چرې زما په ذِکر کښې خلل را نه شي. لِهٰذا د اُستاذ سره مې دا شرط مقرر کړو چه زه به ستاسو نه صرف يوه ګينټه سبق وايم او بيا به بيرته ځم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما په مکتب کښې دَ **شپږ** يا **ووه** کالو په عمر کښې قرآن مجيد **حِفظ** کړو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما به هره ورځ روژه نيوله دَ **دولسو کالو** پورې ما دَ **وربشو** ډوډئ خوړله. د **ديارلسو کالو** په عمر کښې ما ته يوه مسئله پيښه شوه. دَ هغې دَ حل کولو دَ پاره زه د کور دَ خلقو په اِجازت **بصرې** ته لاړم او د هغه ځائ د عُلَماء نه مې د هغه مسئلې تپوس وکړو، خو چا څه تَسَلِّي بخش جواب را نه کړو. بيا زه **عَبَّادان** ته لاړم. د هغه ځائ مشهور عالِمِ دين حضرتِ سَيِّدُنا ابو حَبِيب حمزه بن ابی عبدُالله عَبّادانی رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه نه مې د هغه مسئَلې تپوس وکړو نو هغوئي ما ته تَسَلِّي بخش جواب را کړو. ما څه موده دَ هغوئي په صُحبَت کښې تيره کړه، دَ هغوئي دَ کلام نه مې فيض حاصِلَوَلو او د هغوئي نه مې آداب زده کولو. بيا زه **تُستَر** ته راغلم. ما د ګزارې اِنتظام څه داسې وکړو چه زما د پاره به د **يو دِرهم** وربشې وره کړې شوې او ډوډئ به ترې

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

پخه کړې شوه. ما به هره شپه د پيشمَني په وخت کښې **يوه اوقيه** (يعني تقريباً اويا گرامه) د وربشو ډوډۍ خوړله او په هغې کښې به مالګه نه وه او نه به اِنګوَلې [يعني سالن] وو. دا يو درهم به زما د پوره کال د پاره کافي وو بيا ما اراده وکړه چه زه به **درې ورځې** مسلسل فاقه کووم [يعني لوَږه به تيرووم]. او بيا به د هغې نه پس څه خوراك کووم. بيا ما **پينځه ورځې**، بيا **ووه ورځې**، او بيا **پينځه ويشت ورځې** مسلسل فاقه وکړه. (يعني د پينځه وِيشتو ورځو نه پس به مې يو ځل ډوډۍ خوړله) دَ **شلو کالو پورې** مې هم دا طريقه جارى وه. بيا مې د ډيرو کلونو پورې سيل و سياحت وکړو. چه بيرته تُستَر ته راغلم نو د څو پورې چه الله تعالٰى ته منظوره وه شب بيداري مې وکړه. حضرت سَيِّدُنا اِمام احمد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: چه ما دَ مرګه پورې سَيِّدُنا **سَهل** بن عبدُالله تُستَرى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په مالګه استعمالولو نه دې ليدَلې. (اِحياءُ العُلوم ج ۳ ص ۹۱) **دَ الله تعالٰى دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو واسلامی ورونړو!** خوش نصيبه مور و پلار د خپل اولاد د پاره د دُنيا په ځائ د آخِرت په مُعامَله کښې زيات فِکرمند اوسي، چنانچه هم دغسې يوې پوهه مور په خپل ځوئ باندې **اِنفرادي کوشش**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاک ونه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّي)

وکړو او د هغې په نتیجه کښې د هغه اِصلاح وشوه. دا د ایمان نه ډکه واقعه واورئ او خوشحاله شئ:

## د دعوت اسلامی دَ تربیتی کورس مَدَني سپرلي

دَ **جهنګ** (پنجاب پاکستان) د یو عاشِقِ رسول د بیان خُلاصه په خپل انداز کښې پیش کووم: "زما مور دَ ډیرې مودې نه بیماره وه. دَ هغې ډیر زیات خواهِش وو چه زه په څه طریقه د ګناهونو د دَلدَل نه اوځم او اصلاح مې وشي. زما دَ مور دَ **دعوتِ اسلامی** سره ډیره مینه وه هغې خرچه راکړه او زه ئې په زارئ مِنَت بابُ المَدینه کراچۍ ته ولیږلم او تاکید ئې راته وکړو چه د عاشِقانِ رسُول په عالَمي مَدَنی مرکز **فیضانِ مدینه** کښې د رَحمتونو په باران کښې **تربیتي کورس** وکړه او زما دَ شِفا دَ پاره دُعا هم غواړه. اَلحَمدُ لِله عَزَّوَجَلَّ زه بابُ المَدینه کراچۍ ته راغلم او دَ "تَربِیَّتي کورس" کولو سعادت مې حاصل کړو، په مَدَنی قافِلو کښې مې د سفر کولو سعادت حاصِل کړو، او د مور د پاره مې شپې ډیرې دُعاګانې هم وکړې. د فارِغ کیدو نه پس چه کور ته راغلم نو ډیر زیات خوشحاله شوم، ځکه چه په تَربِیَّتی کورس کښې په فیضانِ مَدِینه کښې د دُعاګانو د غوښتلو په بَرَکت مې مور ته شِفا نصیب شوې وه. اَلحَمدُ لِله عَزَّوَجَلَّ د تربیتي کورس په بَرَکت زه د لمونځ کولو پابند جوړ شوم او په مَدَنی ماحول کښې راته شاملیدل

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَ جُمُعي په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (كنز العمال)

نصيب شو، دَ سُنَّتو د خدمت او په مَدَنی قافِلو کښې دَ سفر جذبه راته نصيب شوه. زما دا خواهش دې چه زمونږ د کور هر کس د دَعوتِ اسلامی په مَدَنی ماحول کښې رنګ شي. او زمونږه ټولې پريشانئ لرې شي.

فیضانِ مدینہ میں اللہ کی رَحمت ہے — امّی کو مُیسّر اب صِحّت کی سعادت ہے
فیضانِ مدینہ میں آنے ہی کی بَرَکت ہے — خوب اور بڑھی مجھ کو سنّت سے مَحَبّت ہے

فيضانِ مدينه کښې د الله پاك رحمت دې
مور ته مې حاصِل شوې د شِفا سعادت دې
فيضانِ مدينه ته د راتلو دا بَرَکت دې
د سُنَّتو سره مې نور هم زيات شوې محبت دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

کوم خلق چه خپل اولاد صرف دَ دُنيا دَ پاره وقف کړي او د ښه صُحبت نه ئې منع کوي. هغوئ خپل آخِرت په ډيره سخته خطره کښې اچوي او کله کله پرې په دُنيا کښې هم دَ پښيمانتيا ورَځې راځي. چنانچه

## د مَدَني قافِلې نه دَ منع کولو نقصان

د مدينةُ الاولياء احمد آباد شريف (الهِند) يو عاشقِ رسول په يو ځلمي باندې اِنفِرادي کوشش وکړو او په مَدَني قافله کښې ئې د سفر کولو د پاره تيار کړو، خو پلار ئې په دُنيوي تعليم کښې د رُکاوټ راتلو د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك وليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

يَرې په وجه د اُخروي تعليم د سفر نه منع کړو. هغه عاجز دَ عاشِقانِ رسُول د صُحبَت حاصليدو نه پاتې شو. نتيجةً هغه د بَدو دوستانو په صُحبَت کښې اخته شو او شرابي شو. اوس د هغه والد صاحِب ته د خپلې غلطئ احساس وشو او هغه عاشقِ رَسُول ته ئې درخواست وکړو چه "دې په مَدَني قافله کښې بوځه چه د شرابو د نشې نه خلاص شي." په هغه څلمي باندې بيا اِنفِرادي کوشش وکړې شو خو اوبه د سر نه اَوُښتي وې. يعني غريب ډير زيات خراب شوې وو، لِهٰذا په هيڅ صورت بيا په مَدَنی قافله کښې دَ سفر کولو د پاره تيار نه شو.

مور و پلار ته پکار دي چه خپل اولاد ته د شروع نه د مَدَني ماحول عادت ورکړي، ګني دَ بد صُحبت په وجه دَ خرابيدو په صورت کښې وار د لاسه وتې شي، سگِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ ته د هغه مَشرې خور اووئيل: يوې اسلامي خور د خپل څوئ د اِصلاح د پاره په ژړا ژړا د دُعا عرض کړې دې، غريبې وئيل چه، هائے! ما هغه بخپله برباد کړې دې، هغه مې د دعوتِ اسلامي په مَدرَسةُ المَدِينه کښې د حِفظ د پاره کښينولو خو هغه غريب به چه کوم سُنَّتونه زده کړل او بيا به ئې هغه په کور کښې بيانول نو مونږه به په هغه پورې ټوقې کولې. آخِر دا چه د هغه زړه مات شو او هغه مَدرَسَةُ المَدينه ته تلَل پريښودل، اوس د بدو دوستانو په صُحبَت کښې د اوسيدو په وجه لوفَر

شوي دي، په خوش قسمتئ سره ما ته د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول نصيب شوي دي اوس زه ډيره زياته پښيمانه يم، هائے زما سره به څه کيږي!

صُحبتِ صَالِح تُرا صَالِح کُنَند
صُحبتِ طَالِع تُرا طَالِع کُنَند

(يعني د نيکانو صُحبَت به تا نيك جوړ کړي) او (د بدو صُحبَت به تا بد جوړ کړي)

## د سړي خورو ځناورو کور

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** حضرت سَيِّدُنا سَهُل بن عبدُالله تُستَرى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه **صِدِّيق** (يعني د اولې درجې په اولياؤ کښ) وو، هغوئي به مالګه په دي وجه نه اِستِعمالوَله، چه دَ مالګې په وجه طعام خوندَوَر کيږي او هغوئي به ځان دَ خوَندونو نه ساتلو. واقعى په قورمه، بِرياني وغيره کښ که بيشميره مصالحې واچولې شي خو چه مالګه پکښ نه وي نو هيڅ خوَند نه کوي.

**ياد ساتئ!** چه د مالګې يو مخصوص مقدار د بدن د پاره ضروري دي او دا د هغوئي کرامت وو، چه د مالګې دَ استعمال نه بغير ژوندي او صحت مند وو. په تُستَر شريف کښ واقع د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه آستانې ته به خلقو ''بَيْتُ السِّبَاع'' يعني د سړي خورو ځناورو کور وئيلو، ځکه چه د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه کره به ډير زيات **سړي خواره ځناوروان** (ازمري او پړانګان) وغيره حاضريدل او هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه به د غوښو په ذريعه د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمُعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف ولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

هغوئي ميلمستيا کوله. هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیہ په آخِرِ عمر کښې شل شوي وو. خو چه کله به دَ لـمانځه وخت راغې نو لاس او ښپې به ئې صحيح شو او چه د لـمانځه نه به فارغ شو نو بيا به معذوره شو. (الرِّسالةالقُشيريه ص۳۸۷) دَ الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د تبې علاج

منقول دي: په يو سړي تبه راغله، د هغه اُستاذِ محترم حضرت شيخ فقيه ولي عمر بِن سعيد رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیہ د هغه تپوس ته ورغلو. د رُخصتيدو په وخت کښې ئې ورته يو تعويذ ورکړو او ورته ئې اوفرمائيل: چه دا مه سپړه. د هغوئي د تلو نه پس ئې تعويذ وتړلو، تبه فوراً لاړه، صبر تري ونه شو او هغه تعويذ ئې وسپړدلو چه وئې کتل نو بِسمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم پکښې ليکلي شوي وه، په زړه کښې ئې وسوسه راغله چه دا خو هر څوك ليکلې شي! چه څنګه ئې په عقيدت کښې کمې راغې فوراً پرې بيا تبه راغله. هغه اويَريدو او فوراً دَ خپل اُستاذ په خِدمت کښې حاضر شو او دَ خپلې غَلَطۍ معافي ئې اوغوښتله. هغوئي تعويذ جوړ کړو او په خپل لاس ئې ورته وتړلو تبه فورًا بيا لاړه، دا ځل ئې پرې د کتلو څه پابندي نه وه لګولې، خو دَ يرې نه ئې ونه سپړدو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف ولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

آخِر دا چه د کال تيريدو نه پس ئې بيا وسپړدو نو هم هغه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم پکښ ليکلي شوي وه. دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! واقعي دَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ډير بَرَکتونه دي او په دې کښ د بيمارو علاج هم دې. د دې حکايت نه دا سبق حاصل شو چه که بزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِیْن د يو مباح خبرې نه هم منع وکړي او د هغې په حِکمت که څوك پوهه نه شي نو بيا هم هغه کار کول نه دي پکار. دا درس هم حاصل شو چه تعويذ سپړدل نه دي پکار ولې چه د دې سره د عقيدت د کمزوري کيدو انديښنه وي. بيا په خاصه طريقه باندې کله کله د تعويذ د ترلو په وخت کښ په هغې څه خاص کلِمات هم لوستل شي، لِهٰذا د سپړدلو سره د هغې په هغه فائدو کښ کمي هم راتلې شي.

## د "يا نَبی" د پينځؤ حروفو په نِسبت د تبي پينځه مَدَنی علاجونه

(1) لَا یَرَوْنَ فِیْهَا شَمْسًا وَّ لَا زَمْهَرِیْرًا ﴿۱۳﴾ مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: نه به په هغې کښ نمر ويني او نه ريېدل [يعني سخته يخنی]. (پ۲۹الدهر۱۳) دا آيت

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاك لوستل هير كړل هغه دَ جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

كريمه ووه ځله (اول اُخر يو ځل دورد شريف) ولولئ او [بيمار پرې] دَم كړئ، اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د **تبې** په سختئ كښې به ښكاره كمې **محسوس** شي او مريض به ارام **محسوس** كړي (د ترجمې وئيلو ضرورت نشته)

(2) حضرت سَيِّدُنا امام جعفر صادق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: **سُورَةُ الفاتحه** څلويښت ځله (اول آخِر يو ځل درود شريف) ولولئ اَو اوبه پرې دم كړئ، دَ تبې د مريض په مخ ئې ترمكې كړئ [يعني وشيندئ] اِنْ شَآءَاللہ تعالٰی **تبه** به لاړه شي.

(3) د سركارِنامدار، د مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **تبه** وه نو حضرتِ سَيِّدُنا جبرئيلِ اَمين عَلَيْهِ السَّلَام دا دُعا ولوستله او دم ئې كړو:

**بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ مِنْ كُلِّ دَآءٍ يُّؤْذِيْكَ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ اَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ ط اَللهُ يَشْفِيْكَ بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ**

(**ترجمه**: د الله عَزَّوَجَلَّ په نوم تاسو دَم كووم د هرې هغه بيمارئ د پاره چه هغه تاسو ته تكليف دركوي او د نورو د شر او د حسد كوونكو د بد نظر نه، الله تعالٰی دِ تاسو ته شِفا دركړي زه تاسو د الله عَزَّوَجَلَّ په نوم دمووم) (مسلم ص ۱۲۰۲ رقم الحديث ۲۱۸۶)

د تبې په مريض باندې صرف د عربئ دُعا ولولئ او پرې دم ئې كړئ. (مخكښې وروستو يو يو ځل درود شريف)

(4) تبې والا دِ په كثرت سره **بِسْمِ اللهِ الْكَبِيْر** وائي.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاک ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّي)

(5) په حديث پاك کښې دي: چه کله په تاسو کښې په چا تبه راشي، نو په هغه باندې دِ د درې ورځو پورې د سحر په وخت کښې د يخو اوبو څاڅکي وکړې شي[يعني وشيندلې شي]. (اَلْمُسْتَدرك لِلْحَاكِم ج٤ ص٢٢٣ رقم الحديث ٧٤٣٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغِ قرآن و سُنّت عالمګير غير سياسى تحريك دعوتِ اسلامى سره تړلي اسلامى ورونړو او اسلامى خويندو ته د خوږ خوږ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غلامۍ باندې ناز دې. د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دَ سُنّتو د تربِيَّت په مَدَنى قافِلو کښې دَ عاشِقانِ رسُول سره د سفر په دوران کښې د دُعا کولو په بَرَکت ځيني وخت د ډاکټرانو د طرف نه د لاعلاجه قرار شوو مريضانو خوشحالۍ هم اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دوباره راغلي دي. څنګه چه

## سترګې روښانه شوې

په لياقت کالونى حيدر آباد (بابُ الاسلام سندھ پاکستان) کښې د دَعوتِ اسلامى يو مُبَلّغ يو ځلمي ته د مَدَني قافِلې دعوت ورکړو، هغه خفه شو او وئې وئيل چه تاسو د چا پريشانۍ ته هم لږ ګورئ. زما د مور اپريشن ډاکټرانو غلط کړې دې او د هغې په وجه ئې نظر ختم شوې دې، زمونږ په کور کښې غم او ماتم دې، او ته وائې چه په مَدَني قافِله کښې سفر وکړه. مُبَلّغ پرې اِنفرادي کوشش جاري وساتو او دُعا ئې

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک ولوستل د قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

وکړه چه **الله** تعالیٰ دِ ستاسو مور ته شِفاء ورکړي. ډاکټران څه وائي؟ هغه اووئیل چه ډاکټران وائي چه که اوس ئې امریکې ته بوځئ نو هم علاج ئې نه شي کیدې. دا خبره ئې چه کوله نو د خفګان نه ئې آواز برګ غوندې شو. مُبَلِّغ ډیر د محبت په انداز کښې د هغه شا اوټپوله او تَسَلِّي ئې ورکړه، چه وروره! د ډاکټرانو په جواب ورکولو مایوسه کیږئ ولې. **الله** تعالیٰ شفاء ورکوونکې دې، **الله** تعالیٰ د مسافر دُعا قَبلَوي. ته د عاشِقانِ رسُول سره په **مَدَني قافِله** کښې سفر وکړه او د سفر په دوران کښې د خپلې مور د پاره دُعا هم غواړه. دَ مُبَلِّغ دَ انفرادي کوشش په نتیجه کښې هغه غمژن ځلمې دَ سُنَّتو دَ تربیت په **مَدَني قافله** کښې سفر وکړو. د سفر په دوران کښې ئې دَ خپلې مور دَ پاره ښې دُعا ګانې اوغوښتلې. **چه کله کورته بیرته راغلو نو ډیر زیات خوشحاله شو، ولې چه دَ مَدَني قافِلې په بَرَکت ئې د مور د سترګو نور بیرته راغلي وو.** اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَلٰی اِحْسَانِہٖ.

سیکھنے سنّتیں قافِلے میں چلو　　لوٹنے رَحمتیں قافِلے میں چلو
چشمِ بینا ملے سُکھ سے جینا ملے　　پاؤ گے راحتیں قافِلے میں چلو

زده کړئ ښکلې سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
وګټئ ډیر رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
شي بینا به ړندې سترګې هم به اوموموئ آرام
وبه مومئ راحتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه جفا وکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** د نبی کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: "درې قسمه دُعا ګانې قبلیږي. د دې په قبولیت کښې هیڅ شك نشته (۱) د مظلوم دُعا (۲) د مسافر دُعا (۳) د خپل ځوئ په حق کښې دَ پلار دُعا." (جامِع ترمذی ج۵ ص۲۸۰ رقم الحدیث ۳۴۶۹) سفر او هغه هم چه د **مَدَني قافِلې** د عاشِقانِ رسُول سره وي نو د هغې به خه وائې، په هغې کښې به دُعا ګانې ولې نه قبلیږي! د دې حکایت نه دا درس هم حاصِل شو. چه په اِنفِرادي کوشش کښې د ډیر صبر او تَحَمُّل [یعني برداشت] ضرورت دې. که څوك مو اورتې بلکه او هم وهی، بیا هم مایوسه کیږئ مه او خپل اِنفرادي کوشش جاري ساتئ که چرې په غصه کښې راغلئ او غلطې خبرې مو وکړې نو د دِین به ډیر غټ نقصان وکړئ، پوهه کول مه پریږدئ، پوهه کول به ضرور رنګ راوړي. او رنګ به ولې نه راوړي چه په سیپاره ۲۷ سُوْرَۃُالذّٰرِیٰت آیت ۵۵ کښې اللہ رَبُّ الْعٰلَمِیْن جَلَّ جَلَالُہٗ پخپله ارشاد فرمائي:

وَذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او پوهه کول کوئ ځکه چه پوهه کول مسلمانانو ته فائده ورکوي.

## د سر د درد علاج

**قیصرِ** روم اَمیرُالمُؤمنین حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته خط ولیکو چه زه د سر د **دائِمي** [همیشه] درد په مَرَض کښې اخته

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

يم که تاسو سره د دې څه علاج وي نو ماته ئې را ولېږئ، حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ هغه ته يوه ټوپۍ ور ولېږله. قيصرِ روم چه به هغه ټوپۍ په سر کړه نو **درد** به ئې ختم شو او چه ټوپۍ به ئې لرې کړه نو **درد** به بيا شروع شو. هغه ډېر حيران شو آخِر دا چه هغه ټوپۍ ئې وسپړدله نو د هغې نه يو کاغذ را اووتو او په هغې بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم ليکلې شوي وه. (اَسرارُ الفاتحه ص ١٦٣، تفسير کبير ج اول ص ١٥٥)

## په بِسمِ الله د عِلاج طريقه

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! د دې حکايت نه دا هم معلومه شوه چه د چا په سر باندې درد وي. هغه دِ په کاغذ بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم وليکي يا دِ ئې په بل کس وليکي او هغه تعويذ دِ په سر باندې وتړي، دَ ليکلو دا طريقه ده چه په داسې سياهۍ ئې وليکئ چه هغه نه ورانيږي مثلاً په بال پين. او د بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم د ها او د ميم درې واړه دائرې سُورئ پرېږدئ. د تعويذ ليکلو اُصول دا دې چه د آيت يا عبارت ليکلو په وخت کښې د دائرې والا د هر حرف دائِره بيرته [يعني سُورئ] وي مثلًا داسې ط، ظ، ه ، ھ ، ص، ض، و، م ، ف، ق وغيره. د اَعراب (يعني زبر، زير، پيښ) لګولو حاجت نشته، وليکئ او موم جامه (يعني په موم کښې لمده کړې شوې کپړه کښې ئې اونغاړئ) يا ئې پلاسټك کوټنګ کړئ بيا ئې په څه کپړه خرمن يا رَيګزين کښې وګنډئ او په سر ئې وتړئ، چا ته چه د عمامې شريفې د تاج په سر کولو سعادت نصيب وي نو

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

هغه كه غوارې د **عمامې شريفې** په ټوپۍ كښې دِ ئې وګنډي. دغه رنګ اسلامي خويندې دِ ئې په لوپټه يا دَ بُرقعې په هغه حِصّه كښې وګنډي كومه چه په سر راځي كه عقيده ئې كامله وي نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ درد به ختم شي. د سرو يا سپينو زرو يا د بل څه دهات [يعنې د هر قِسم وسپنې] په ډبي كښې تعويذ اچول د نارينه د پاره جائز نه دي. دغه رنګ د بل څه دهات [يعنې د هر قِسم وسپنې] زنځير هم كه تعويز پكښې وي او كه نه، دَ نارينه دَ پاره اچول ناجائز او ګناه ده. دغه رنګ د استيل، سرو يا د سپينو زرو يا د اِستيل وغيره د هر قِسم وسپنې تختۍ يا [د بنګړي په شان] كړا كه په هغې څه ليك وي او كه نه، اګر كه د الله پاك مبارك نوم يا **كلمهٔ طَيِّبَه** وغيره پرې نَقش وي، د نارينه دَ پاره اچول جائز نه دي. زنانه د سرو يا سپينو زرو په ډبي كښې تعويز اچولې شي.

## د يَااللّٰه د شپږو حروفو په نسبت

## د نيم سر د درد شپږ علاجه

**(1)كه** د چا په نيم سر درد وي نو يو ځل سُوْرَةُ الْاِخْلَاص (اَوَّل آخِر يو ځل درود شريف) ولولئ او دَم ئې كړئ، د ضرورت مطابق درې ځله، ووه ځله يا **يوولس** ځله ئې داسې دَم كړئ. د يوولسو د شمير پوره كيدو نه به مخكښې اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ نيم سر درد ختم شي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښ په ما باندې درود پاك وليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښ وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

(2) چه کله د نیم سر درد وي نو سونړ (یعني وَچ اَدرك. دا دَ پنساری سره وي) په لړو اوبو کښ اوسُولَوئ او د سونړ هغه سولیدلي ډېره په تندي باندې راښکاږئ.اِنْ شَآءَالله تعالٰی د نیم سر درد به ختم شي.

(3) د **وَچې** دَنیا یو څو دانې، او لږې اوښکې دَ منګی په یخو اوبو کښ یا ساده اوبو کښ یو څو ګینټې کیږدئ او هغه اوبه وڅښئ اِنْ شَآءَالله تعالٰی درد به ختم شي.

(4) په **تَودو** شودو کښ چه سوچه غوړې ګډ کړې شي نو د هغې د خښلو سره هم درد ختمیږي.

(5) د **کوپرې** د اوبو د څښلو سره په نیم سیرې (یعني د نیم سر درد کښ او د پوره سر په درد کښ کمې راځي.

(6) په غټ لوښي کښ **ترمې** اوبه او مالګه واچوئ او دواړه ښيې پکښ تقریباً دولس منټه کیږدئ. اِنْ شَآءَالله تعالٰی فائده به وشي. (ضرروتاً په وخت کښ کمې زیاتې کولې شئ)

## د "یا مُصطفٰی" د ووه حروفو په نسبت د سر د درد ۷ علاجونه

(1) لَا یُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا یُنْزِفُوْنَ ﴿۱۹﴾ مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نه به په هغوئ د سر درد راځي او نه به ئې په هوش کښ فرق راځي. (پ۲۷ الواقعة:۱۹) دا

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

آيتِ کريمه درې ځله (اَوّل آخِر يوځل درود شريف) ولولئ او د **سر درد والا** پرې دَم کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی فائده به وشي (د ترجَمې لوستلو حاجت نشته)

**(2)** سُوْرَةُ النَّاس ووه ځله (اَوّل آخِر يو ځل درود شريف) ولولئ او دَم ئې کړئ او تپوس ترې وکړئ که چرې درد باقي وي نو په دويم ځل ئې هم دغسې بيا دَم کړئ که چرې بيا هم درد پاتې وي نو په دريم ځل ئې بيا هم دغسې دَم کړئ. که د **ټول سر** درد وي او که دَ **نيم سر** چه هر څومره سخت درد وي په [دې طريقه] درې ځله دَم کولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ختم شي.

**(3)** که د **پوره سر** درد وي او که د نيم سر درد وي، د مازديګر د لـمانځه نه پس سُوْرَةُ التَّکَاثُر يو ځل (اَوّل آخِر يوځل درود شريف) ولولئ او دَم ئې کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی په درد کښې به کمې راشي.

**(4)** په دوه ګوټو کښې لږه شان مالګه راواخلئ او په **ژبه** ئې کيږدئ، دولس مِنټه پس يو ګلاس اوبه وڅښئ که په سر مو هر څومره درد وي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ښه به شي، (د هائي بلډ پريشر مريض ته د مالګې اِستِعمال نقصان ورکوي)

**(5)** په **يوه** پيالئ اوبو کښې يوه قاشوغه کُورګمن واچوئ او وئې څښکوئ. د دې د څښلو يا د دې د بړاس راښکلو سره به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی درد لرې شي. (په اِنګولي [يعني ترکارئ] وغيره کښې کُورګمن ضرور اِستعمالوئ. هره ورځ

www.dawateislami.net

یو ګرام (یعني د دوه ګوتو په سر کښې چه څومره راغستې شي دومره) کُورګمن استعمالولو والا به اِنْ شَآءَالله تعالٰی د کینسر نه **محفوظه** وي)

(6) په **سوچه غوړو** کښې پخې شوي تازه تودې تودې **څلوبئ** د نمر ختو نه مخکښې خوړلو سره به اِنْ شَآءَالله تعالٰی د سر په درد کښې آرام راشي.

(7) که کله اِتِّفاقاً مو په **سر درد** شي نو د طعام خوراك نه پس د ډِسپرین (DISPIRIN) دوه ګولئ په اوبو کښې حل کړئ او وئې څښئ اِنْ شَآءَالله تعالٰی درد به ښه شي (د درد هر قسمه ګولئ همیشه د طعام خوړلو نه پس استعمالول پکار دي ګنې د نقصان اندیښنه ده)

**مَدَنی مشوره:** که چرې په دوایانو درد ښه نه شي نو د سترګو ټیسټ پکار دې. که چرې نظر مو کمزورې وي نو دَ چشمو استعمالَول سره به اِنْ شَآءَالله تعالٰی د **سر درد** ښه شي. که بیا هم ښه نه شي نو د دِماغو د خصوصی ډاکټر سره مشوره کول ضروري دي. په دې کښې کوتاهي کول ځینې وخت د سخت نقصان باعث وي.

## د پوزې د ماتیدو علاج

**که** دَ چا پوزه ماته شي او وِینه بهیدل شروع شي نو دَ شهادت په ګوته دِ د تندي نه بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لیکل شروع کړي او په پوزه دِ ئې ختم کړي اِنْ شَآءَالله تعالٰی وِینه به بنده شي.

## د دوائي حکایت

**حضرت** مُفتي احمد یارخان رَحۡمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: کوم بیمار چه بِسۡمِ الله

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف ولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (ترمِذی)

اووائي او دوائي وځښې اِنْ شَآءَ الله تعالیٰ دوائي به فائده ورکوي. يو ځل د حضرت سَيِّدُنا موسیٰ کَلِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام په ګيډه ډير سخت درد شو، دَ **الله** تعالیٰ په دربار کښې ئې عرض وکړو. **الله** تعالیٰ ورته اوفرمائيل: چه د ځنګل فلانکې بوټې اوخوره، موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هغه اوخوړو، فوراً آرام راغې. څه ورځې پس ئې بيا هم هغسې درد شو، حضرت سَيِّدُنا موسیٰ کَلِيمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام بيا هغه بوټې اِستِعمال کړو، خو درد ئې نور زيات شو! دَ **الله** تعالیٰ په دربار کښې ئې عرض وکړو چه **يا اِلٰهی!** په دې کښې څه راز دې. دَوا يوه او اثر ئې دوه قِسمَه، چه مخکښې ئې شِفا راکړه او دا ځل ئې بيماري زياته کړه. **الله** تعالیٰ اِرشاد اوفرمائيلو: چه **اے مُوسیٰ!** په هغه پيره ته زما د طرفه د بوټې خوا له ورغلې وې او دا پيره د خپل طرف نه. اے موسیٰ! شِفا خو زما په نوم کښې ده، زما د نوم نه بغير دَ دُنيا هر څيز زَهرِ قاتِل دې او صرف زما نوم د دې علاج دې. (تَفسیر نَعیمی ج اول ص ٤٢) دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

## په دوائي نه، په خدائے پاك عَزَّوَجَلَّ يقين ساتئ

معلومه شوه چه يقين په دوا نه بلکه په **الله** عَزَّوَجَلَّ ساتل پکار دي. که الله تعالیٰ اوغواړي نو هله به دوائي شِفا ورکوي، او که هغه ونه غواړی نو دا دوائي به دَ بيمارئ دَ زياتوالي سَبَب وګرځي، او دا عامه

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

ليدلې شوي خبره ده چه په يوه دوائي يو بيمار صحت مند شي او هم هغه دوائي که چرې بل مريض اوخوري نو بد اثر (REACTION) پرې وکړي او په نورو سختو مَرَضونو کښې اخته شي، يا معذوره شي او يا مړ شي. کله چه دوائي خورئ نو مخکښې ترې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لولئ يا بِسۡمِ اللّٰهِ شَافِیۡ بِسۡمِ اللّٰهِ کَافِیۡ لولئ.

## د رُوح تنده ماتيدل

الله تعالیٰ په سَيِّدُنا موسیٰ کليمُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام باندې وحي نازله کړه: ''چه دَ دُنيا نه هر رُوح ترې ځي سِوا د هغې نه، چا چه بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وئيلي وي. (اَسرارُ الفاتحه ص ١٦٢)

## په ښکلی طريقه د وئيلو فضيلت

د حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی شيرِخُدا رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه روايت دې: يو سړي په ډير ښکلي انداز کښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ولوستله نو دَ هغه بخښنه وشوه. (شُعَبُ الايمان ج ٢ ص ٥٤٦ رقم الحديث ٢٦٦٧)

## دَ خدائے پاك دَ نوم خوښ والې د خلاصي سبب دې

يو ګنهګار دَ مرګ نه پس چا په خوب کښې وليدو، تپوس ئې ترې وکړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني الله تعالیٰ ستا سره څه معامله وکړه؟ هغه جواب ورکړو چه يو ځل زه دَ يوې مَدرسې په خوا تيريدم نو يو

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاک ونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنى)

لوستونكي بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ولوستله، چه ما واوريدله نو زما په زړه د الله تعالىٰ د خوږ نوم د خوږوالي اَثر وشو او هم په هغه وخت مې دا غيبي اواز واوريدو: چه مونږه به دوه څيزونه نه را يو ځائ كوو. دَ (1) د الله تعالىٰ دَ نوم خوږ والي [او] (2) د مرګ تريخ والي. (اَنِيْسُ الْوَاعِظِيْن ص ٤) دَ الله تعالىٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

خوږو خوږو اسلامى وروڼو! د دې حكايت نه معلومه شوه چه دَ الله تعالىٰ د خوږ نوم مزه محسوس كوونكي دَ رحمتونو په بَرَكتونو كښې د دُنيا نه رُخصتيږي او مرګ دَ هغه د پاره دَ خلاصي او د بخښنې زيرې راوړي. د الله تعالىٰ رَحمت ډير زيات دې. هغه بهانې لَټوي او په ظاهره په معمولي ښكاريدو والا عمل باندې هُم ډير غټ ګنهګاران بخښي.

رَحمتِ حَق "بَہا" نَہ مِی جُويَد رَحمتِ حَق "بَہانَہ" مِی جُويَد

(د الله عَزَّوَجَلَّ رحمت "بها" (يعني قِيمَت) نه غواړي بلكه د الله عَزَّوَجَلَّ رحمت خو "بهانه" غواړي)

## د قِيامت د پاره عجيبه سَنَد

حضرتِ مُفتى احمد يارخان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "په تفسير عزيزى" كښې د بِسْمِ اللّٰهِ په فائدو كښې ليكلي شوي دي چه يو وَلِيُّ الله رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه دَ وفات په وخت كښې دا وصيت كړې وو چه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وليكئ او زما په كفن كښې ئې كيږدئ. خلقو تري تپوس وكړو چه د

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

دي څه وجه ده نو هغوئي جواب ورکړو چه د قِيامَت په ورځ به دا زما سره سَنَد (يعني ليکلي ثبوت) وي او د دې په ذريعه به زه دَ رحمتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ درخواست کووم. (تفسیرِنعیمی پارہ اول ص ۴۲) دَ اللّٰه تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

ملیگا دونوں عالَم کا خزانہ پڑھ لو بِسمِ اللّٰہ
خدا چاہے تو ہو جنّت ٹھکانہ پڑھ لو بِسمِ اللّٰہ

وبه ګټي د دواړو جهانو خزانه وايه بِسْمِ اللّٰه
كه اوغواړي الله جَنَّت به دركړي وايه بِسْمِ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَی اللّٰه اَسْتَغْفِرُ اللّٰه
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ته د عذاب نه بچ شوې

دَ فِقهٔ حَنَفی په مشهور کتاب "دُرِّمُختَار" کښې دي، "چه يو سړي د مرګ نه مخکښې وصِيَّت وکړو چه د وفات نه پس زما په سينه او تندي بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وليکئ. چنانچه هم دَغسې وکړې شو. بيا چا په خوب کښې وليدلو، او د حال تپوس ئې ترې وکړو، هغه اووئيل چه کله زه په قبر کښې کيښودې شوم نو د عذاب فرښتې راغلې، چه زما په تندي ئې بِسْمِ اللّٰه شريف وليده نو وئې وئيل چه ته د عذاب نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

بچ شوي. (اَلدُّرُّالْمُختَار وردُّالمُحتار ج۲ ص۱۵٦) دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# په کفن د لیکلو طریقه

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! کله چه یو مُسلمان وفات شي نو بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم [پرې] ضرور لیکئ، ستاسو لږه شان تَوَجُّه د عاجزه مړي دَ بخښنې ذریعه جوړیدې شي، او دَ مړی سره د همدردئ نیکي ستاسو د بخښنې ذریعه هم جوړیدې شي. حضرتِ عَلّامه شامی رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "داسې هم کیدې شي چه د مړي په تندي بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ولیکئ او په سینه ورته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیکئ. خو د غُسل ورکولو نه پس او دَ کفن وراغوستلو نه مخکښې ئې د شهادت په ګوته ولیکئ په سیاهئ (ink) ئې مه لیکئ. (ردُّالمُحتار ج۳ ص۱۵۷) د اِعراب (زبر، زیر او پیښ) لیکلو ضرورت نشته. "شجره یا عهد نامه په قبر کښې ایښودل جائز دي او غوره دا ده چه د مړي مخې ته د قبلې طرف ته طاق [تاخ] جوړ کړئ او په هغې کښې ئې کیږدئ بلکه په "دُرِّ مُختار" کښې دي چه په کفن باندې عهدنامه لیکل جائز دي او فرمائي چه په دې د بخښنې اُمید دې".

(دُرِّمُختار ج۳ ص ۱۸۵ و بهارِ شریعت جلد اول حصه ٤ ص۸٤۸)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك ولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

# ځه مونږه ته او بخښلې

دَ **قِيامَت** په ورځ به دَ عذاب فرښتې يو بنده ونيسي. حُکم به وشي چه د ده اندامونه اوګورئ چه څه نيکي پکښې شته او که نه؟ فرښتې به د هغه ټول اَندامونه اوګوري، يوه نيکي به هم پکښې نه وي. بيا به ورته فرښتې اووائي اوس خپله ژبه را اوباسه، چه په دې کښې اوګورو چه څه نيکي پکښې شته او که نه؟ چه هغه ژبه را اوباسی نو په هغې به په سپين خط کښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ليکلې شوي اوومي. په هم هغه وخت به حکم وشي چه، **ځه مونږه ته او بخښلې.** (نُزۡهَةُ المَجَالِس ج اول ص ٢٥) **دَ الله** تعالٰی **دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

گنہگارو نہ گھبراؤ نہ گھبراؤ نہ گھبراؤ
نظر رَحمت پہ رکھو جنّتُ الفردوس میں جاؤ

ګناهګارو مه يريږئ مه يريږئ مه يريږئ
نظر رَحمت باندې ساتئ جَنَّتُ الفردوس ته لاړ شئ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د الله تعالٰی دَ کَرَم خبره ده، د چا د پاره چه اوغواړي بخښنه ئې وکړي. يقيناً هغه کس په اخلاص بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لوستلي وه او هغه په کار راغله ځکه چه په **اِخلاص** سره شوي بظاهر لږ عمل هم ډيره غټه درجه لري. ځکه چه د سَيِّدُالۡمُرۡسَلِيۡن

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دې: اَخْلِصْ دِيْنَكَ يَكْفِكَ الْعَمَلُ الْقَلِيْلُ ''په خپل دِين کښې مُخلِص شه لږ عمل به هم درله کافي وي.''
(اَلْمُسْتَدْرَك لِلحاكم ج٥ ص٤٣٥ رقم الحديث ٧٩١٤)

حُجَّةُ الْاِسلام حضرت اِمام مُحَمَّد غزالی رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه د يو بزرګ نه نقل کوي: ''د يو ساعَت اِخلاص د هميشه د پاره د خلاصې باعِث دې خو اِخلاص ډير کَم مُوندلې شي.'' (اِحياءُ العُلوم ج٤ ص٢٩٩)

## د خالِص عمل پيژندل

د حضرتِ سَيِّدُنا عِيسٰی عَلَيهِ السَّلَام حواريانو د هغوئ عَلَيهِ السَّلَام په خدمت کښې عرض وکړو: ''د چا عمل خالِص وي؟ وئې فرمائيل: د هغه کس عمل به اِخلاص والا وي ځوك چه صرف د الله تعالٰی دَ رِضا د پاره عمل وکړي او دا خبره نه خوښوي چه خلق دِ د دې عمل په وجه د هغه صِفَت وکړي. (ايضًا ص٤٠٣) دَ الله تعالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

يا الله عَزَّوَجَلَّ ستا دَ مُخلِص بنده سَيِّدُنا عيسٰی عَلَيهِ السَّلَام په خاطر مونږ بې سببه اوبخښې اٰمين. هائے! هائے! د نفس او شيطان د لاسه مونږ په تيزئ سره د تباهئ کندې ته مسلسل غورزيږو. آه، آه، آه تر ثو چه د ''حوصله افزائي'' په نوم ځوك زمونږ د اعمالو او ديني کارونو صِفَت او واه واه ونه کړي تر هغې پورې مونږ ته خوَند نه راکوي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود ولولي الله تعالیٰ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد دَ غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو    کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی

زما هر عمل دِ وي بس دا ستا د پاره    داسې كړې اخلاص راعطا يا الٰهي

## د افتونو لرې كيدو اسانه وظيفه

د حضرت سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرتَضٰى شيرِخُدا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې چه **تاجدارِ مَدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "اے علی (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ)! آيا زه تا ته داسې كَلِمات ونه ښايم چه هغه ته د **مُصيبَت** په وخت كښې لولې؟" عرض ئې وكړو: "ضرور ارشاد اوفرمائې! په تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِ زما ځان قربان وي! ټول ښه كارونه ما ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه زده كړي دي." ارشاد ئې اوفرمائيلو: "كله چه ته په څه مشكل كښې ونښلې نو داسې لوله: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّابِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم. پس الله تعالیٰ به د دې په بَرَكت چه كومې بلا ګانې [لرې كول] غواړې لرې به ئې كړي." (عَمَلُ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ لِابْنِ سُنِّيْ ص۱۲۰)

## مشكلات به حل شي اِنْ شَآءَالله

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! چه كله هم څه **بيماري**، قرضداري، مقدَّمَه بازي، د **دُښمن** دَ طرف نه تكليف، بې روزګاري يا بل څه ناڅاپه آفت راشي، څه شې **ورك** شي، دَ چا په خبره څه **غم** دوروسي، كه څوك مو اووهي، كه زړه مو **خفه** شي، كه تِيندَك [يعني ټوكر] اوخورئ، ګاډې مو خراب شي، كه **ټريفك** جام شي، كه په كاروبار كښې مو څه **نقصان**

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر وشو او هغه په ما درود پاک ونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

وشي، که غلا درنه وشي، الغرض که وړه یا غټه هر قسمه څه پریشانی راشي، د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم د وظيفې لوستلو عادت جوړ کړئ. که نِيَّت مو صفا وو نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ منزل ته رسیدل به اسان شي. دَ **مشکل** دَ اسانئ دَ پاره یو عمل دا هم دې، دَ جُمَعې د لمانځه نه مخکښې غسل وکړئ، پاکې جامې واغوندئ، او په یواځې ځائ کښې يَا اَللّٰهُ دوه سوه ځله (اَوَّل آخِر درې درې ځله دُرُود شريف) ولولئ که د هر قِسمه مُصِيبَت وي لرې به شي یا مو که هر څنګه حاجت وي پوره به شي اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامی** د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره د سفر کولو په دوران کښې په دُعاګانو غوښتلو هم د بیشمیره اِسلامي ورونړو د مُشکِلاتو د حل کیدو واقِعات شته دې. چنانچه

## نوې ژوند

د **یو** مزدور ګردې فیل شوې، خپلوانو هغه په هسپتال کښې داخل کړو. د هغه یو لوفر خورئې [یعني د خور ځوئ] د هغه تپوس له راغلو، د ماما ئې په ظاهره د ژوندې پاتې کیدو څه اُمِّید پاتې نه وو. خورئې له ئې ژړا ورغله او د سترګو نه ئې اوښکې روانې شوې. هغه اوریدلي وو چه د **دعوتِ اِسلامی** په مَدَني قافِلو کښې دَ سفر په دوران کښې دُعا

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

ګاني قبليږي. چنانچه هغه په مَدَني قافِله كښې په سفر روان شو او په ډيره عاجزئ ئې د ماما دَ صحت د پاره دُعاګاني وكړې. چه [د مَدَني قافلې] نه بيرته راغي نو ماما ئې صحيح سلامت د هسپتال نه كور ته راغلي وو او اوس په قلاره قلاره دَ لـمانځه دَ پاره جُمات ته روان وو. د رحمَت نه ډك دا منظر ئې چه وليدو نو هغه ځلمي د خپلو ګناهونو نه توبه وكړه او خپل ځان ئې په مَدَني رنګ كښې رنګ كړو.

مرض گمبھیر ہو، گرچہ دِلگیر ہو ہوں گی حل مشکلیں قافِلے میں چلو
غم کے بادَل چھٹیں اور خوشیاں ملیں دل کی کلیاں کھلیں قافِلے میں چلو

كه مَرَض وي ډير سخت، كه وي ډير مصيبت
لرې به شي هر آفت قافِلو كښې لاړ شئ
را به شي خوشحالئ، شي به لرې د زړه غم
ورونړو تاسو ټول هم قافِلو كښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى اللّٰه اَسْتَغْفِرُ اللّٰه
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د زړه د اِخلاصه شوې دُعا كله هم نه شي رد كيدې. د الله عَزَّوَجَلَّ په باركاه كښې چه كومه دُعا اوغوښتې شي هغه لازمي قبليږي او ولې به نه قبليږي چه پخپله زمونږه خوږ خوږ الله تعالیٰ فرمائيلي دي:

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښكُلي كړئ ځكه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الأَخبَار)

وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ ؕ (پ ٢٤ ، المؤمن: ٦٠)

مفهوم ترجمۂ كنزُ الإيمان: او ستاسو ربّ (عَزَّوَجَلَّ) فرمائي: زما نه دُعا اوغواړه زه به ئې قبلووم.

وسوَسه: خدائے حَميد عَزَّوَجَلَّ په قرآنِ مجيد كښې ځپله ارشاد فرمائي چه "زما نه دُعا غواړه، زه به ئې قبلووم،" خو ډير ځله داسې وشي چه د دُعا د قبليدو اثر ښكاره نه شي مَثَلًا بنده دُعا كوي چه په فلانكي ځائ كښې مې نوكري ولګي خو كار ئې ونه شي.

د وسوسې علاج: دَ "قبليدو په معنٰی باندې د نه پوهيدو په وجه شيطان وسوسې اچوي. دُعا قبوله قبوله ده. خو د قبليدو صورتونه مختلف دي. د دُعا د قبليدو درې صورتونه اوګورئ.

(1) بنده چه څه غوښتي وو هغه ده ته ځكه ور نه كړې شو چه هغه د ده په حق كښې بهتر نه وو. او هغه اَرحَمُ الرَّاحِمِين جَلَّ جَلَالُهٗ د خپلو بندګانو په حق كښې بهترې غواړي،

وَعَسٰۤی اَنۡ تَكۡرَهُوۡا شَيۡـًٔا وَّهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ ۚ وَعَسٰۤی اَنۡ تُحِبُّوۡا شَيۡـًٔا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمۡ ؕ وَ اللّٰهُ يَعۡلَمُ وَ اَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٢١٦﴾ (پ٢ ، البقرة: ٢١٦)

مفهوم ترجمۂ كنزُ الإيمان: او نِزدې ده چه يوه خبره تاسو بده ګڼړئ او هغه ستاسو په حق كښې بهتره وي او نِزدې ده چه يوه خبره تاسو خوښوئ او هغه ستاسو په حق كښې بده وي او الله عَزَّوَجَلَّ پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر وشو او هغه په ما درود پاک ونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

(2) په دې دُعا کوونکي باندې څه سخت مُصِيبَت را روان وي، او هغه مُصِيبَت پروردګار عَزَّوَجَلَّ د دې دُعا په بدله کښې لرې کړو، او بنده په ظاهره دا ګڼړي چه دُعا مې قبوله نه شوه. مثلاً د اتوار په ورځ د ماښام د لمانځه نه پس د اسکوټر په حادثه کښې د ده ښپه ماتيدو والا وه او د مازديګر په لمانځه کښې ده دا دُعا اوغوښتله چه په فلانکي باندې زما زر روپۍ قرضه ده، يا الله! هغه نن د ماښام نه پس ما ته راکړې. د ماښام د لمانځه نه پس دې صحيح سلامت د مقروض خوا ته ورسيدو. خو هغه ورته قرضه ادا نه کړه. ده دا سوچ وکړو چه زما دُعا قبوله نه شوه. خو دا بې خبره څه خبر وو چه مقروض ته د رسيدو نه مخکښې د ده ښپه په حادثه کښې ماتيدو والا وه او هغه د دې دُعا په بَرَکت د ماتيدو نه بچ شوه!

(3) چه څه ئې اوغوښتل هغه ور نه کړې شي خو دَ دې دُعا په بدله کښې به ورته په آخِرت کښې د ثواب ذخيره ورکوله شي. څنګه چه په حديثِ پاك کښې فرمائيلي شوي دي: "چه کله بنده په آخِرت کښې د خپلو هغه دُعاګانو ثواب اووينې کومې چه په دُنيا کښې نه وې قبولې شوې نو ارمان به کوي چه، کاش! چه په دُنيا کښې زما يوه دُعا هم نه وې قبوله شوې او ټولې د دې ځائ (يعني د آخرت) د پاره جمع شوې وې." (اَحسَنُ الۡوِعَاءِ ص۳۷ حاشیه مع توضیح) په يو حديث کښې دي: "چا ته چه دَ دُعا توفيق

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود ولولي الله تعالیٰ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دي. (عَبدُالرَّزّاق)

ورکړې شي د هغه د پاره به د جَنَّت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې شي." (ايضاً ١٤١)

## د بِسمِ اللّٰهِ عاشِقه

**يو** مُبَلِّغ په اجتماع کښې د بِسمِ اللّٰه شريف فضائيل بيانول، يوې يهودنړې جينئ چه د بِسمِ اللّٰه شريف فضائل واوريدل نو ډيره مُتَاَثِّره شوه او **اسلام** ئې قبول کړو. د هغې په ژبه باندې د بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وظيفه جاري شوه هر وخت په کښيناستو، ودريدو، اوده کيدو، بيداريدو، ګرځيدو کښې به ئې بِسمِ اللّٰه وئيله. د جينئ کافر مور و پلار د هغې نه ډير زيات خفه شو، او هغې ته ئې قِسم قِسم تکليفونه ورکول شروع کړل، او د اِسلام سره د دُښمنئ په وجه په دې کوشش کښې وو چه په خپله لور باندې څه اِلزام ولګوي او مَعَاذَاللّٰه **قتل** ئې کړي. چنانچه يوه ورځ د هغې پلار چه هغه د بادشاه وزير وو، هغه د شاهِي مُهر والا **ګوتئ** لور ته د ساتلو د پاره ورکړه هغې بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اووئيله او ترې وائې غسته او بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ئې اووئيله او په جيب کښې ئې واچوله. د شپې چه کله اوده شوه نو پلار ئې د هغې د جيب نه **ګوتئ** رااويستله او درياب ته ئې غوزاره کړه، يو **مهي** هغه ګوتئ تيره کړه. سحر يو د مهيانو ښکاري په درياب کښې جال واچولو، اِتِّفاقًا هغه مَهي د هغه په جال کښې ونښتو، هغه مَهي ئې راوړو او

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاك ونه لوستو هغه د جنّت لاره پریښوده. (طَبَرانِي)

وزير ته ئې په تحفه كښې ورکړو، وزير دَ ښځولو د پاره خپلې مسلمانې لور ته ورکړو هغې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اووئيله او مهې ئې ترې واغستو، كله ئې چه مهې كټ كولو نو بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ئې اووئيله او دَ مَهې كيډه ئې څيرې كړه نو د هغې نه ګوتئ را اووته، هغې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اووئيله او په جيب كښې ئې كيښوده، مهې ئې پوخ كړو او د پلار مخې ته ئې كيښودلو. د طعام خوړلو نه پس چه كله د دربار وخت راغې نو پلار د جينئ نه ګوتئ اوغوښته هغې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اووئيله او د جيب نه ئې را اووِيستله او ور ئې كړه، پلار ئې چه كله دا وليده نو حيران پاتې شو او الله تعالیٰ د بِسۡمِ الله په بَرَكت هغه د بِسۡمِ الله عاشِقه د قتل كيدو نه بچ كړه. (لَمعَان صوفياء)

**د الله تعالیٰ دِ په هغې رحمت وي او د هغې په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

## د بِسۡمِ الله ليكلو فضيلت

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه روايت دې، چه حُضُورِ اَكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائې: ”چا چه د الله تعالیٰ د تعظيم د پاره په ښكلې شكل كښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وليكله، الله تعالیٰ به هغه اوبخښي.“

(اَلدُّرُّالمَنثور ج۱ ص۲۷)

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

د اعلٰی حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه والدِ محترم تاجُ العُلماء، رَئيسُ المُتَكَلِّمِين حضرت مولانا شاه نقي علی خان قادری رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه په ذُوالقَعْدَةُ الحَرام ۱۲۹۷ھ د زيارت په ورځ د ماسپښين په وخت كښې وفات شو، د هغوئي د ژوند آخِري تحرير [يعني لِيك] بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم وو. اعلٰی حضرت رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه د هغوئي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه د وِصال شريف هغه رِقَّت انګيز مَنظر پيش كوي او فرمائي: د وفات په ورځ ئې د سحر لمونځ كړې وو او د ماسپښين وخت لا پاتې وو چه وفات شو د ځنكدن په حالت كښې حاضرو ټولو خلقو وليده چه سترګې ئې بندې وې او مسلسل ئې سلام كولو (دا دې خبرې طرف ته اشاره معلوميږي چه د اوليائے كِرام روحونه د هغوئي د اِستقبال د پاره راجمع كيدل) چه يو څو ساكاني ئې پاتې وې نو لاسونه ئې د اوداسه په اندامونو داسې راښكل لكه څوك چه اودس كوي تر دې چه اِستِنشاق (يعني د پوزې صفائي) ئې هم وكړه. سُبحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ هغوئي د خپل طرف نه د بې هوشئ په حالت كښې د ماسپښين لمونځ هم وكړو څه وخت چه ئې روح مُبارك جُدا كيدلو فقير [يعني اعلٰی حضرت] ورته د كټ سر ته حاضر وو. وَاللهِ العَظِيم يو ښائسته نور ښكاره شو (يعني موجودو خلقو ټولو ليدلې شو). هغه نُور د سينې نه را پورته شو او د ځليدلي بجلئ په شان ئې په مخ باندې اوپړقيدو لكه څنګه چه د نمر رڼړا په آئينه كښې پړقيږي، او بيا غائِب شو چه اومو كتلو نو بيا ئې په بدن كښې روح

فرمَانِ مُصطَفےﷺ: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك ولولي دَ قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

نه وو. آخِري خبره ئې دَ ژبې نه دا ادا شوه چه، "اللّٰه" او بس، او آخِري لِيك چه مبارك لاس ليكلې وو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وو او دا ئې د وفات كيدو نه دوه ورځې مخكښې په يو كاغذ ليكلې وو. د دې نه پس فقير (يعني اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) خپل پير و مُرشِد په خوب كښې وليدو چه زما دَ والِد صاحب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مزار ته ئې تشريف راوړو ما عرض وكړو: "حضور! دلته څنگه [راغلئ]؟" وئې فرمائيل: د نن نه به، يا ئې اوفرمائيل: د اوس نه به نور هم دلته اوسيږو. (حياتِ اعلٰحضرت ص٥٠،٥١) د اللّٰه تعالٰى دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

عرش پر دھومیں مچیں وہ مومنِ صالح مِلا
فرش سے ماتم اٹھے وہ طیِّب و طاہِر گیا

په عرش شوې خوشحالئ چه هغه مومنِ صالِح راغلو
په زمكه شو ماتم چه هغه پاك او طاهِر لاړو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم د ليكلو د عظيم ثواب كټلو د پاره كه كيدې شي نو كله كله په اوداسه كښې په كاغذ وغيره باندې خوشخطه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليكئ خو د بې ادبئ په ځايونو كښې ئې مه ليكئ، په ديوالونو باندې هم آيتونه او پاك كلِمات مه ليكئ ځكه چه په قلاره قلاره د ليك هغه ذرّات په

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات دروډِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

زمکه راريژيږي، (لِهٰذا په ځماتونو کښې هم د دې ادب خيال ساتئ) او په زمکه باندې ليکل خو زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صراحةً منع فرمائيلي دي، چنانچه

## په زمکه ليکل

حُضُورِ پُرنُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په يو ځائ تيريدَلو، هلته په زمکه څه ليکل شوي وو. سرکارِ مَدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نِزدې ناست يو ځلمي نه تپوس وکړو، دا څه ليکلي دي؟ هغه عرض وکړو: "بِسْمِ اللّٰه". وئې فرمائيل: "په داسې کوونکي دِ لعنت وي،بِسْمِ اللّٰه هُم د هغې په ځائ وساتئ." (الدُّرُّالمَنثور ج۱ ص ۲۹)

از خدا خواہیم توفیقِ ادب
بے ادب محروم گشت از فضلِ رب

(مونږ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه د ادب توفيق غواړو بې ادبه کس د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د فضل نه محروم وي)

## د هرې ژبې د حُروفو تعظيم کوئ

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** په زمکه باندې په يوه ژبه کښې هم څه لفظ ليکل پکار نه دي.ځينې وخت خلق دا ګڼړي چه د انګريزئ ژبې د ادب کولو ضرورت نشته دا د دوئې سخت غلط سوچ دې، غور خو وکړئ چه که په انګريزئ کښې ALLAH [اللّٰه] ليکلې شوې وي

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښ 50 ځله درودِ پاك ولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

نو آيا تاسو به ئې ادب نه كوئ؟ كوئ به ئې او يقيناً به ئې كوئ، تر دې كه د بې ادبئ په نِيَّت مَعَاذَالله په دې باندې څوك شپه كيږدي يا ئې زمكې له را واچوي نو كافر به شي. بهرحال د انګريزئ او د دُنيا د هرې ژبې د حروفو ادب پكار دې. په تفسيرِكبير شريف جلد اوّل ص۳۹٦ كښ دي چه، په دُنيا كښ چه څومره ژبې وئيلې شي دا ټولې اِلهامی دي. ښكاره خبره ده چه په زمكه باندې په هره ژبه كښ ليكل وشي نو د هغې بې ادبي يقيني ده. نن صبا د ټريفك د محكمې د طرف نه د رهنمائي د پاره په سړكونو باندې ځيني ليكونه شوي وي دا غلطه طريقه ده كاش چه! (د شين نه علاوه) صرف د مختلفو رنګونو دَ پټو رانښكلو نه كار اغستې شوې. په دروازو كښ داسې پائيدان ايښودل نه دي پكار چه په هغې WELL COME ليكلې شوې وي. افسوس! نن صبا تقريباً د حروفو ادب كول تقريباً ناممكنه شوې دي عام طور د خوړَوَلو په دَرَئ او په څادر [په بيډ باندې د اچولو] د فوم د ګديلو په اَستر او د پالنګ په څادرو باندې د كمپنئ يا د ډيكوريشن نوم لِيك وي، په W.C، د چپلو او د څپلو په دننه حِصّو بلكه په تَلو [يعني د پيزار په لاندينئ حصه] او د كپړې په غاړو باندې د كارخانې نوم وغيره ليكلې شوې وي، ځيني وخت په ګنډلو كښ د پاجامې د ناستې په ځاى باندې لِيك راشي نو مسلسله بې ادبي ئې كيږي. بلكه د ټولو نه زياته د تشويش خبره دا ده چه په هره ”سره خخته“ او دَ ”فرش د

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاک ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

ټائل" لاندې طرف ته ليك شوې وي. د خختې او ټائل ليكونه په ګريندړ ورانيدې شي او څوك چه په ډير شمير كښې اَخستل غواړي نو د ليك نه بغير ئې هم په كارخانه دار جوړولې شي. خو دومره زحمتونه برداشت كوونكې مَدَنى ذِهن به څنګه جوړ شي؟ كه الله تعالیٰ چا ته توفيق وركړي نو هر څه كيدې شي يو ځل په (بابُ المَدينه) كراچۍ كښې په فرش باندې پرته يوه سره خخته باندې د يو ليك په ليدلو د سګِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ زړه بې قراره شو په هغې **عُمر** ليكلې شوې وو. دا سرې خختې په حمام كښې، بَيتُ الخَلاء كښې او د هر ځائ په ديوال او فرش كښې استعماليږي. د دې الفاظو ليكلو وخت كښې د تير وخت يوه زړه دردوونكې واقعه راياده شوه هغه هُم عرض كووم.

## د مديني منورې يو زړه دردوونكې ياد

د **مَسجِدِ نَبَوی** شريف مَشرِقي طرف ته د بابِ جبرئيل مخې ته يوه پخوانۍ كوڅه وه چه د جَنَّتُ البقيع طرف ته تلې وه، هغه مُقَدَّسې كوڅې ته به عاشقانو **جَنَّتي كوڅه** وئيله، په هغې كښې ډير يادګارونه مثلاً د اَهلِ بيتِ اَطهار [يعني سادات كِرام] عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان پاك كورونه وغيره وو. اوس هغه خوره خوره حقيقي **مَدَني كوڅه** شهيده كړې شوې ده. د ۱٤۰۰ھ د يو ښكلي ماښام په وخت (سګِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ) په هغه **جَنَّتي كوڅه** كښې روان وو، چه دَ ګټير په يو سر ليكلې شوې د عربۍ په ليك مې نظر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښ چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاك ونه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِي)

پريوتو، چه په غور مې وکتل نو په هغې باندې "مجارى المَدينه" لِيکلې شوې وو. ما د عقيدت د جذبې په وجه هغه لِيك ښکل کړو او کومو بدنصيبو چه زما د خوږې خوږې مديني نوم د گټر په سر ليکلې وو د هغوئي نه مې په زړه کښ داسې نفرت پيدا شو چه بيانولې ئې نه شم. د ښکُلَولو په وخت کښ يو يَمني بوډا زه وليدم نو هغه زه اورټلم ما سر ښکته کړو او تيز تيز مخکښ روان شوم، چه څنګه روان شوم نو د شا نه راته يو کس سلام وکړو. ما چه شا ته وکتل نو هغه يو پاکستانې وو. په ډير ښه انداز ئې راسره ملاقات وکړو او عجيبه خبره دا ده چه د معذرت په انداز کښ ئې اووئيل: "د هغه يَمنى بوډا په خبره مه خفه کيږئ." بيا ئې اووئيل چه ما چه په مسجدُ النَّبَوي شريف کښ ستاسو د حاضرئ انداز وليدو نو ډير ښه راته ښکاره شو. د هغې نه پس زه په تاسو پسې شوې يم او ستاسو د هر نقل و حرکت جائزه اخلم، تاسو زما سره زما په کور کښ قيام وکړئ." ما جواب ورکړو: "اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما سره د قيام سهولت موجود دې." بيا ئې اووئيل: "ډوډئ راسره اوخورئ." ما جواب ورکړو: "فِي الحال د دې حاجت نشته،" بيا ئې اووئيل: "زما دَ طرف نه څه رقم قبول کړئ." ما د هغوئي شکريه ادا کړه او ورته مې اووئيل: "زه حاجتمند نه يم، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما سره خرچه شته." بهرحال هغه خوش عقيده سړې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښ 50 ځله درودِ پاك ولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

وو زما سره ئې د ډير **محبَّت** اِظهار وكړو، زما د پاره هغه **نا اشنا** وو. د هغې نه پس مې بيا كله د هغه سره ملاقات ونه شو. **الله** تعالىٰ دِ هغه ته اَجرِعظيم وركړي او هر مسلمان دِ د بې ادبئ او د بې ادبه خلقو دَ شر نه وساتي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

محفوظ خدا رکھنا سَدا بے اَدَبوں سے
اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے اَدَبی ہو

**د شعر ترجَمه:** يا الله عَزَّوَجَلَّ د بې ادبه خلقو نه زما حِفاظت وكړې، او ما د هميشه د پاره د بې ادبئ كولو نه په خپل امان كښ وساتي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د هوښيار دليل

په عربئ كښ د **مدينه** معنىٰ "ښار" دې ځكه د **كثر** په سر باندې **مدينه** ليكلو كښ څه باك نشته.

## د دِيوانه جواب

په عربئ كښ د ښار د پاره د "بَلَد" نوم هم استعماليږي د **مَدِينې مُنَوَّرې** د ښار اِنتِظاميه ته هم بَلَدِيَّه وئيل شي. نو بيا د **مدينه** په شان خوږ نوم د **كثر** په سر باندې ولې ليكل شي؟ د عربي ژبې نه علاوه سره د **اردو** كه په هره ژبه كښ **مدينه** اووئيل شي نو هر يو كس به د دې نه مراد **مَدِينَةُ النَّبِی** عَلٰی صاحِبِهَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام اَخلي. بلكه غټو غټو علماءِ كرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی چه د مدينهٔ مُنَوَّره زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًا وَّتَعْظِیْمًا كوم كنړ شمير نومونه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

ليکلي دي په هغې کښې ئې مُجَرّد (يعني يواځې) لفظ **مدينه** هُم شامل کړې دې. او دا د **مدينې مُنَوَّرې** په تاريخ باندې ليکلو شوو کتابونو کښې موجود دي، مَثَلاً عَلّامه نورُ الدِّين على بن احمد اَلسَّمهودى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **وَفاءُالوفا** ج1 صفحه 22 کښې د مَدينه شريف ډير نومونه تحرير کړي دي، په هغې کښې ئې يو نوم **مَدِينه** هُم ليکلې دې. بهرحال که خبره هر څومره تاو راتاو کړې شي خو د عاشقانو زړونه د کُټر په سر باندې مدينه بلکه **اَلمَدينه** ليکل نه تسليمَوي. "**اَلمَدينه**" څه دي؟ په دې خو صرف عاشقان پوهيږي. د عاشقانو د امام، اِمامِ اَهلِسُنَّت، شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په نِزد د **مدينې مُنَوَّرې** اَهَمِيَّت اوګورئ:

نام مدینہ لے دیا چلنے لگی نسیمِ خُلد
سوزشِ غم کو ہم نے بھی کیسی ہوا بتائی کیوں (حدائقِ بخشش شریف)

**د شعر ترجَمه:** د مدينې منورې په نوم اَخستو د جَنّت هواګانې لګيدل شروع شوې، مونږه د خپل غم تازه کولو د پاره څومره ښکلې هوا خوښه کړې ده.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ورور حضرت **مولانا حسن رضا خان** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه داسې فرمائي:

رہیں اُن کے جلوے بسیں اُن کے جلوے
مِرا دِل بنے یادگارِ مدینہ

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

د شعر ترجَمه: زما په په خيالونو كښ دِ هميشه د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظارې وي او زما زړه دِ د مدينې يادګار جوړ شي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

وسوسه: ګټر خو ګټر وي [يعني ګنده ځيز وي] د ګټر سر بنګلَول خو سخت عيب دې.

علاجِ وسوسه: د ګټر سر پاس وي او ګنده مواد پكښ دننه وي. وَچ سر چه په هغې باندې د ناپاكئ ظاهري اثر نه وي هغې ته د ناپاكه وئيلو هيڅ وجه نشته. لِهٰذا د مدينةُ المُنَوَّره زَادَهَا اللهُ شَرَفًا وَّتَعْظِيمًا المَدينه ليك والا وچ د ګټر سر د عِشق او مستئ په حالت كښ بنګلَولو ته به اِنْ شَآءَالله تعالیٰ يو مفتئ اِسلام هم ناجائزه ونه وائي. د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُقَدَّس وطن د ګټر په سر ليكلي شوې المَدينه د عِشق په مَستَئ كښ بنګلَول صرف د عاشقانِ مدينه حِصَّه ده. دَ خوږ خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو، او د شمعِ بَزمِ رِسالَت پتنګانو په ډير شوق او محبّت اوِوائي.

المَدينه سے ہمیں تو پیار ہے اِنْ شَآءَالله اپنا بیڑا پار ہے

د شعر ترجَمه: مونږ د المَدينه سره مينه لرو، اِن شآءَالله زمونږ بيړئ به پوريوځي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## شرابي او بخنبلي شو

يو نيك سړي خپل وررور د نشي كولو په وجه رااوغوښتو او سزا ئې وركړه. هغه چه بيرته تللو نو اوبو ته اوغورزيدو او مَړ شو. په را روانه

**شپه هغه نيك سړي خوب وليدو چه د هغه مرحوم ورور په جَنَّت كښې ګرځي.** تپوس ئې ترې وكړو: ته خو شرابى وې او دَ نشې په حالت كښې **مړ شوې وې.** بيا تا ته **جَنَّت** څنګه نصيب شو؟ هغه اووئيل: "ستاسو د وهلو نه پس چه كله بيرته تلم نو په لاره كښې يو كاغذ پروت وو، په هغې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليكلې شوې وه، ما هغه را اوچت كړو او تير مې كړو، بيا په اوبو كښې پريوتم او مړ شوم. كله چه په قبر كښې خخ كړې شوم نو مُنْكَر نَكِيْر راغلل او تپوس ئې وكړو. ما ورته عرض وكړو: "تاسو زما نه تپوس كوئ، حالانكه زما په خيټه كښې زما دَ خوږ پروردګار عَزَّوَجَلَّ پاك نوم پروت دې." په دې كښې د غيب نه اواز راغې: صَدَقَ عَبْدِىْ قَدْ غَفَرْتُ لَهٗ يعنې زما بنده رښتيا وائې، بې شكه ما دې اوبخښلو. (نُزْهَةُ المجالِس ج اول ص ۲۷) د اللّٰه تعالٰى دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تُوْبُوْا اِلَى اللّٰه اَسْتَغْفِرُ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

كاش! هر مسلمان د تبليغِ قرآن و سُنّت د عالمګير غير سياسى تحريك دعوتِ اسلامى سره تړون وكړي او د سُنَّتو په زده كولو والؤ او زده كوونكو عاشِقانِ رسُول كښې شامل شي او په هر درس او هره

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت رالېږي. (ابن عدي)

اِجتماع کښې د اول نه د آخِره پورې د حاضرئ سعادت حاصلوي او د دې د پاره د زړه په صِدق کوشش هم کوي.

## د بخښنې انعام

د يو اسلامی ورور بيان دې دا د هغه ورځو خبره ده چه په بابُ المَدينه کراچئ کښې د سُنّتو نه ډکې د درې ورځو د اجتماع زبردسته تياري جاري وه. د مَدَني قافِلې راوستلو دَ پاره د مُختلِفو ښارونو نه بابُ المَدينه کراچئ ته د تلو د پاره خصوصی ټرينونه [يعني ريل ګاډې] بُك کړې شوي وو. په هم هغه ورځو کښې زمونږ يو عزيز وفات شو يو څو ورځې پس هغه مرحوم چا په خوب کښې وليدو او د حال تپوس ئې ترې وکړو نو هغه اووئيل چه ما په کراچئ کښې کيدونکې د سُنّتو نه ډکې د دعوتِ اِسلامي په اجتماع کښې د شرکت په نِيَّت په خُصوصي ټرين کښې د ځان د پاره سِيټ بُك کړې وو. الله تعالٰی د دې رِښتينې نِيَّت په برَکَت زما بخښنه وکړه.

رحمتِ حق "بہا" نہ می جوید رحمتِ حق "بہانہ" می جوید

( د الله عَزَّوَجَلَّ رحمت "بها" يعني قِيمت نه غواړي . د الله عَزَّوَجَلَّ رحمت خو "بهانه" غواړي)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ښه نِيَّت بَرَکتونه

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو وليده؟ د ښه نِيَّت څومره اوچته مرتبه ده چه د عمل کولو موقع د نه موندلو باوجود صرف په اِجتماع

كښ د شركت په نِيَّت د خوش نصيبه ېخښنه وشوه. حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بصرى رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِرشاد فرمائي: ''انسان ته به د يو څو ورځو په عمل نه بلكه په ښه نِيَّت جَنَّت حاصليږي.'' (كيميائے سعادت ج۲ص۶۷۱)

**ياد ساتئ!** نِيَّت د زړه اِرادې ته وائي. كه په زړه كښ اراده نه وي نو خالي په آو وئيلو د نِيَّت ثواب نه حاصليږي مَثَلاً چا ته اووئيل شي چه صبا راشه او هغه اووائي ښه، خو په زړه كښ ئې دا اِراده وي چه نه به ورځم نو دا د دروغو وعده شوه او د دروغو وعده كول حرام او دوزخ ته بوتلونكې كار دې. كله چه نَبِيِّ اَكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غزوۀ تبوك د پاره تشريف يوړلو نو وئې فرمائيل چه په مدينۀ مُنَوَّره كښ څه خلق دي چه كه مونږ په كوم كندَو [يا دره] باندې ورتيريږو يا داسې ځائې تباه كوو چه كُفّارو ته پرې غُصَّه ورځي. او كه مونږ څه مال خرچ كوو يا مونږ اوږې يو نو هغوئې په دې ټولو خبرو كښ زمونږ سره شريك دي حالانكه هغوئې په مدينۀ مُنَوَّره كښ دي، صحابه كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وكړو: يا رَسولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه څنګه؟ هغوئې خو زمونږ سره نشته؟ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ''هغوئې عُذر (يعني مجبورئ) پاتې كړي دي. (هغوئې په دې وجه د ثواب حقدار وګرځولې شو چه د شِركت كولو د پوخ نِيَّت باوجود مجبوراً شريك نه شو.)''
(سُنَنُ الكبرىٰ لِلْبَيْهَقِي ج ۹ ص ۴۲، حديث ۱۷۸۲۰ وغيره)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاك ونه لوستو هغه د جَنّت لاره پریښوده. (طَبَرانِي)

خوك چه د الله تعالیٰ د رِضا د پاره خوشبو لګوي نو هغه به د قیامَت په ورځ په داسې حال کښې راځي چه دَ هغه د خوشبوئي نه به د مُشکو نه زیاتې خورې وګمې راځي او کوم انسان چه دَ غیرِ خدا د پاره خوشبو لګوي نو هغه به د قِیامَت په ورځ په داسې حال کښې راځي چه د هغه بُوئ به د مردار نه زیات بدبوداره وي.

(مُصَنِّف عبدالرزاق ج٤ص٣١٩حدیث ٧٩٣٢ ، اِحْیَاءُ العلوم ج ٤ ص ٨١٣)

**حُجَّةُ الاسلام** امام محمد غزالی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په کیمیائے سعادت کښې یو حدیث نقل کوي، د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارك دې: "خوك چه په دې نِیَّت قرض واخلي چه بیرته به ئې نه ورکوي نو هغه غل دې." (اَلتَّرْغِیب وَالتَّرهیب ج٢ص٦٠٢)

## د الله تعالیٰ پټ تدبیر

د خُدائے رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ د رَحمت نه قربان شم، هغه بې نیازه دې. د کوم بنده سره د هغه **پټ تدبیر** څه دې؟ دا هیڅ چا ته هم نه ده معلومه چه کله هغه مهربانه شي نو په ظاهره په یو وړوکي عمل د جَنَّت اعلیٰ نعمتونه ورکوي او کله چه نیول کوي نو په یوه صغِیره ګناه باندې هم نیول کوي، لِهٰذا بنده ته پکار دې چه یوه نیکی هم بالکل نه پرېږدي او د ګناه نه په هر صورت کښې ځان ساتی او په هر حال کښې د **ربِّ ذُوالجلال** عَزَّوَجَلَّ د بې نیازئ نه یریږي. حضرت علامه عبدُالرَّحمٰن ابن جوزی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل کوي.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف ولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

# يَرَوونكې حِكايَت

**حضرتِ** سَيِّدُنا حَسَن بَصرى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د خپلو دوستانو سره ناست وو چه خلقو يو مقتول (يعني يو قتل كړې شوې كس) په زمكه راښكلو او تير شو سَيِّدُنا حَسَن بَصرى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه كله د مقتول شكل وليدو نو يو دَم بي هوشه شو او زمكې ته ئې تشريف يوړو [يعني راپريوَتلو]. چه په هوش كښې راغلو نو چا ترې د دې قِصې په باره كښې تپوس وكړو نو وئې فرمائيل: دا مقتول [يعني قتل كړې شوې كس] په يو وخت كښې ډير غټ عابِد او زاهِد وو، د خلقو حيرانتيا نوره زياته شوه او عرض ئې وكړو چه يا سَيِّدي مونږ ته تفصيلي واقعه بيان كړئ نو وئې فرمائيل: "دا عابِد يوه ورځ د لـمانځه د پاره د كور نه روان شو نو په لاره كښې ئې په يوه عيسائينه جينئ نظر پريوتو او يو دَم ئې په زړه كښې د عِشق اور بل شو او د هغې په فِتنَه كښې اَخته شو، هغې ته ئې د واده مطالبه وړاندې كړه، هغې دا شرط وړاندې كړو چه عيسائي شه، دَ څه وخته پورې عابِد صبر وكړو خو آخِر كار د شهوت د لاسه مجبوره شو، اِسلام ئې پريښودو او عيسائي شو، كله ئې چه جينئ ته خبر وركړو نو هغه غُصَّه شوه او هغه ته ئې پيغور وركړو چه: اے بدنصيبه! په تا كښې هيڅ خير نشته، تا چه د خپل دِين سره وفا ونه كړه نو د بل چا سره به څه وفا وكړې. اے بدبخته! تا د شَهوت په مستئ كښې د خپل ټول عمر عبادت و رياضت برباد كړو بلكه خپل

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر وشو او هغه په ما درودِ پاک ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّي)

دِين دِ هم پرېښودو! واوره! تا خو اسلام پرېښودو او مُرتَد شوې او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما عيسائيت پرېښودې دې او مسلمانه شوې يم، دا ئې اووئيل او د سُوْرَةُ الْاِخْلَاص تِلاوت ئې وكړو، يو كس ترې په حيرانتيا سره تپوس وكړو چه دا تا څنګه ياد كړې دې؟ هغې اووئيل: دراصل خبره دا ده چه زه په خوب كښې جَهَنَّم ته په داخليدو شوم نو ناڅاپه يو صاحب هلته راغلو او ما ته ئې تَسَلِّي راكړه او را ته او ئې وئيل: مه يرېږه، ستا په ځائ هم هغه سړې فِديه شوې دې. (يعني ستا په ځائې به هغه دوزخ ته ځي) په دې كښې دا عاشقِ نامُراد زما په ځائ جَهَنَّم ته د تلو د پاره راغې. بيا هغه صاحب زه جَنَّت ته بوتلم، هلته ما دا ليكلې شوې وليدل:

يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَ يُثْبِتُ ۚۖ وَ عِنْدَهٗۤ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿۳۹﴾

(پ۱۳ الرّعد: ۳۹)

مفهوم ترجمۀ كنزُ الاِيمان: الله چه څه غواړي ورانوي او ثابتوي او اصل ليك هُم د هغه سره دې.

بيا هغوئي ما ته سُوْرَةُ الْاِخْلَاص رازده كړه، كله چه زه رابيداره شوم نو دا ما ته ياد شوې وو.

حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بصرى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه اوفرمائيل: هغه خوش نصيبه جينئ خو مسلمانه شوه خو بدنصيبه عابِد د شهوت نه مغلوبه شو او د مرتد كيدو نه پس نن قتل كړې شو. نَسْأَلُ اللّٰهَ الْعَافِيَةَ مونږ د الله تعالیٰ نه د خير او عافِيَّت سوال كوو. (بَحْرُ الدّمُوع اَلْفَصْلُ السّادِسُ عَشَر ص ۸۶)

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک ولوستل د قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د الله تعالیٰ د بې نیازۍ او دَ هغه دَ پټ تدبير نه هر وخت يريدل پکار دي. په مونږ کښې هيڅ چا ته هم معلومه نه ده چه زمونږه خاتمه به په ايمان کيږي او که نه. آه، آه، آه! قَسم په خُدائے تعالیٰ مونږ په دُنيا کښې د پيداکيدو سره په ډير زيات سخت ازميښت کښې اخته شو، په دې معامله کښې خو ځناوران او خزنده [په زمکه کرځيدونکي چينجي، ميږي وغيره] هم زمونږ نه ښه دي چه نه خو هغوئي د سَلبِ ايمان [يعني د ايمان د بربادېدو] يره لري او نه د ځنکدن د سختو، او نه د قبر و حشر د سختو او عذاب يَره لري، او نه د جَهَنَّم د عذاب يره لري.

کاش کہ میں دُنیا میں پیدا نہ ہُوا ہوتا قبر و حشر کا ہر غم ختم ہو گیا ہو تا
آہ! سَلبِ ایماں کاخوف کھائے جاتا ہے کاش! میری ماں نے ہی مجھ کو نہ جنا ہوتا
آہ! کثرتِ عِصیاں ہائے خوف دوزخ کا
کاش! اِس جہاں کا میں نہ بَشَر بنا ہوتا

کاش چه زه دُنيا کښې نه وې پيدا شوې د قبر و حشر ټول غم به وې ختم شوې
آه! د سَلبِ ايمان يَرې اوخوړمه کاش چه زه د مور نه نه وې پيدا شوې
آه! ډير مې ګناهونه دي او ويره د دوزخ ده
کاش! د دې جهان زه بشر نه وې جوړ شوې

الله تعالیٰ بې نيازه دې، مونږ ته هر وخت د هغه نه يره پکار ده. د اِيمان د حفاظت په مُعامَله کښې کله هُم غفلت کول نه دي پکار.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرودِ پاك ونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

په بد صُحبَت کښې هلاکت او هلاکت دې او ښه صُحبَت او دَ ښو خلقو سره په محبت او نسبت کښې خیر او عافِیت دې. څوك چه د تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالمګیر غیر سیاسی تحريك **دعوتِ اِسلامی** په مَدَنی ماحول کښې شامل شي او ټول عمر پکښې شامِل اوسي په هغه باندې هغه رحمتونه وَریږي چه اوریدونکي ورته حیرانیږي. چنانچه

## د مدينې مُسافِر

د **بابُ المَدینه** (کراچئ) دَ نیا آباد د علاقې د یو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامی بیان زه په خپلو الفاظو کښې پیش کووم، هغوئې وائې چه زما پلار **حاجی عبدُالرَّحیم عطاری** (پټنی) چه عمر ئې د اویاو کالو خوا و شا وو خپل د شروع ژوند ئې د دُنیا په تماشو کښې تیر کړې وو خو بیا اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دَعوتِ اِسلامی دَ مَدَنی ماحول په بَرَکت د هغه په ژوند کښې مَدَنی اِنقِلاب راغې. په 1995ء کښې ئې چه کله د دویم حج خوشخبرې واوریده نو ډیر زیات خوشحاله شو څومره چه وخت رانِزدې کیدو د هغه خوشحالی هم زیاتیدله آخِر د هغوئې د خوشحالو مِعراج را نِزدې شو. د شپې 4 بجے ائیر پورټ ته روانیدل وو. ټوله شپه په خوشحالئ خوشحالئ دَ تلو په تیارئ کښې مشغول وو، کور دَ میلمَنو نه ډك وو تقریبا 3 بجے ئې په خپله کوټه کښې اِحرام خوا ته کیښودلو او څملاستلو، زه هم څملاستم، لږ ساعت پس په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاك ونه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانی)

مشکله به پنځلس منټه تير شوي وو چه چا زما د کوټې دروازه اوډَبوله، زه فوراً پاڅيدم، دروازه مې بيرته کړه نو مور مې خفه ولاړه وه. او وئيل ئې چه ستا د پلار طبيعت خراب شوي دې زه فوراً د هغوئي کوټې ته ورغلم، نو والِد صاحِب په بې قرارئ خپله سينه مږله، فوراً مو اسپتال ته ورسوَلو، ډاکټر اووئيل چه د زړه دوره پرې راغلې ده، په کور کښې غوغا جوړه شوه ولې چه لږ ساعت پس د مدينې په سفر روانګی ده او دا مو په پلار خه وشو. افسوس چه جهاز د والد صاحب نه بغير د مدينې طرف ته والوَتو. والد محترم پينځه ورځې په اسپتال کښې وو، په دې کښې پرې خلور ځله د زړه نورې دورې راغلې خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دَعوتِ اسلامی د ماحول په بَرَکت ترې د هوش په حالت کښې يو لمونځ هم قضا نه شو. کله به چه د لمانځه وخت شو نو په غوږ کښې به مو ورته عرض وکړو چه لمونځ وکړئ، فوراً به ئې سترګې اوغَړَولې. تَيَمُّم به مو ورله وکړو، د کمزورئ په وجه به ئې په اِشاره لمونځ کولو. په آخري دوره بيا بې هوشه شو. د ماسختن د اذان په وخت کښې ئې سترګې اورَپوَلې نو ما ورته فوراً عرض وکړو: دا دا جانه! د لمانځه د پاره درله تَيَمُّم وکړم، په اِشاره ئې اووئيل چه آو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما ورله تَيَمُّم وکړو او والد صاحِب اَللّٰهُ اَکبَر اووئيل لاس ئې وتړلو او بيا بې هوشه شو، مونږ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

اويريدو او په منډه په ډاکټر پسې لاړو فوراً! ئې I.C.U ته يوړلو يو څو مِنټه پس ډاکټر راغلو او وئيل ئې چه ستاسو والد صاحب ډير خوش نصيبه وو ځکه چه هغوئي په اوچت اواز کَلِمه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اووئيله او وفات شو اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ (پ۲ البقرہ ۱۵٦) يو سَيِّد صاحِب والد مرحوم ته غُسل ورکړو. د والِد صاحب عادت وو چه د ګوتو په شمير به ئې ذِکر و اَذکار کولو، لِهٰذا د هغوئي ګوتې په داسې انداز وې لکه څه چه لوَلي ډير ځل مو ورله ګوتې نيغې کړې خو بيا به په هم هغه انداز شوې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ډير اسلامی وروڼړه په جنازه کښې شريك شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما د مشر ورور هم دَ والد مرحوم سره يو ځائ حج ته د تلو ترکيب وو هغه د حج سعادت حاصل کړو، ورور مو وائي چه ما په مدينهٔ مُنَوَّره کښې په ژړا ژړا په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې عرض وکړو چه کاش! زما د والد مرحوم حال ما ته ښکاره شي. چه اوده شوم نو خوب مې وليدو چه والد مرحوم اِحرام تړلې راغلو او فرمائي: "تا ياد کړم نو راغلم، زه (مَدينې مُنَوَّرې ته) راغلې يم او د عُمرې نِيَّت مې کړې دې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه ډير خوشحاله يم." په بل کال زما وراره په مسجدُ الحرام کښې دننه دَ کعبةُ الله شريف مخې ته خپل نيکه يعني زما والد مرحوم حاجی عبدُالرَّحيم عطاري عين د بيدارئ په حالت کښې د ځان سره په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك وليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

خوا کښې په لـمانځه وليدلو. د لـمانځه نه چه فارغ شو نو ډير ئې وکتلو خو پيدا نه کړې شو. د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږ بې حسابه بخښنه وشي.

مدینے کا مسافر سندھ سے پہنچا مدینے میں
قدم رکھنے کی نوبت بھی نہ آئی تھی سفینے میں

د مديني مسافر د سِندھ نه ورسيدو مديني ته
داسې چه لا ختلې هُم نه وو سَفِينې ته

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

الله تعالیٰ د خپل نوم په تعظيم کولو ډير خوشحاليږي او په داسې بنده د اِنعام او اِحسان بارانونه وروي دا هُم د هغه يو پټ تدبير دې چه د يو سخت ګنهګار او شرابي نه په ظاهره په يوه وړوکې نيکۍ خوشحاله شي او د توبې توفيق ورکړي او ولئ کامل ئې جوړ کړي. چنانچه

## شرابی وَلی جوړ شو

حضرتِ سَيِّدُنا بِشرِحافِي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دَ توبه کولو نه مخکښې ډير لوئ شرابي وو، يوه ورځ هغه د شرابو په نشه کښې مست چرته روان وو. په لاره کښې پروت يو کاغذ ئې وليدو چه په هغې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ليکلې شوې وه. هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ تعظيماً هغه کاغذ راواخستو، [په بازار کښې ئې] عطر واخستل او په هغې ئې ولګول، او د ادب په وجه ئې په يو اوچت ځائ کښې کيښودو. په هم هغه شپه يو بُزُرګ رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خوب کښې واوريدل چه څوك وائي: "لاړ شه! بِشر ته اووايه چه تا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

زما نوم خوشبوداره كړو، دَ هغې تعظيم دِ وكړو او په اوچت ځائ كښې دِ كيښودو، مونږ به هم تا پاك كړو." هغه بزرګ رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه سوچ وكړو چه **بِشر خو شرابي دې.** كيدې شي چه زما دا خوب صحيح نه وي. چنانچه هغوئي اودس وكړو، نفل ئې وكړل او بيا **اوده** شو. په دويم او دريم ځل ئې بيا هم هغه خوب وليدو او دا ئې هم واوريدل چه "زمونږ دا پيغام هُم د **بِشر** د پاره دې، لاړ شه! او هغوئي ته زمونږه دا پيغام ورسوه!" چنانچه هغه بزرګ رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه دَ حضرتِ بشر رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه په لټون كښې را اووَتلو. هغه خبر شو چه هغه د شرابو په **محفل** كښې دې نو هلته ورسيدلو او **بِشر** ته ئې غږ وكړو. خلقو ورته اووئيل چه هغه خو د شرابو په نشه كښې بدمست دې! هغوئي اووئيل، ورشئ په څه طريقه هغه ته اووائې چه يو كس ستا په نوم څه پيغام راوړې دې او هغه بهَر ولاړ دې. څوك دَننه ورغې او خبر ئې ورته وركړو. حضرت سَيِّدُنا بِشرِحافی رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه اوفرمائيل: تپوس ترې وكړه چه د چا پيغام دِ راوړې دې؟ هغه بزرګ رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ورته اوفرمائيل: دَ **الله** تعالیٰ پيغام مې راوړې دې. چه هغوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ته دا خبر وركړې شو نو دومره زيات خوشحاله شو چه فوراً بنبې اَبله بنبې بهَر ته راغلو، چه پيغامِ حق عَزَّوَجَلَّ ئې واوريدو نو د زړه په صِدق ئې توبه اووِيستله او هغه اوچت مقام ته ورسيدلو چه د مشاهَدَهٔ حقّ د غَلَبې د

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

زيات والي په وجه به ښپې ابله ښپې ګرځيدلو. په دې وجه هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د حافى (يعنى ښپې ابله ښپې) په لقب مشهور شو. (تذكرةُ الاولياء ص ٢٨) دَ الله تعالٰى دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## با اَدب با نصيب بې ادب بې نصيب

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د کاغذ په يوه ټکړه د الله تعالٰى مبارك نوم ليکلي شوې وو، د هغې دَ ادب کولو په وجه يو سخت ګنهګار او شرابى وَلِيُّ الله جوړ شو، نو د کومو خلقو په زړونو کښې چه د الله تعالٰى نوم ليکلي شوې وي او د هغوئي زړونه د ذِكرُ الله عَزَّوَجَلَّ په وجه روښانه وي نو د هغه پاکو هَستيانو د ادب کولو په بَرَکت به مونږ ګنهګاران د الله تعالٰى په فضل و کَرم ولې نه کاميابيږو؟ او خوك چه دَ ټولو اولياء او انبياء آقا دې، يعني سَيِّدُ الْاَنبِيَاء، اَحمَدِ مُجتَبٰى، مُحَمَّد مُصطفٰى صَلَّى اللّٰہُ تَعَالٰى عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي ادب به زمونږ ربّ تعالٰى ته څومره خوښ وي. يقيناً د يو اوچت شان لرونکي د نوم د ادب د اجر و ثواب سَبَب دې. حضرت سَيِّدُنا بِشرِحافى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه دَ الله تعالٰى دَ نوم ادب وکړو نو بزرګى ئې اوموندَله، نن كه مونږ د شَهَنشاهِ عالي نَسب، محَمَّدِ مُصطفٰى صَلَّى اللّٰہُ تَعَالٰى عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاك نوم ادب وکړو، چرته ئې چه واورو ښكُل ئې کړو، په سترګو پورې ئې ولګوو نو ولې به عزَّت نه مومو؟ حضرت سَيِّدُنا بِشرِحافى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

عَلَیْه چه د الله تعالیٰ نوم ولیدو نو عطر ئې پرې ولګول او [د دې په بَرَکت ئې پخپله] پاك شو، نو چه چرته د نَبِيّ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیږي او مونږ په هغه ځائ کښې عرقِ ګلاب وشیندو نو ولې به نه پاك کیږو؟

کیا مہکتے ہیں مہکنے والے بُو پہ چلتے ہیں بھٹکنے والے
عاصیو! تھام لو دامن اُن کا وہ نہیں ہاتھ جھٹکنے والے

(حدائقِ بخشش شریف)

بـدن د خوږ آقا داسې خوشبو کوي لاره خطا ئې په خوشبو لټوي
ګنهګارو! ونیسئ لمن د هغوئي هغوئي یو چا ته نه هُم اِنکار نه کووي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ځناور هم د ولي تعظیم کوي

حضرت سَیِّدُنا بِشرِحافی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه به همیشه ښپې ابله ښپې ګرځیدلو تر څو پورې چه هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په بَغداد شریف کښې ژوندي وو د هغه وخته پورې یو ځاروي هم د بغداد په لارو کوڅو کښې غوشان نه کول او دا صرف د دې ادب په وجه چه بشرِ حافی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې کوڅو کښې ښپې ابله ښپې ګرځي. یوه ورځ یو ځاروي په لار کښې غوشان وکړل، د هغه [ځاروي] مالِك چه دا ولیدل نو اویریدو چه داسې معلومیږي چه نن سَیِّدُنا بِشرِحافی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه وفات شوي دي، ګني دې ځاروي به کله هم په لاره کښې غوشان نه وې کړې. چنانچه لږ ساعت پس هغه خبر شو چه حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه وفات شوي دي.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

د الله تعالیٰ دِ په هغوئ رَحمت وي او د هغوئ په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي. (مُلَخَّص از احسنُ الوِعاء ص ۱۳۷)

جو کہ اِس دَر کا ہوا خَلقِ خُدا اُس کی ہوئی
جو کہ اِس دَر سے پھرا اللہ اُس سے پھر گیا

ٹھوکریں کھاتے پھروگے اِن کے دَر پر پڑ رہو
قافِلہ تو اے رضاؔ اوّل گیا آخِر گیا

د اشعاروترجَمہ: (۱) څوك چه د مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم منونکې شو نو د الله تعالیٰ مخلوق د هغه منونکې شو، او چا چه دا در پريښودو نو الله تعالیٰ هغه پريښودو. (۲) د مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښ پروت اوسه، که د دې دربار نه لاړې نو اخوا ديخوا به ټوکرې خورې، اے رضاؔ قافلې خو ځي او راځي.

## د عقيدت مندو هم بخښنه وشوه

حضرتِ سَيِّدُنا بِشرِحافی رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ چه وَفات شو نو قاسِم بِن مُنَبِّه په خوب کښ وليدو، تپوس ئې ترې وکړو مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني الله تعالیٰ ستا سره څه مُعامَله اوفرمائيله؟ جواب ئې ورکړو: "الله تعالیٰ زه اوبخښلم او راته ئې اوفرمائيل: ته او څوك چه ستا په جنازه کښ شريك شوي وو هغه ټول مې هُم اوبخښل. نو ما عرض وکړو: يااللّٰه عَزَّوَجَلَّ څوك چه زما سره مَحَبَّت کوي هغه هم اوبخښه. نو د الله تعالیٰ رحمت نور هم په جوش کښ راغې او وئې فرمائيل: د قيامته پورې چه ستا سره څوك مَحَبَّت کوي هغه ټول مې هم اوبخښل." (شرحُ الصُّدور ص ۲۸۹)

اَعمال نہ دیکھے یہ دیکھا، ہے میرے ولی کے در کا گدا
خالِق نے مجھے یوں بخش دیا سُبحٰنَ اللہ سُبحٰنَ اللہ

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر وشو او هغه په ما درود پاک ونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

د شعر ترجَمه: يعني الله تَعالیٰ زما اعمالو ته ونه کتل، بس صرف په دې خبرې ئې زه اوبخښلم چه دا زما دَ ولی د در فقير دې. سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** دَ **بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم** په تعظيم کولو د سَيِّدُنا بِشرِحافی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه مرتبه څومره اوچته شوه، چه د هغې په بَرَکتونو کښې زمونږه هُم حِصَّه شته دې! ځکه چه هغوئي دَ الله تعالیٰ په دربار کښې عرض کړې وو نو الله تعالیٰ د هغوئي سره د مَحَبَّت کوونکو د بخښنې زيرې هم ورکړو. نو ځکه به اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه هم کامياب شو ولې چه **مونږه هم د ټولو اولياء الله او د ولئِ کامِل حضرتِ سَيِّدُنا بِشرِحافی** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه **سره محبت لرو.**

بشرِ حافی سے ہمیں تو پیار ہے اِن شآءَ الله اپنا بیڑا پار ہے
ہم کو سارے اولیاء سے پیار ہے اِن شآءَ الله اپنا بیڑا پار ہے

د شعر ترجَمه: مونږ د بِشرِحافي او د ټولو اوليائے کرامو سره مينه لرو، ځکه به اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږه بيړئ پوريوځي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اوس د زمکې نه د مُقَدَّسو پاڼړو د اوچتولو فَضِيلَت واورئ او خوشحاله شئ:

## دَ مُقَدَّس کاغذ د اوچتولو فضيلت

د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې چه د مَدينې د سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَک دې: "څوک چه دَ زمکې نه داسې کاغذ راپورته کړي چه په هغې کښې

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

د الله تعالیٰ په نومونو کښې يو نوم [ليك] وي نو الله تعالیٰ به د هغه نوم (د رُوحونو د ټولو نه اعلیٰ مقام) عِلِّيِّيْنَ کښې اوچت کړي او د هغه د مور و پلار په عذاب کښې به تَخفِيف [يعني کمې] وکړي اګر که د هغه مور و پلار کافِر هم وي." (مَجمَعُ الزَّوائد ج ٤ ص ٣٠٠)

## مفتئ اعظم هِند او دَ کاغذونو او حروفو تعظيم!

**عالِمِ** باعمل، تاجدارِ اَهلِسُنَّت، شَهزادهٔ اعلیٰ حضرت مولانا الحاج مُحَمَّد مُصطفٰی رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه المَعروف "حُضُور مُفتئ اعظم هِند" به د ساده **کاغذونو او د حروفِ مُفرِده** [يعني د يو يو حرف مَثَلاً ا ب ج وغيره] هم تعظيم کولو ځکه چه هغه د قرآن و حديث او دَ شريعت د خبرو په ليکلو کښې پکاريږی. په ١٣٩١ھ کښې د **دارُالعُلوم رَبَّانِيَّه** بانده (الهِند) د کليزي [يعني سالانه] دستار بندئ جلسې ته **حُضُور مُفتئ اعظم هِند** رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه تشريف راوړو کله چه د سوَرلئ نه کوز شو او يو څو قَدمه لاړو نو هغوئي د اُردو د ليکونو د کاغذ يو څو ورَستې ټکړې وليدلې، هغوئي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فوراً دَ زمکې نه هغه ټُکړې را اوچتې کړې او وئې فرمائيل: "**د کاغذونو او د عربئ د حروفو** اِحترام کول پکار دي (د اردو دَ يو څو حروفو نه علاوه ټول دَ عربئ حروف دي)، ولې چه هم د دې په ذريعه قرآنِ عظيم، مُقَدَّس احاديث او تفسيرونه مُرَتَّب

فرمَانِ مُصطفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

کیږي. (مُلَخَّصًا مفتیِٔ اعظم کی استقامت وکرامت ص ) د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

## حُضُور مُفتیِٔ اَعظم هِند او د درد مندو سره غمرازي

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو ولیده! دَ حُضُور مُفتیِٔ اعظم هِند رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د ادب جذبه! څوك چه دَ حروفِ تَهَجِّهی او د عام ساده کاغذونو دومره اِحترام کوي هغه به د اِحترامِ مُسلِم څومره خیال ساتي! چنانچه حُضُور مُفتیِٔ اَعظم رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د مسلمانانو سره دَ غمرازئ [یعني په غم درد کښ د شریك کیدو] او د هغوئي د زړونو د خوشحالَوَلو په باره کښ یو مِثال لرلو، د مسلمانانو د زړه ازارولو نه به هغوئي هر وخت ځان ساتلو، مسلمانانو ته دَ فائدي رَسَوَلو به ئې ډیر حِرص لرلو او ولې به ئې حِرص نه لرلو چه د کوم مَدَنی آقا خوږ خوږ مصطفی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره هغوئي ډیر عشق لرلو د هم هغه خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشادِ حقیقت بُنیاد دې: "خَیْرُ النَّاسِ اَنْفَعُھُمْ لِلنَّاسِ" یعني "بهترین کس هغه دې څوك چه خلقو ته فائده ورسوِي." (الجامِعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطی ص ٢٤٦ حدیث ٤٠٤٤) په دې حدیثِ پاك باندې د عمل کولو یو عجیبه مَدَنی حِکایت اوکورئ: چنانچه حُضُور مُفتیِٔ اعظم رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته په یوه خاص موقع باندې مدرسهٔ فَیضُ العُلُوم (دهتکي ډیهه جمشید پور، جهارکهند هِند) ته د تشریف راوړو دعوت ورکړې شوې وو په بیرته تلو کښ ریلوے استیشن ته دَ تللو د پاره چه څنګه حُضُور مُفتیِٔ اعظم

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په رکشه کښې کښيناستلو نو يو کس حاضر شو او عرض ئې وکړو، حضرت صاحِب! فلانکۍ پريشانئ کښې اخته يم، څه تعويذ راته راکړئ. دَ هغه مدرسې مُهتَمِم رَئيسُ القَلَم حضرتِ عَلّامه ارشدُ القادري صاحب هغه کس ته اوفرمائيل: د ريل ګاډې د تللو وخت شوې دې او ته اوس تعويذ غواړې! **حُضُور مُفتئ اعظم هند** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ عَلّامه (ارشدُ القادري) صاحب (زِيدَ مَجدُهٗ)[1] هغه کس ته د اِنکار کولو نه منع کړو. عَلّامه صاحِب عرض وکړو: حضرت صاحِب ريل ګاډې به لاړ شي. په دې باندې **حُضُور مُفتئ اعظم هِند** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **الله** پاك د يرې نه ډك او د درد مند اُمَّت دَ زړه خوشحالولو په بې قرارئ کښې ډوب داسې جواب ورکړو چه د سرو زرو په قلم د ليکلو قابِل دې، هغوئ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوفرمائيل: "ريل دِ لاړ شي په دويم ريل کښې به لاړ شم. صبا د قيامت په ورځ که رانه خداوندِ کريم عَزَّوَجَلَّ تپوس وکړې چه تا زما د فلانکې بنده په پريشانئ کښې مدد ولې نه وو کړې؟ نو څه جواب به ورکووم!" دا ئې اوفرمائيل او دَ رکشې نه ئې ټول سامان راکوز کړو. (مفتئ اعظم کی استقامت و کرامت ص ۱۲۰،۱۲۱) د الله تعالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

---

[1] دا مضمون غالِباً د علّامه ارشدُالقادري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په ژوند کښې ليکل شوې وو ولې چه "زِيدَمَجدُهٗ" د ژوندو د پاره د ليکلو رواج دې.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

خیال خاطر احباب چاہیے ہر دم
انیس ٹھیس نہ لگ جائے آبگینے کو

د زړه خيال ساتل پکار دي د هر چا هسې نه چه زړه خفه شي د يو چا

## د مُقَدَّس کاغذ بَرَکت

د **حضرتِ** سَيِّدُنا مَنصور بن عَمَّار رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د توبې سَبَب دا جوړ شو چه يو ځل هغوئي په لار کښې د کاغذ يوه ټُکړه وليده چه په هغې باندې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليکلې شوې وه، هغوئي په ادب سره د ايښودو څه مُناسِب ځائ ونه موندلو نو هغه کاغذ ئې تير کړو. د شپې ئې خوب وليدلو چه ”څوک وائي چه **الله** رَبُّ العِزَّت جَلَّ جَلَالُہٗ د دې مُقَدَّس کاغذ د اِحترام په بَرَکت په تا باندې د حکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې. (اَلرِّسالۃُ القُشیریہ ص۴۸) د **الله** تعالٰی دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو وليده! چه يو داسې کاغذ چه په هغې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليکلې شوې وه د هغې په راپورته کولو او د هغې په تعظيم کولو **الله** تعالٰی هغوئي ته د توبې توفيق ورکړو او د **اوتاد** عظيمه مرتبه ئې ورعطا کړه، څنګه چه په **بَهجَةُ الاَسرَار شريف** کښې دي، حضرتِ سَيِّدُنا شيخ ابو بکر بن هوار رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”چه د

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

عراق اوتاد ووه دي: (۱) حضرت سَيِّدُنا شيخ مَعروف كرخي (۲) حضرت سَيِّدُنا شيخ امام احمد بن حنبل (۳) حضرت سَيِّدُنا شيخ بشرِ حافی (٤) حضرت سَيِّدُنا شيخ منصور بِن عَمّار (٥) حضرت سَيِّدُنا شيخ جُنيد (٦) حضرت سَيِّدُنا شيخ سَهل بن عبدالله تُسترى (۷) حضرت سَيِّدُنا شيخ عبدُالقادِر جيلانى رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى (زمونږه غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په هغه وخت كښې لا نه وو پيدا شوې، په دې وجه دا دَ غيب خبر چه واوريدې شو نو) عرض وكړې شو. چه عَبدُالقادر جيلانى ځوك دې؟ حضرت سَيِّدُنا شيخ هوار رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: "يَو عَجَمى "شريف" به وي (اهل عرب سَيِّدانو ته "شريف" يا "حَبِيب" وائي او د جناب په ځائ لفظ دَ سَيِّد استعمالوي، مطلب دا دې چه يو غيرِ عربي سَيِّد صاحب) چه په بَغداد شريف كښې به اوسيږي، هغوئي به په پينځمه صدئ هجرئ كښې ظاهريږي او هغوئي به په صِدِّيقين (يعني دَ اولياءِ كِرام د ټولو نه اعلٰى درجه) كښې يو وي." اوتاد هغه هستياني دي چه هغوئي د دُنيا سرداران او د زمكې قُطبان دي. (بَهجَةُ الاسرار مترجم ۳۸٥) دَ الله تعالٰى دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

د زمكې د يوې حصّې يعني ښار وغيره انتظام چه كوم ولِيُّ الله ته سپارلې شوې وي هغوئي ته قُطب وائي.

## د ځلورو دُعاګانو حكايت

د بِسۡمِ اللّٰهِ شريف دَ كاغذ د تعظيم په بَرَكت حضرت سَيِّدُنا مَنصُور

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ځوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود ولولي **الله** د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

بن عَمَّار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په لويو اولياءِ کرام کښې شامل شو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به د نيکئ ډير زيات دعوت ورکولو، بې شميره خلق به د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د بيان اوريدلو د پاره په ډير عقيدت راتلل. يو ځل د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په اجتماع کښې يو حقدار د څلورو دِرهمو سوال وکړو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اعلان اوفرمائيلو: "ځوك چه دې [حقدار] ته څلور دِرهمه ورکړي، زه به د هغه د پاره **څلور دُعاګانې** وکړم. په دغه وخت کښې يو غلام په هغه ځائ تيريدَلو د يو وَلِئ کامِل د رحمَت نه ډك اواز ئې چه واوريدلو نو ودريدو او د هغه سره چه کوم څلور دِرهمه وو هغه ئې هغه سوالګر ته ورکړل. حضرت سَيِّدُنا مَنصُور رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: وايه کومې څلور دُعاګانې کول غواړې؟ عرض ئې وکړو: (۱) چه زه د غلامئ نه آذاد کړې شم (۲) ما ته د دې دِرهمو بدله راکړې شي (۳) ما ته او زما آقا ته توبه نصيب شي (٤) زما او زما دَ آقاء ستاسو او د دې ټولو حاضرو خلقو بخښنه وشي. حضرتِ سَيِّدُنا مَنصور رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه لاس پورته کړو او **دُعا** ئې وکړه. غلام د خپل آقا خوا ته لږ ناوخته ورسيدو، آقا ترې دَ ناوخته راتلو تپوس وکړو. هغه ورته دا واقعه بيان کړه، آقا ورته اووئيل چه **اولنئ دُعا** څه وه؟ غلام اووئيل: ما عرض وکړو چه دُعا وکړئ چه زه د غلامئ نه ازاد کړې شم. دا ئې چه واوريدل نو د آقا د خُلې نه بې اِختياره اووتل: "ځه، ته د غلامئ نه ازاد ئې." تپوس ئې ترې وکړو: **دويمه دُعا** څه وه؟ هغه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر وشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

اووئيل: کوم څلور دِرهمه چه مې ورکړي دي د هغې بدله راکړې شي، آقا ئې اووئيل: څه تا ته دَ څلورو دِرهمو په بدله کښې څلور زره دِرهمه درکووم. بيا ئې ترې تپوس وکړو چه دريمه دُعا کومه وه؟ وئې وئيل: ما ته او زما آقا ته د ګناهونو نه د توبه کولو توفيق نصيب شي، دا ئې چه واوريدل نو د هغه په ژبه استِغفار جارى شو او وئې وئيل: زه د الله تعالیٰ په بارګاه کښې دَ خپلو ګناهونو نه توبه کووم. وايه څلورمه دُعا څه وه؟ ما عرض وکړو چه زما او زما د آقا او ستاسو او د ټولو حاضرو خلقو بخښنه وشي. دا ئې چه واوريدل نو آقا اووئيل **درې** خبرې زما په اِختيار کښې وې هغه مې وکړې، **څلورمه** دُعا چه هغه د ټولو دَ بخښنې خبره ده دا زما د اختيار نه بَهر ده. په دغه شپه [د هغه غلام] آقا خوب وليدو، په خوب کښې ئې دا واوريده چه کوم څه ستا په اختيار کښې وو هغه تا وکړل او زه اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْن يم، ما، ته، ستا غلام، منصور او ټول حاضر خلق اوبخښل. (روضُ الرِّياحين ص۲۲۲،۲۲۳) دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

دُعائے ولی میں وہ تاثیر دیکھی
بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

په دُعا کښې دَ ولی مې دي ليدلې دا تاثير چه بدل ئې د زرګاؤ کړو تقدير

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئي هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

# د خاورې ماته پياله

دَ سلسلهٔ نقشبنديه عظيم پيشوا حضرتِ مُجَدِّدِ اَلفِ ثانى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه يوه ورځ په عامه **بَيْتُ الْخلاء** کښې يوه ماته پياله وليده چه هغه د بنګى د صفائې د پاره ايښودې شوې وه. په ګنډګئ ککړه د خاورې پياله وه او لږه غاړه ئې ماته وه، چه په غور ئې ورته وکتل نو بې قراره شو ځکه چه په هغې لفظِ ”الله“ ليکلې شوې وو، زر ئې پياله را اوچته کړه، او په خپل خادِم ئې د اوبو کوزه را اوغوښتله، هغه پياله ئې په خپلو لاسو ښه اومږله او پاکه ئې کړه. بيا ئې په يوه سپينه کپړه کښې اونغښته او په اوچت ځائ ئې په ادب کيښوده. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به بيا په هغه پياله کښې اوبه څښلې. يوه ورځ د الله تعالىٰ د طرف نه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته اِلهَام وشو: ”څنګه چه تا زما د نوم تعظيم وکړو دغسې به زه هم ستا نوم په دُنيا او آخِرت کښې اوچت کړم.“ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به فرمائيل: ”د الله تعالىٰ دَ پاك نوم په ادب کولو ما ته هغه مقام حاصل شو چه هغه ما ته د سلو کالو په عبادت هم نه شو حاصليدې!“

(مُلَخَّص از مکتوباتِ رَبَّانى دفتر دوم ص ۱۱۳ مکاشفه نمبر ۳۵)

# د ساده کاغذ هم ادب پکار دې

د سلسلهٔ عاليه نقشبنديه عظيم پيشوا حضرت سَيِّدُنا شيخ احمد سرهِندي المَعروف مجدِّدِ اَلف ثانى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به دَ ساده کاغذ هُم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

احترام کولو. يوه ورځ په خپله بِستره تشريف فرما وو، ناڅاپه بې قراره شو او ښکته راکوز شو، او وئې فرمائيل: معلوميږي چه د دې بِسترې نه لاندې څه کاغذ دې. (زُبدة المَقامات ص۱۹۲)

## په لاره باندې کاغذونه په لتو مه وهئ

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! معلومه شوه چه دَ ساده کاغذ هم ادب کول پکار دې، ځکه چه په دې باندې قرآن و حديث او اسلامی خبرې ليکلې شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې حکايت نه د مُجَدِّدِ اَلف ثانی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه کرامت هم معلوم شو، چه هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته دليدلو نه بغير هم دا معلومه شوه چه د بِسترې نه لاندې کاغذ دې او هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ښکته راکوز شو چه نورو خلقو ته هم د کاغذ د ادب ترغيب ورکړې شي. په "بهارِ شريعت" کښې دي، چه په کاغذ استنجا پاکول منع دي اګر که په هغې هيڅ هم نه وي ليکل شوي، اګر که د ابوجَهل په شان د کافر نوم پرې ليکلې شوې وي. (بهارِ شريعت، حصه ۲ ص ۱۱۴)

دَ لفظِ "اَبُوجَهل" حروفِ تَهَجِّی (ا ب و ج ه ل) د قرآن حروف دي، په دې وجه د دې ليکلي شوي لفظ "ابوجهل" (د هغه کس اَبُو جهل نه بلکه د دې حروفو) تعظيم به کيږي، [او د قرآني حروفو کيدو په وجه] د دې ناپاکه او ګنده ځائ ته د غورزولو او په لته د وهلو اِجازت نشته. د دې نه دِ هغه خلق عبرت حاصل کړي چه هغه اخبارونه د [سودا خرڅولو د پاره د] پوڼړو په طور استعمالوي او بيا مَعاذَالله عَزَّوَجَلَّ د هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرَانِي)

اخباراتو په قِسم قِسم بې ادبي کيږي مثلاً مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ د کور د ګچرې ډبې ته اوغورزَوَلې شي، يا په کوڅو کښې پرې خلق ښيې ګړدي او بيا په قِسم قِسم ګندونو د ککړيدو نه پس ډيرانونو ته اوغورزَوَلې شي. او د ځينې خلقو دا نا معقوله عادت وي چه په لاره روان وي نو د لِيك والا خالي ډبې او اخبارونه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ په لتو وهي. حالانکه ثواب خو په دې کښې دې چه د ليك والا کاغذونه او ګټې اوچتې کړې شي او د ادب په ځاۍ کيښودې شي او يا په [سمندر وغيره] اوبو کښې واچولې شي. بهرحال د داسې ليکونو والا څيزونو د اخوا ديخوا غورزَوَلو، په هغې د ميز او د لوښو پاکولو، د لاس اوچولو يا په هغې د کښيناستلو او ښپو ايښودلو وغيره نه ځان ساتل ډير ضروري دي.

## د قلم تراشه

په "بَہارِشریعت" کښې دي، چه د نوي قلم تراشه غورزولې شي خو دَ مُستَعمَل (يعني استعمال شوي) قلم تراشه اَخوا ديخوا نه شي غورزولې، په داسې ځاۍ کښې غورزول پکار نه دي چه هغه د احترام خِلاف وي، (چه د تراشې دومره احترام دې نو د مُستَعمَل قلم به څومره اِحتِرام وي. هر شعور لرونکې کس په دې ښه پوهيدې شي). په کوم کاغذ چه د الله تعالٰی نوم ليکلې شوې وي په هغې کښې څه څيز ايښودل مکروه دي او که په پوڼړۍ [يعنی تهيلۍ] باندې د الله تعالٰی نومونه ليکلې شوي وي نو په هغې کښې روپۍ پيسې ايښودل مکروه نه دي. د څه خوراك نه پس په

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر وشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

کاغذ کوټي اوچوَل مکروه دي. (بهارِ شریعت ج ۳ حصه ۱۶ ص ۱۱۹) په ټیشو پیپر لاس پاك کولي شئ، او په کوم ځائي کښې چه [د خاورو] لُوټي نه وي هلته په ټیشو پیپر باندي د استنجا اوچوَلو علماؤ اِجازت ورکړي دي ځکه چه دا هم د دې کار د پاره جوړ شوې وي او په دې باندې څه لیکل هم نه شي. او کاغذ د لیك د پاره جوړیږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ سیاهي د ټکي ادب

حضرتِ سَیِّدُنا محمَّد هاشِم کشمی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: چه زه د سِلسلهٔ عالیه نقشبندیه عظیم پیشوا مُجَدِّدُ اَلْفِ ثانی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خدمت کښې حاضر ووم. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه څه لیکل، ضرورةً بَیْتُ الخَلاء ته لاړو، فوراً بیرته راغلو او دَ اوبو لوټه ئي رااوغوښتله او د ګڅ لاس د کوټي نوك ئي پرې اووینځلو بیا بَیْتُ الخَلاء ته لاړو. دَ فارغه کیدو نه پس چه بیرته راغلو نو وئي فرمائیل: "چه زه ځنګه کښیناستم نو د ګڅ لاس دَ کوټي په شا مې د سیاهی (ink) هغه ټکي لګیدلي ولیدو کوم چه د قلم د لیك د چیك کولو په وخت کښې زما په نُوك لګیدلي وو، او دا ټکي د هغه قلم وو چه په هغې قرآني حروف لیکل کیږي، (او د عربئ ټول حروف او د فارسئ او اردو اکثر حروف قرآني دي) ځکه د ګڅ لاس په غټه کوټه لګیدلي ټکي سره هلته ناسته د ادب

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پریښوده. (طَبَرَانِي)

خلاف وه، حالانکه ما ته د بولو شدید حاجت وو خو دَ هغه تکلیف په مُقابَله کښې د دې بې ادبئ تکلیف ډیر زیات وو. ځکه فوراً بهَر ته را اووَتم او د سیاهئ هغه ټکې مې اووینځلو.

(زبدة المقامات ص ۱۸۰)

## په دیوالونو باندې اِشتِهار مه لګوئ

اللّٰه! اللّٰه! دَ سلسلهٔ عالیه نقشبندیه لوئې پیشوا حضرت مُجَدِّدِ اَلْفِ ثانی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د قلم د سیاهئ د ټکې دومره ادب کولو او نن صبا حال دا دې چه عام طور دَ سیاهئ د نښې والا لاس په داسې ځائ کښې وینځلې کیږي چه د هغې اوبه ګټر ته لاړې شي او چه قلم د استعمال قابل پاتې نه شي نو قلم او د هغې ذرّې د کچرې ډبې ته اچول کیږي. په بلیك بورډ د چاك عام لِیك خو څه کړې اکثر د احادیثِ مُبارَکه لیکونکې هم په بې پرواهئ سره هغه په صافي [کپړه، فوم وغیره] وران کړي او د چاك د هغه ذرّو بالکل د ادب خیال نه ساتي. دغسې ځینې خلق د حُقُوقُ العِباد هیڅ پرواه نه لري او د خلقو د کورونو او دُکانونو په دیوالونو او د بل په سائِن بورډ د پاسه د هغوئې د اِجازت نه بغیر خپل دِینی یا دُنیاوي لیکونه کوي یا پرې اشتهارونه لګوي، که د هغې مالك داسې کول بد ګڼړي نو په دې صورت کښې دا حرام او دوزخ ته د بوتلو والا کار دې. او په دې خو هر څوك پوهیږي چه په دیوال لګیدلې مَذهبي اِشتِهار آخِر ریزه ریزه شي او په زمکه را غوزار شي او بیا ئې چه

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

په څه شان بې ادبي کیږي د هغې تَصَوُّر هم زړه درزَوونکې دې. کاش چه د اِشتهاراتو په دیوالونو باندې د نښلولو په ځائ په کټه باندې دَ لیکلو رواج جوړ شي او هغه کټې په مناسب ځائ زوړندې کړې شي او چه کله ضرورت پوره شي نو هغه کټې بیا راکوزې کړې شي. هم دغسې چه ضرورت پوره شي نو بینرې هم را کوزَوَل پکار دي کنې هغه هم آخِر ورستې شي، اوشلیږي، تار تار شي او ښکته راپریوځي.

## اَخبارونه په ردئ والا مه خرڅوئ

خوږو خوږو اسلامی وروڼرو! نن صبا عام طور په اخبارونو کښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم، آیاتِ کریمه، احادیثِ مبارکه او اسلامی مضامین وي او خلق ئې د یو څو روپو د پاره ئې په کباړ والا باندې خرڅوي. افسوس! په کروړونو افسوس! داسې اخبارونه په ګنده نالو کښې پراته لیدې شي. کاش! چه د مُقَدَّسو پاڼړو مونږ ته ادب نصیب شوې وې. زما اسلامی وروڼرو! مهرباني وکړئ! دَ یو څو روپو د پاره اخبارونه مه خرڅوئ بلکه په سَمُندر کښې ئې اچوئ.اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په دواړه جهانو کښې به مو بیړئ پوریوځې. زما دُکاندارانو اسلامی وروڼرو! تاسو هم دَ الله تعالیٰ او د خوږ نبی ﷺ دَ محبَّت او عظمت په خاطر په اخبارونو کښې څیزونه مه خرڅوئ. ځینې خلق دَ اخبارونو نه مذهبی پاڼړې لرې کړې او په باقی اخبارونو کښې سَودا خرڅوي او خپل زړه ته دا تسلّی ورکوي چه مونږ هیڅ بې ادبی نه ده کړې. د

www.dawateislami.net

داسې خلقو په خِدمت كښې عرض دې چه پوره اخبار په سمندر كښې اچوئ كه هسې خبرې وي او كه فلمي اشتهارونه وي په هغې كښې هم ځاې په ځاې اسلامی نومونه وي او په هغې كښې عام طور د "الله" او د "محمد" الفاظ هم وي. مَثَلاً عبدُالله، عبدُالرَّحيم، غلام محمد وغيره. كه اردو وي او كه سندهي وي، كه انګريزی وي او كه هِندي. دَ دُنيا په هر اخبار كښې دَ مقدّسو نومونو امكان شته دې، بلكه دَ دُنيا دَ هرې ژبې د حُروفِ تَهَجِّی (Alphabets) ادب كول پكار دې. ځكه چه د صاحِبِ تفسيرِ صاوي د قول مطابق د دُنيا ټولې ژبې اِلهامی دي. (تفسيرِ صاوي ج١ ص٣٠) لِهٰذا خير په دې كښې دې چه دا په سمندر كښې واچولې شي. الله تعالیٰ به تاسو ته ضَرُور د دې ادب بدله دركوي.

## زما والد صاحب ذِهنی مريض دې

يو ځل د سګِ مدينه (يعني د كتاب ليكونكي) خوا ته يو ځلمې راغې او وئيل ئې چه زما والد صاحب ته دُعا وكړئ چه دماغ ئې صحيح شي، هغه ذِهنی مريض دې، د هغوئي هم دا كار دې چه د لارو او سړكونو نه **اخبارونه** او د ليك **كاغذونه** راټولَوي او په سمندر كښې ئې اچوي. زما روپئ هم نه استعمالوي، زه په خبره پوهه شوم ما دَ هغې ځلمي نه تپوس وكړو چه آيا تاسو سركاری نوكر ئې؟ هغه اووئيل آو. ما ورته اووئيل چه والد صاحب ته دِ زما سلام وايه، زما د پاره پرې د بخښنې دُعا وكړه او ته هم د هغه خدمت كوه. هغه اخبارونه وغيره

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نزدې هغه وي چ
چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذِی)

ځکه راغونډوي چه په هغې کښې مُقَدَّس [یعني پاك] لیکونه وي او ستا رَقم ځکه نه استعمالوي چه ته سرکاری ملازم ئې او اکثر سرکاری ملازمان پوره ډیوټي نه کوي او ناجائزه تنخواه اخلي. دا خبره چه ئې واوریدله نو هغه تسلیم کړه چه واقعی زه په ډیوټۍ کښې کوتاهي کووم. زما اسلامی ورونړو! که د هغه ځلمي د والد صاحب کَثَّرَ اللهُ تَعَالٰی اَمْثَالَهُمْ (یعني الله عَزَّوَجَلَّ دِ داسې خلق زیات کړي) په شان هر مسلمان ذِهنی مَدَنی مریض جوړ شي نو یقیناً هر طرف ته به دَ انوار و تجَلّیات باران وریږي او زمونږه ټوله معاشره به ''مَدَنی معاشره'' جوړه شي.

اے ہمنشیں اَذِیّت فرزانگی نہ پوچھ
جس میں ذرا سی عقل تھی دیوانہ ہوگیا

د شعر ترجَمه: اے دوسته! د عقل د تکلیف تپوس مه کوه، په چا کښې چه څه عقل وي، هغه دیوانه ګنړلي شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د ''مَدَني سوچ'' پیدا کولو د پاره د عاشِقانِ رسُول سره په مَدَني قافِلو کښې سفر جاري ساتئ، د دَعوتِ اسلامي د مَدَني قافِلي په مسافرو باندې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ مهربانۍ او کَرَم یوه د ایمان نه ډکه واقعه واورئ:

## په مَدَني قافِله باندې د آقا ﷺ کَرَم نوازی

د یو عاشقِ رَسول د بیان خلاصه په خپل انداز او الفاظو کښې وړاندې کووم، زمونږه مَدَنی قافله د سُنَّتو د تربیت د پاره د حیدر آباد

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هير کړل هغه دَجنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

(بابُ الاسلام سِندھ) نه صوبه خيبر پښتونخواه ته ورسيده. په يو جُمات کښې مو درې ورځې تيرې کړې او د بلې علاقې طرف ته روان شو نو لاړ رانه هيره شوه او يو ځنګل طرف ته لاړو. هر طرف ته د شپې تيَرې خوَرې شوي وې او د لرې لرې پورې د آبادۍ څه نښه نه معلوميده، ساعت په ساعت زمونږ پريشاني زياتيدله، په دې کښې مو ډيره لرې د ډيوې غوندې څه رڼرا وليده، د ډيرې خوشحالۍ نه مونږه په تيزۍ سره د هغه رڼړا طرف ته روان شو خو آه! څه ساعت پس هغه رڼړا غائبه شوه، مونږه حيران په خپل ځاۍ ودريدلو، او ډير اويَريدو! چه څه وکړو او څه ونه کړو او په کوم طرف لاړ شو. په هيڅ نه پوهيدو. آه! آه! آه!

سُونا جنگل رات اندھیری چھائی بدلی کالی ہے
سونے والو! جاگتے رہیو چوروں کی رکھوالی ہے

جُگنُو چمکے پتّا کَھڑکے مجھ تنہا کا دِل دھڑکے
ڈر سمجھائے کوئی پَوَن ہے یا اَگیا بَیتالی ہے

بادَل گَرجے بجلی تَڑپے دَھک سے کلیجا ہو جائے
بَن میں گھٹا کی بھیانک صورت کیسی کالی کالی ہے

پاؤں اٹھا اور ٹھوکر کھائی کچھ سنبھلا پھر اَوندھے مُنہ
مِینہُ نے پھسلن کر دی ہے اور دُھر تک کھائی نالی ہے

ساتھی سَاتھی کہہ کے پکاروں ساتھی ہو تو جواب آئے
پھر جُھنجھلا کر سر دے پٹکوں چل رے مولیٰ والی ہے

پھر پھر کر ہر جانب دیکھوں کوئی آس نہ پاس کہیں
ہاں اِک ٹوٹی آس نے ہارے جی سے رفاقت پالی ہے

تم تو چاند عَرَب کے ہو پیارے تم تو عجم کے سُورج ہو
دیکھو مجھ بے کس پر شب نے کیسی آفت ڈالی ہے

په دې پريشانۍ کښې معلومه نه ده چه څومره وخت تير شو. ناڅاپه بيا هم هغه طرف ته رڼرا ښکاره شوه، مونږ دَ **الله** تعالیٰ نوم واغستو او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاک ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

بیا هغه طرف ته د آبادئ په اُمِّید تیز تیز ور روان شو. چه ورنِژدې شو نو یو سړي په لاس کښې رنړا نیولي وه او ولاړ وو هغه ډیر په ګرم جوشئ زمونږ سره مُلاقات وکړو او مونږ ئې خپل کورته بوتلو. د عاشِقانِ رسُول د مَدَني قافِلې د دولسو مسافرو د شمیر هُمره دولس پیالئ موجودې وې او چائے هم تیار وو. هغه د ګرم چائے په ذریعه زمونږه میلمستیا وکړه، مونږ په دې غیبي اِمداد او په دې خبره ډیر حیران شو چه د مخکښې نه دولس پیالئ چائے تیار وو، مونږ د هغه کوربه نه د دې خبرې تپوس وکړو نو هغه اووئیل چه زه اوده ووم او په خوب کښې مې قِسمَت راویښ شو، [هغه داسې چه] جنابِ حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشریف راوړو او وئې فرمائیل: ''دَ دعوتِ اسلامی دَ مَدَني قافِلې دَ مسافرو نه لار خطا شوې ده، ته هغوئې ته د لار ښودو د پاره څه رنړا واخله او باهِر ودریږه.'' په دې کښې زما سترګې اوغړیدې او رنړا مې د ځان سره واخسته او باهر اووتم، د څه وخته پورې ودریدم خو څه ښکاره نه شو، وسوسه راغله چه شاید خبره به داسې نه وي، خوب ډیر راتلو، کور ته را دننه شوم او بیا اوده شوم، چه څنګه مې د سر سترګې پټې شوې بیا مې د زړه سترګې اوغړیدې او بیا مې د مَدینې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوراني مخ مبارَك ولیدو، د مُبارکو شونډو نه ئې د رحمت ګلونه را اورېژیدل، او داسې ئې اوفرمائیل: دیوانه! په مَدَنی قافله کښې دولس مسافِر دي دَ هغوئې دَ پاره دَ

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک ولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي . (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

**چائے بندوبست وکړه، او فوراً د ځان سره رنړا واخله او بهر ودرېږه.** زه فوراً پاڅيدم د ميلمستيا بندوبست مې وکړو، رنړا مې د ځان سره واغسته او بَهر ته اووتم چه په دې کښې د عاشِقانِ رسُول مَدَني قافِله را ورسيده.

آتا ہے فقیروں پہ انہیں پیار کچھ ایسا | خود بھیک دیں اور خود کہیں منگتا کا بھلا ہو
تُم کو تو غُلاموں سے ہے کچھ ایسی محبّت | ہے ترکِ اَدب ورنہ کہیں ھم پہ فِدا ہو

**د شعر ترجَمه:** (۱) خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو غُلامانو سره دومره مَحَبَّت کوي چه خيرات هم هغوئي ته ورکړي او د پاسه دُعاګاني هم هغوئي ته وکړي.

(۲) تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو د خپلو غلامانو سره دومره محبت کوئ، چه که دا جُمله د ادب خلاف نه وه نو مونږ به وئيلې چه تاسو خو په مونږه قربانيږئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## حضور ﷺ پرې طعام اوخوړلو

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د دې واقعې نه چه ښکاره د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم علمِ غيب ثابت شو، دغسې د دې واقعې نه د دعوتِ اسلامی حَقّانِيَّت او په دربار د نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د دعوتِ اسلامي د مَقبُولِيَّت اندازه هُم ولګيده. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږ خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل غلامان هر وخت په نظر کښې ساتي. د هغوئي عاشقان که په مُصِيبَت کښې ونښلي نو مدد ئې کوي او چه اوږې وي نو طعام پرې خوري، چنانچه حضرت امام يوسف بِن اسماعيل نَبهانی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي چه حضرت شيخ ابو العباس احمد بن نفيس

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر وشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

تُونسي رَحمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "چه زه يو ځل په مدينهٔ منوره كښې دَ سختۍ لوَږې په حالت كښې د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مزار مبارك ته حاضر شوم، عرض مې وكړو: يارسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه وږي يم، ناڅاپه زما سترګې ورغلې، په دې مينځ كښې چا رابيدار كړم او دعوت ئې راكړو چه زما سره لاړ شه، زه د هغه سره د هغه كور ته لاړم، هغه كجورې، غوړي او د غنمو ډوډۍ زما مخې ته كيښودل او ما ته ئې اووئيل چه ځان ښه موړ كړه ځكه چه ما ته خپل خوږ نِيكه د مدينې سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستا د ميلمستيا حكم راكړې دې. د بيا د پاره هُم كه چرې لوَږه محسوسه كړې نو زمونږ كره تشريف راوړې. (حُجَّةُ الله عَلَی العٰلَمِين ج۲ص۵۷۳)

پیتے ہیں ترے در کا کھاتے ہیں ترے در کا
پانی ہے ترا پانی دانہ ہے ترا دانہ (سامانِ بخشش)

**د شعر ترجمه:** يا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته هر څيز ستاسو د دربار نه رارسي، ځكه چه الله تعالٰی دا ټول جهانونه ستاسو په خاطر پيدا كړې دي، كه هغه اوبه دي او كه هغه دانه ده.

صَلُّوا عَلَی الحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د هرې ژبې د حروفو ادب كوئ

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ او نور داسې پاك نومونه په داسې ځائ بالكل ليكل نه دې پكار كوم ځائ چه د دې د بې ادبئ يَره وي، بلكه په يوه ژبه كښې هُم په زمكه څه ليكل

www.dawateislami.net

پکار نه دي. د هرې ژبې د حروف تَهَجِّی تعظیم پکار دې. که په هره ژبه کښې څه لِيك وي په هغې ښپې ایښودل پکار نه دي، مثلاً داسې پائيدان [یعني د ښپو پاکولو څيز] د دروازې نه بهر ایښودل پکار نه دي چه په هغې باندې (WELL COME) [وغیره] لیکلي شوي وي. په چپلو وغیره باندې اکثر که په انګریزئ کښې د کمپنئ نوم لیکلې شوې وي د په ښپو کولو نه مخکښې ورانول پکار دي. اکثر د جائے نمازونو په غاړه پورې داسې لیبل لګولې شوې وي چه په هغې باندې په عربئ، اُردو یا انګریزئ کښې د کارخانې نوم لیکلې شوې وي او هغه هم اکثر د ښپو ایښودلو په ځائ وي. دغه رنګ د پلاسټك په درئ، بِستره او تولیه وغیره باندې هم اکثر د لیك لیبل لګیدلې وي څکه داسې لیبل د هغې نه لرې کول او په سمُندر غیره کښې اچول پکار دي. په پالنګ باندې د اچولو د فوم په اَستر باندې عام طور Molty Foam وغیره لیکلې شوي وي کاش! چه دا کمپنو والا مونږ په امتحان کښې اچول پریږدي. دا فِقهي جُزئِيَّه په غور سره ولولئ. چنانچه

بہارِ شریعت جلد۱۶ حصه ۲۳۷ کښې دَ رَدُّالْمُحْتَار په حواله لیك دي: "که په تولائي یا مُصَلّٰی باندې څه لیکلي شوي وي نو د هغې استعمال ناجائزه دې. دا لیك که د مُصَلّي په جوړولو کښې پوخ لیکلې شوې وي یا په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

تارونو، يا د سياهي (Ink) په ذريعه ليكلې شوې وي اګر چه حروف مُفرده (يعني جُدا جُدا حروف مَثلاً ا ب ج وغيره) وي ځكه چه د [جُدا جُدا] حروفو هم احترام ضروري دې" صاحِبِ بہارِ شریعت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نور فرمائي: "اكثر په دسترخوان څه عبارت [يعني څه خبره] ليكلي شوي وي يا پرې د كمپنۍ نوم يا څه شعرونه وغيره ليكلي شوي وي، داسې دَسترخوان په اِستِعمال كښې راوستل پكار نه دي. دَ ځينې خلقو په بالښتونو څه شعرونه ليكلې شوي وي، هغه هم استعمالول نه دي پكار. بهرحال كه مُصلّٰی وي او كه خادرې، كه قالين وي او كه د ډيكوريشن درځ وي، كه بالښت وي او كه د فوم ګدَۍ وي چه په كوم څيز باندې د ناستې يا د ښپې ايښودلو ضرورت پريوځي په هغې باندې په يوه ژبه كښې هم هيڅ ليكل نه دي پكار، او نه ورپورې څه چاپ شوې ليبل لګول پكار دي. اكثر دَ قالين په لاندينۍ حصَّه باندې دَ كمپنۍ نوم او پته ليكلي شوي وي، استيكر پرې لګيدلي وي، هغه استيكر په اوبو لُوند كړئ او يو څو منټه پس ئې ترې لرې كړئ. او د **عربۍ د ليك** خو خاص طور قدر كول پكار دي ځكه چه دَ خوږ خوږ عربي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مباركه ژبه هم عربي ده، دَ قرآن پاك ژبه عربي ده او د اهلِ جَنَّت ژبه هم عربي ده. دَ **عربۍ ليك**

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك وليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

كه د خوراك ښناك په پيكټ باندې هم وي هغه غورځول يا مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ دَ كچرې په ډبو كښې اچول سخته بې ادبي او بدنصيبي ده.

## د نمبرو نِسبتونه

ځينې وخت كه په چپلو نور څه نه هم وي ليكلي شوي خو نمبر پرې ضرور ليكلي شوې وي. په هغې باندې ښپې اېښودل هم د اهلِ **محبَّت** زړونه نه غواړي، ځكه چه په هر نمبر كښې څه نه څه نسبت وي مثلا دَ طاق عدد (Singuler) په باره كښې په "اَحسنُ الوِعاء" ص22 كښې د دُعا د تكرار په باره كښې دي چه "**الله** وِتر (يواځې) دې او وِتر (يعني يو، درې، پينځه، ووه وغير) خوښوي، **پينځه** غوره [عدد] دې او د **ووه** عدد الله تعالٰى ته ډير **محبوب** [يعني خوښ دې] او اَقَل (يعني كم از كم) **درې** دې." (مطلب دا دې چه كله دُعا غواړئ نو هغه ووه ځله غواړئ كنې پينځه ځله يا كم از كم درې ځله ئې غواړئ) په **جُفت** عدد (Pluler) كښې هم ډير زيات نسبتونه دي د **٢ نِسبَت**: مثلًا په **دويم مُحَرَّمُ الحرام** باندې د حضرت سَيِّدُنا معروف كرخي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه او **دويم ذِيقعدةُ الحرام** باندې د صدرُالشَّريعه مُصَنِّفِ بہارِ شريعت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه عُرس دَ **٤ نسبت**: د خلورو يارانو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره چه د چا مينه ده اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د هغه بيړئ پوريوتې ده. د **٦ نسبت**: په شپږم رَجَبُ المُرَجَّب باندې د غريبِ نواز رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه عُرس مبارك وي. د **٨ نسبت**: جنتونه اته دي او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي.
(ابن عدي)

په اَتم مُحرَّمُ الحرام باندې د شيرِ اهلِسُنَّت حضرت مولانا حشمت علي خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ عرس مبارك وي. دَ ۱۰ نسبت: د عاشورې ورځ، دَ امامِ عالي مقام سَیِّدُ الشُّهَداء، سلطانِ كربلا اِمام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د شهادت ورځ او دَ لوئي اختر ورځ وي. او د ۱۱ او ۱۲ نسبتونه خو په عاشقانو كښې هر طرف ته عام دي.

کیا غور جب گیارھویں بارھویں میں — مُعَمّہ یہ ہم پر کُھلا غوثِ اعظم
تمہیں وصل بے فصل ہے شاہِ دیں سے — دیا حق نے یہ مرتبہ غوثِ اعظم

د شعرونو تَرجَمَه: مونږه چه د يوولسمې او دولسمې په باره كښې غور وكړو نو په مونږ دا راز ښكاره شو چه تاسو ته الله عَزَّوَجَلَّ د خُوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير زيات نزديكت دركړې دې.

## د مُقدَّسو پاڼو په درياب وغيره كښې د اچولو طريقه

كوم خوش نصيبه مسلمانان چه د ليكونو ادب كوي، اخبارونه او مُقَدَّس كاغذونه او كتّې وغيره چه په زمكه وينې راپورته كوي ئې او د سمُندر په مينځ يا جوَر درياب كښې ئې اچوي هغوئي قابلِ رَشك دي، په كم جوَر درياب كښې مُقَدَّس اوراق [يعني پاڼې] اچول پكار نه دي ځكه چه دا عام طور غاړې ته راځى په درياب وغيره كښې د اچولو طريقه دا ده چه مُقَدَّسې پاڼې په يوه خالي بورئ كښې واچولې شي او په هغې كښې ورسره درانه كاڼړي هم واچولې شي بيا

هغه بورئ یا خلته ځائ په ځائ لږه خیرې کړئ چه اوبه ورته فوراً ورننوځي او ویخ ته ورسی ځکه که اوبه ورته دننه نه شي نو ځینې وخت په میلونو په اوبو کښې روانه وي او غاړې ته لاړه شي او ځینې وخت بې تعلیمه خلق او کُفّار د خالي بورئ حاصلولو په لالچ کښې هغه مُقدَّس اوراق د دریاب یا د سمندر په غاړه واچوي، بیا دَ هغې داسې سخته بې ادبي کیږي چه د عاشقانو زړونه خُلې ته راشي! دَ مقدَّسو پاڼرو جَوَړو اوبو ته دَ رَسَوَلو دَ پاره د مسلمان کشتئ والا نه هم مدد اغستې شي. خو بورئ ځائ په ځائ خیرې کول بهرحال ضروري دي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مُقدَّسو پاڼرو د خخولو طریقه

مُقَدَّس پاڼرې **دفن** کولې هم شي، د دې طریقه مُلاحظه کړئ، چنانچه په **بہارِ شریعت** جلد 3 حصه16صفحه ۱۲۱ کښې د فَتاویٰ عالمګیری په حواله لیك دي: "که چرې قرآن پاك ضعیفه شوې وي او د تلاوت قابل نه وي پاتې او دا اندیښنه وي چه پاڼرې به ئې اخو دیخوا شي او ضائع به شي نو په پاکه کپړه کښې دِ را اونغښتې شي او په یو **محفوظ** ځائ کښې دِ دفن [یعني خخ] کړې شي او د دې د خخولو د پاره دِ (کنده وکنستې شي او د قبلې طرف ته دیوال دِ دومره وکنستې شي چه

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف ولوستو اللّه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

تولي مُقَدَّسي پانړې پکښې راشي داسې) لَـحَد دِ جوړ کړې شي چه خاوره پرې نه پريوځی يا (دِ د شقي قبر غوندې کنده کښې کيښودې شي او بره) دِ پرې تخته [سلِپ وغيره] ولګولې شي او خاوره دِ پرې واچولې شي چه خاوره په مُصحَف شريف نه پريوځی او چه مُصحَف [يعني د قرآن شريف نُسخه] ضعيفه شي نو سوزول ئې پکار نه دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم"

## د فيضان 29 مَدَنى ګلونه

(ورومبني لَس مَدَنى ګلونه د تفسيرِ نعيمى سيپاره اوّل ص44 نه اغستې شوي دي)

(۱) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم د قرآنِ پاك يو پوره آيت دې خو د يو سورت جُز نه دې بلکه د دوه سورتونو په مينځ کښې د فاصلې د پاره نازل شوې دې، په دې وجه دا په لـمانځه کښې پټه لوستله کيږي. خو که يو حافظ په تراويح کښې پورا قرآنِ پاك ختمول غواړي نو هغه دِ ضرور د يو نه يو سورت سره يو ځل بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم په ښکاره آواز کښې ولولي.

(۲) د سورهٔ توبه نه علاوه باقي هر يو سورت دَبِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم نه شروع کول پکار دي او که چرې د سورهٔ توبه نه تلاوت شروع کړې شي نو د تلاوت د پاره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وئيل پکار دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

(۳) په **شامی** کښې دي چه د **چِيلم** [يعني تماکو] څښلو او د بدبو داره خيزونو (وومه پياز، اُوګه وغيره) خوړلو په وخت کښې بِسْمِ اللّٰهِ نه وئيل بهتر دي.

(٤) په **استنجاء خانه** کښې بِسْمِ اللّٰهِ وئيل منع دي.

(٥) **لـمونځ کوونکې** چه کله په لـمانځه کښې يو سورت وائي نو مخکښې ترې پټه بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وئيل مُستحب دي.

(٦) د ښه کار په شروع کښې که څوك بِسْمِ اللّٰهِ ونه وائي نو په هغې کښې به بَرَکت نه کيږي.

(٧) **کله** چه مَړې قبر ته کوزولې شي نو په هغه وخت کښې داسې لوستل پکار دي بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ.

(٨) د **جُمعې**، اخترونو او نکاح وغيره خُطبه د اَلْحَمْدُ لِلّٰه نه شروع کول پکار دي او بِسْمِ اللّٰهِ دِ ترې اول په پټه اووئيل شي، بيا چه کله د قرآن پاك آيت راشي نو بيا دِ خطيب په اوچت آواز بِسْمِ اللّٰهِ ولولي.

(٩) دَ **خاروي** د حلالَوَلو په وخت کښې بِسْمِ اللّٰهِ (يعني دَ الله نوم) وئيل واجب دي که قصداً ئې پرينښوده (يعني د الله عَزَّوَجَلَّ نوم ئې وا نه خِستلو) نو خاروې به مردار شي، که چرې په هيره ترې پاتې شوه نو خاروې حلال دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما درودِ پاک ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنی)

(۱۰) (په ذبح اِضطراري مثلاً) ښکاري په غشي يا په برچه وغيره څه تيره څيز باندې ښکار وکړي او د وِيشتلو په وخت کښې بِسۡمِ اللّٰهِ اووائي نو که د ور رسيدلو نه مخکښې هغه ځاروې مړ هم شي نو حلال دې، دغه رنګ که چرې د کور ساتلي ځاروې مثلاً غوا کوهي ته اوغورزيده يا اوښ وتښتيدو او بِسۡمِ اللّٰهِ ولولي او د غشي يا نيزې يا تورې ګزار پرې وکړي نو حلال دې. (که بِسۡمِ اللّٰهِ ئې اووئيله او په څه لښته [ډانګ] يا کانړي يا د ټوپك په ډز يا د چَرې [والا ټوپك] په ډز ئې مرغۍ يا ځنګلي ځاروې ويشتو او مړ شو نو حرام دې ځکه چه دا د وِينې بهيدلو په وجه مړ نه شو، بلکه د هغه ګُزار خوړلو په وجه مړ شو، خو که چرې په زخمي حالت کښې په لاس راشي او په شرعي طريقه حلال کړې شي، نو حلال شو. کوم يو ځنګلي ځناور يا مرغۍ چه د چا په قبضه کښې وي نو د دې د حلاليدلو د پاره ذَبحِ اختياري ضروري ده. يعني د الله نوم به واخلي او په شرعي طريقه به ئې حلال کړي)

(۱۱) حضرت سَيِّدُنا شيخ ابو العبّاس احمد بن علی بوني رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: "څوك چه مسلسل [يعني ناغه پکښې ونکړي] ووه ورځې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم 786 ځله (اول آخِر يو ځل درود شريف) ولولي اِنۡ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د هغه هر حاجت به پوره شي اوس که هغه حاجت د څه ښيګړې د حاصلولو وي، يا د بدئ لرې کولو وي، يا د کاروبار د چليدو وي. (شمسُ المعارف مترجم ص ۷۳)

(۱۲) څوك چه د اوده کيدو په وخت کښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم 21 ځله (اول آخِر يو ځل درود شريف) ولولي اِنۡ شَآءَ الله تعالیٰ په هغه شپه به هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک ولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

د شيطان، غلا، ناڅاپه مرګ او د هر قسم آفت او مُصيبَت نه محفوظه وي. (ايضًا ص ٧٣)

(١٣) څوک چه د کوم يو ظالم په مخکښې پنځوس ځله بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم (اول آخر يو ځل درود شريف) ولولي نو د هغه ظالِم په زړه کښې به د هغه لوستونکي رُعب پيدا شي او د هغه دَ شرنه به بچ شي. (ايضاً ص ٧٣)

(١٤) څوک چه د نمر خاته په وخت کښې د نمر [سترګې] طرف ته مخ کړي او درې سوه ځله بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم او درې سوه ځله درود شريف ولولي الله تعالىٰ به ورته د داسې ځائ نه رزق ورکړي چه هغه به د هغه په ګمان کښې هُم نه وي او (چه هره ورځ ئې لولي نو) اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالىٰ په يو کال کښې دننه دننه به امير و کبير [يعني ډير زيات مالدار] شي. (ايضاً ص ٧٣)

(١٥) د کمزورې حافِظې والا که بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 786 بار (اول آخِر يو ځل درود شريف) ولولي او اوبه پرې دم کړي او وئې څښي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالىٰ د هغه حافِظه به مضبوطه شي او چه څه خبره اوري ياده به ئې پاتې کيږي. (ايضًا ص ٧٣)

(١٦) که د قَحط کال وي نو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم دِ يو شپيته ځله (اول آخر يو يو ځل درود شريف) ولولي (بيا دِ دُعا وکړي) اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالىٰ باران به وشي. (ايضًا ص ٧٣)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک ونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

(۱۷) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم په کاغذ باندې پينځه ديرش ځله (اول آخِر يو يو ځل درود شريف) وليکئ او په کور کښې ئې زوړند کړئ اِنْ شَآءَ الله تعالٰی شيطان به په هغه کور نه تيريږي او ښه ډير بَرَکت به کيږي او که په دُکان کښې ئې زوړند کړئ نو اِنْ شَآءَ الله تعالٰی کاروبار به مو ښه کامياب شي. (ايضًا ص۷۳،۷۴)

(۱۸) څوک چه په يَکُم مُحَرَّمُ الحرام بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 130 ځله وليکی (يا ئې په بل چا وليکي) او د ځان سره ئې ساتي (يا پلاسټك کوټنګ ئې کړي او په کپړه، ريګزين يا څرمن کښې ئې وګنډي او په غاړه ئې کړي يا ئې په مټ باندې وتړي. د هر قسم وسپنې په ډبې کښې د هيڅ قِسم تعويذ هم مه اچوئ د دې مسئله په صحفه ۸۰ تيره شوې ده) اِنْ شَآءَ الله تعالٰی ټول عمر به هغه ته يا د هغه په کور کښې چا ته د هيڅ قِسم ضرر نه رسی. (ايضاً ص۷۴)

(۱۹) د کومې زنانه چه ماشومان ژوندي نه پاتې کيږي هغه دِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 61 ځله وليکی (يا دِ ئې په بل چا وليکي) او د ځان سره دِ ئې کيږدي (که غواړي نو پلاسټك کوټنګ دِ ئې کړي او په کپړه، ريګزين يا څرمن کښې دِ ئې وګنډي او په غاړه دِ ئې کړي يا دِ ئې په مټ وتړي.) اِنْ شَآءَ الله تعالٰی ماشومان به ئې ژوندي پاتې شي. (ايضًا ص۷٤)

(۲۰) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 70 ځله وليکئ او د مړي په کفن کښې ئې کيږدئ اِنْ شَآءَ الله تعالٰی د مُنکَر نَکِير سوال جواب به پرې اسان شي (غوره دا ده چه د قبلې طرف ته د مړی مخ ته مخامخ د محراب په شان طاق جوړ

کړئ او په هغې کښې ئې کيږدئ،عهدنامه او د هغه د پير صاحِب شجرهٔ وغيره هُم ورسره کيږدئ) (ايضًاص٨٤)

(٢١) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم يو قارِي يا عالِم ته واوروئ که چرې حروف په صحيح مخارجو نه ادا کيږي نو زده ئې کړئ ګنې د فائدې په ځائ د نقصان انديښنه ده.

(٢٢) په ليکلو کښې د اعراب [يعني زير، زبر، وغيره] لګولو ضرورت نشته، چه کله هم د اچولو د پاره تعويذ يا د ځنبلو د پاره ځنبت ليکئ يا د زوړندولو د پاره تعويذ يا څه آيت يا څه عبارت ليکئ نو د دائرې والا حروفو دائرې داسې ليکئ چه سُورې پکښې ښکارې مَثَلاً د ”الله“ ه او د ”رَحمٰن“ او ”رحيم“ د م دائرې سُورئ ساتئ.

(٢٣) د جامو ويستلو په وخت کښې د بِسْمِ اللّٰه په لوستلو ”پيريان“ د بنده سِتر [يعني پرده] نه شي ليدلې.(عَمَلُ اليومِ واللَّيلَةِ لِابْنِ سُنِّيّ ص٨) د کوټې دروازه، کړکئ او دَ الماَرو دروازې چه خومره ځله بيرته کوئ يا بَندَوئ، دغسې جامې، لوښې وغيره د هر څيز د ايښودلو او راخستلو په وخت کښې هر ځل دَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم د لوستلو عادت جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰهُ تعالٰی سرکشه [يعني وران کارې] پيريان به ستاسو کور ته د داخليدلو، د غلا کولو او ستاسو د څيزونو د استعمالولو نه قلار اوسي.

(٢٤) که ګاډې اُوښوَيږې يا څه جټکه اوخوري نو بِسْمِ اللّٰه لولئ.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (كنز العمال)

(۲۵) په سر باندې د تيلو لګولو نه مخکښ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لولئ ګني [بنده سره] اويا شيطانان په سر کښ په تيل لګولو کښ شريك کيږي.

(۲٦) د کور دروازه بندَوَلو په وخت کښ بِسْمِ اللّٰه لولئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی سرکش شيطانان به کورته نه شي داخليدې. (صحيح بخاري، ج٦، ص٣١٢)

(۲۷) دَ شپې بِسْمِ اللّٰه لولئ او د خوراك څښاك په لوښو سرونه ګرِدئ او که د پټولو د پاره څه څيز نه وي نو بيا بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ولولئ او د لوښي په خُله څه دکې ګرِدئ (ايضاً) د مُسلِم شريف په يو روايت کښ دي، چه په کال کښ يوه شپه داسې راځي چه په هغې کښ وَبا [يعني مرضونه] نازليږي کوم لوښې چه پټ نه وي يا دَ مَشك خُله ترِلي شوي نه وي او هغه وَبا په هغه ځائ تيريږي نو هغې ته کوزه شي.

(مسلم ص١١١٥ رقمُ الحديث ٢١١٤)

(۲۸) د اُودَه کيدو نه مخکښ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لولئ او درې ځله بستره څنډئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د موذي [يعني تکليف ورکوونکو څيزونو] نه به په حفاظت کښ اوسئ.

(۲۹) په کاروبار کښ د جائز اخستلو خرڅولو په وخت کښ يعني چه کله د چا نه څه اخلئ نو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لولئ او کله چه چا ته څه ورکوئ نو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لولئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ډير بَرَکت به کيږي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك وليكو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

يارَبِّ مُصطفٰی عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږه ته د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ډير ډير بَرَكتونه راكړې، او د هر نيك او جائز كار په شروع كښې د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم وئيلو توفيق راكړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دَ بِسۡمِ اللّٰهِ د ووه حُروفو په نِسبَت ووه حِكايتونه

### (١) لرګو والا څنګه مالدار شو؟

يو لرګو والا به هره ورځ په درياب پورې وتلو، هلته به ئې لرګي كټ كول او بيا به ئې راوړل او خرڅَوَل به ئې او د خپلو بال بچو ګزاره به ئې پرې كوله. پُل د هغه د كور نه ډير لرې وو، ځكه به ئې په تلو راتلو كښې ډير وخت لګيدو، په دې وجه د هغه مالي حالت نه ښه كيدو. يوه ورځ هغه په جُمات كښې د يو مُبَلِّغ په بيان كښې د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم عظيمُ الشّان فضائل واوريدل. د مُبَلِّغ دا خبره د هغه په ذِهن كښې كښيناسته چه "د بِسۡمِ اللّٰهِ شريف په بَرَكت د غټې نه غټه مسئله حل كيدې شي." كله چه څنګل ته د هغه دَ تلو وخت راغې نو په پُل باندې د پورې وتو په ځائې هغه بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اووئيله او درياب ته كوز شو او ډير زر په اسانئ په درياب پورې وَتو. چه لرګي ئې كټ كړل نو بيا ئې بِسۡمِ اللّٰهِ ولوستله او په اسانئ راپوريوَتو.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

د بِسمِ اللّٰهِ بَرَکتونه ښکاره کيدل شروع شو او هغه په لږه موده کښې مالدار شو. (مُخلص از شمس الواعظين)

ہے پاک رُتبہ فکر سے اُس بے نیاز کا
کچھ دَخل عقل کا ہے نہ کام امتیاز کا (ذوقِ نعت)

د شعر ترجَمه: د هغه پاك بې نيازه [الله عَزَّوَجَلَّ] لوئي شان ته فکرونه نه شي رسيدې او نه د هغه کارونو ته عقلونه رسيدې شي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! دا ټول د يقين کامل سره تَعَلُّق لري که چرې عقيده او يقين کمزورې وي نو بيا داسې نتيجې نه شي راوتلې. د يقينِ کامل په باره کښې حُجَّةُ الْإِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمد غزالی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دَ سُورهٔ يُوسُف په تفسير کښې يو سبق آموز حکايت نقل کړې دې. چه يو ځل په بَغدادِ مُعَلّٰی کښې يو سړې ولاړ وو او د يو دِرهم سوال ئې کولو، مشهور مُحَدِّث حضرت سَيِّدُنا اِبنِ سَماك رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ورته او فرمائيل چه تا ته کوم سورت ښه ياد دې هغه اووئيل سُورَهٔ فاتِحَه. ورته وئې فرمائيل: دا يو ځل ولوله او د دې ثواب په ما را خرڅ کړه، زه به د دې په بدله کښې خپل ټول دولت تا ته درکړم. سوالګر اووئيل: حضرت! زه مجبور يم دَ يو درهم سوال کووم، قرآن خرڅولو له نه يم راغلې. دائې اووئيل او هغه سوالګر مقبرې [اديرې] طرف ته لاړو، په دې کښې باران شروع شو تر دې چه ګلئ وريدل هم شروع

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف ولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

شو. هغه د پېیدو د پاره د یوې بلېٔ سورې ته ورمَنډه کړه. هلته **شنو جامو** والا یو سړي په سورلېٔ سور د **مخکښې** نه موجود وو، هغه اووئیل: ته هغه [کس] ئې چه د سُوْرَۂ فَاتِحَه د ثواب خرخولو نه دِ اِنکار کړې وو؟ هغه اووئیل: آو جي! په سوَرلېٔ سور هغه سړی هغه ته د لسو زرو دِرهمو یوه کڅوړه ورکړه او ورته ئې اووئیل چه دا خرچ کړه چه کله ختمې شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ دومره به نورې درکړم. **سوالګر** ترې تپوس وکړو: چه تاسو څوك ئې؟ هغه اووئیل: زه ستا **یقین** یم. دائې اووئیل او په سوَرلېٔ سور هغه کس لاړو.

(ملخص از تفسیر سورۂ یوسف للغزالی ص ۱۷، ۱۸)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دې نه هغه خلقو ته عبرت حاصلول پکار دي څوك چه د خیرات غوښتو د پاره تلاوت کوي د پیسو او د طعام په لالچ کښې د قرآن د ختم په محفلونو او په اجتماعِ ذِکر و نَعت کښې شرکت کوي او د روپو حاصلولو د پاره په تراویح کښې قرآنِ پاك لولي. الله تعالیٰ دِ مونږ ته د اخلاص او د یقین نه ختمیدو والا دولت راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی ! عزوجل

زما هر عمل دِ وي صرف ستا د پاره کړې داسې اِخلاص راعطا یا اِلٰهي

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! يقيناً اِخلاص ډير لوئي دولت دې چا ته چه نصيب شو، هغه كامياب شو د عاشِقانِ رسُول سره په مَدَنی قافِلو كښ سفر كوئ اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ په اعمالو كښ به د اخلاص پيدا كيدو "مَدَنی سوچ" اوموموئ او كله چه په اعمالو كښ اخلاص پيدا شي نو اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ

### جلوے خود آئیں طالبِ دیدار کی طرف

(دِيدن غوښتونكي ته ښكاره شي نظارې پخپله)

## په كيسټ اجتماع كښ ديدارِ مُصطفٰیﷺ

د دعوتِ اسلامی د درې ورځو د سُنَّتو نه ډكې بينُ الاقوامی اِجتماع (صحرائے مدينه مدينةُ الاولياء ملتان) په ختميدو د عاشِقانِ رسُول ډيرې مَدَني قافلې د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره ښار په ښار او كلى په كلى په سفر روانيږې، د يو عاشقِ رَسُول د بيان خلاصه په خپل انداز كښ ستاسو په خدمت كښ وړاندې كووم، د ۱٤۲۳ھ دَ بَينُ الاقوامی اِجتماع نه د عاشِقانِ رسُول يوه مَدَني قافله د دولسو ورځو د پاره ضلع لَيَّه (پنجاب پاكستان) ته ورسيده، يوه ورځ چه كله د جَدوَل مطابق كيسټ اجتماع وشوه نو د كيسټ د سُنَّتو نه ډك بيان اوريدو باندې د يو عاشقِ رسول زړه نرې شو او هغه په ژړا شو تر دې چه بې هوشه شو، كله چه په هوش كښ راغي نو ډير خوشحاله وو، هغه اووئيل چه اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په ما ګنهګار باندې فيضانِ كرم وشو او ما ته د مدينې د تاجدار صَلَّی الله

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِیر)

تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو. په دويمه ورځ بيا **کيسټ اجتماع** وشوه، د هغه بيا هم هغه حالت شو، په دې ځل هغه ته د رِسالتِ مآب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار بَرَکتونه داسې نصيب شو چه د مَدَني قافِلې ټول مسافر هم په خِدمت کښې حاضِر وو.

آنکھیں جو بند ہوں تو مقدّر کھلیں حسنؔ

جلوے خود آئیں طالبِ دیدار کی طرف

سترګې چه پټې شي حَسَن نو رابيدار شي قِسمَت

دِيدن غوښتونکي ته ښکاره شي نَظارې پخپله

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**وسوسه:** ځينې خلق د خلقو د مُتَاَثِّره کولو د پاره خوبونه بيانوي، ځکه پکار دا دي چه خوك په خوب کښې د ليدلو دعوٰی وکړي نو په پټو سترګو په هغه باندې يقين کول پکار نه دي کم از کم هغه ته قَسم خو ورکول پکار دي.

**د وسوسې علاج:** د صحيح بُخارى شريف اولني حديث دې، اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ يعني د "اعمالُو دار و مدار په نيتونو دې." نو که خوك د حُبِّ جاه [يعني د خلقو په زړونو کښې خپل محبّت پيدا کولو] د پاره خلقو ته خپل خوب بيانوي، خپل شُهرت او واه واه غواړي نو هغه واقعی مُجرِم دې او که په ښه نيت ئې بيانوي، مثلاً په خوش قسمتئ سره چا د دعوتِ اسلامي د سُنّتو نه ډکه مَدَني قافِله کښې ښه خوب وليدو اوس هغه دا خوب نورو خلقو ته د دې د پاره اوروي چه خلقو ته د سُنَّت زده کولو د پاره په مَدَنی قافِلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړې شي او

خلقو ته دا اطمينان حاصِل شي، چه دَعوتِ اسلامی د اهلِ حقّ او د عاشِقانِ رسُول دَ سُنَّتو نه ډك تحريك دې او دغسې دا خلق د دعوتِ اِسلامي سره تړون وكړي او د خپل ايمان د حفاظت ذريعه ئې وګرځوي، نو دا نِيَّت غوره دې او په دې نِيَّت باندې خوب بيانولو والا ته به اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ اَجر وركولې شي او كه د تَحديثِ نِعمَت يعني د [الله د طرف نه د حاصل شوي] نِعمَت د بيانولو په نِيَّت [خپل خوب] اورَوي نو هُم جائز دې خو كه د رياكارئ يَره محسوسوي نو خپل نوم دِ نه ښكاره كوي ولې چه په دې كښې زيات خير دې. بهرحال د زړه په نِيَّت الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی پوهيږي، د مسلمان په باره كښې بغير د څه وجهې نه بدګُمانی كول حرام او جَهَنَّم ته بوتلونكې كار دې، د بدګُمانئ په قُرآنِ پاك او احادِيثِ مباركه كښې غندنه بيان شوې ده. چنانچه د سيپاره ۲۶ د سُوۡرَۃُ الۡحُجُرات په دولسم آيت كښې ارشادِ رَبّاني دې:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اجۡتَنِبُوۡا كَثِيۡرًا مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعۡضَ الظَّنِّ اِثۡمٌ

مفهوم ترجمۂ كنزُ الاِيمان: اے ايمان والؤ! د ډيرو ګُمانونو نه ډډه كوئ [يعني بچ اوسئ] بيشكه څينې ګُمان ګناه شي.

په حديثِ پاك كښې دي: ”چه د بدګُمانئ نه بچ اوسئ څكه چه بدګُمانی د ټولو نه زياته د دروغو خبره ده.“ (صحيح بخاری ج٦ ص١٦٦ حديث ٥١٤٣)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

زما آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په فتاوٰی رَضَوِيّه شريف كښې نقل كوي: ”چه حضرتِ سَيِّدُنا عيسٰی روحُ الله عَلَیْہِ السَّلَام يو سړي په غلا كولو وليدو نو ورته ئې اوفرمائيل: آيا تا غلا ونكړه؟ هغه اووئيل: قَسَم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ ما غلا نه ده كړي، دا ئې چه واوريدل نو حضرتِ عيسٰی عَلَیْہِ السَّلَام اوفرمائيل: واقعی تا غلا نه ده كړې، زما سترګې دوكه شوي.“ (فتاوٰی رضويه مُخَرَّجه ج24 ص110 مُلَخَّصًا)

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د دې حِكايت نه د مُسلمان د احترام د اَهَمِّيَّت اندازه معلوميږي، چه د شريعت په دائره كښې دننه د مسلمان پرده پوشي وكړې شي، چا ته هم دا نه دي پكار چه بې وجه په بل بدګُماني اوكړي، هغه دروغژن وګڼړي او خپل آخِرت برباد كړي او ځان د جَهَنَّم حقدار جوړ كړي.

تُوْبُوْا اِلَی اللّٰه اَسْتَغْفِرُاللّٰه

## د دروغو خوب بيانولو عذاب

بِالفرض كه څوك د دروغو خوب راجوړ كړي او بيانوي ئې نو هغه پخپله د دې ذِمَّه وار، سخت ګُنهګار او د اور د عذاب حقدار دې. د اللّٰه تعالیٰ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك ارشاد دې: ”څوك چه دَ دروغو خوب بيان كړي هغه ته به د قيامت په ورځ د وَربشو په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

دوو دانو کښې د غوټې ورکولو تکليف ورکولې شي او هغه به هيڅ کله هم غوټه ور نه کړې شي." (صحيح بخاری ج۸ ص١٠٦ رَقم الحديث ۷۰٤۲)

## بې سوچه خبرې کولو والؤ خبردار!

په **يو** حديث شريف کښې دي: "يو سړې داسې خبرې کوي چه په هغې کښې غور او فکر نه کوي (حالانکه هغه خبرې په دروغو، غِيبَت، عيب لټولو يا د ځان نه راجوړ کړې خوب وغيره حرامو باندې مشتَمِلې وي) نو هغه به د دې خبرې په سَبَب جَهَنَّم ته د دې مقدار نه هم زيات غورزيږي څومره چه د مشرق او د مغرب په مينځ کښې فاصله ده. (صحيح بخاری ج۷ ص۲۳٦ رقم الحديث ٦٤٧٧)

د خوب بيانوونکي نه دَ قَسم مطالبه کول شرعاً واجب نه ده او څوك چه مَعاذَالله عَزَّوَجَلَّ دروغژن وي نو کيدې شي چه هغه دَ دروغو قَسم هم اوخوري.

وسوسه: هُم دا مُناسِب ده چه خلقو ته خوب بيان نه کړې شي او په راز کښې وساتلې شي.

عِلاجِ وسوسه: څه مناسب دي او څه مناسب نه دي، په دې باندې بزرګان دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِين زمونږ نه زيات ښه پوهيږي د ښه خوب بيانولو نه شريعت منع نه ده کړې نو مونږ څوك يو چه منع ئې کړو. په قرآنِ پاك، احاديثِ مبارکه او د بزرګان دِين په کتابونو کښې د خوبونو په کثرت سره ذِکر راغلې دي. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام ابو القاسِم قُشيری

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك ولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په **رِسالۀ قُشیريه** کښې د "رُؤیا القوم" نومې باب په صفحه 368 نه 377 پورې دَ اولیاءِ کرام 66 خوبونه نقل کړي دي، **حُجَّةُ الْاِسلام** حضرت امام محمد غزالی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **احياءُ العلوم** په څلورم جلد صفحه 540 نه 543 کښې "مَنَامَاتُ الْمَشائِخ" نومې باب کښې 49 خوبونونه نقل کړي دي. او د "حیاتِ اعلیٰ حضرت" (مطبوعه مکتبه نبویه گنج بخش روڈ لاهور) د څلورم جلد په صفحه نمبر 424 نه 437 کښې د **اعلیٰ حضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ عَلّامه مَولانا شاه اِمام اَحمَد رَضا خان** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **14** خوبونه چه هغوئي پخپله بیان کړي وو، روایت کړې شوي دي . په هغې کښې دَ يو خوب په باره کښې عرض دې.

## د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خوب

سرکار اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دَوارِو لاسو د مُصافَحه کولو په جواز کښې په 40 صفحو يوه رساله په نوم "صَفَائِحُ اللِّجَّيْن فِي كَوْنِ تَصَافُحٍ بِكَفِّي الْيَدَيْن" (يعني دَ سپينو زرو پترې د دوارِو لاسونو په ورغوو د مصافحه کولو په بیان کښې) ليکلې ده. د هغې په صفحه ۳ باندې ئې خپل هغه خوب په تفصيل سره بيان کړې دې چه په هغې کښې هغوئی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته د حضرت سَيِّدُنا اِمام قاضي خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ديدار شوې وو. او مسلمانان د وسوسو نه د بچ کولو د پاره او د هغوئي په علم کښې د اِضافه کولو د پاره ئې په هُم دې رسالۀ مبارکه کښې خلقو ته د

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوک چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

خوبونو بيانولو په باره کښې دلائل قائِم کړي دي. چنانچه په دې رساله کښې فرمائي.

## نن چا خوب ليدلې دې

دَ صحيح احاديثو نه ثابت دي چه حُضُورِ اَقدس سَيِّدِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دا (يعني خوب) يو امرِ عظيم ګڼړلو او د دې د اوريدو، د تپوس کولو او د بيانولو په باره کښې به ئې د اوچتې درجې اِهتِمام کولو، په صحيح بُخاری شريف وغيره کښې د حضرتِ سَمُرَه بن جُندَب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې، حُضُورِپُرنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چه د سحر لمونځ وکړو نو د حاضرو خلقو نه به ئې تپوس کولو: "نن شپه چا څه خوب ليدلې دې؟" چا به چه ليدلې وو نو بيان به ئې کړو او حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ئې تعبير اوفرمائيلو. (صحيح بخاری ج۲ ص۱۲۷ رقم الحديث ۱۳۸۶)

اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ نور فرمائي چه اَحمد، بخاري او تِرمِذی د حضرتِ ابو سعيد خُدری رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت کړې دې، حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "کله چه په تاسو کښې څوک داسې خوب اووينې چه هغه [خوب] هغه ته ښکلې ښکاري نو هغه دَ الله تعالٰی د طرف نه دې، پکار ده چه په هغې باندې د الله تعالٰی حَمد وکړي او خلقو ته ئې بيان کړي. (مُسند امام احمد ج۲ ص۵۰۲ رقم الحديث ۶۲۲۳)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

## زیري پاتې دي

اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دغه ذِکر شوې رِساله کښې نقل کوي، چه حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "نُبُوَّت لاړو، اوس به زما نه پس نُبُوَّت نه وي خو بشارتونه. [یعني زِیري پاتې دي] هغه څه دي؟ نیك خوب چه انسان ئې پخپله اووینې یا ئې بل د هغه د پاره اووینې. (طبرانی، اَلْمُعْجَمُ الکبیر ج ۳ ص۱۷۹ رقمُ الحدیث ۳۰۵۱)

## په خپله باره کښې ښه خوب لیدونکی ته اِنعام ورکول

اَعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نور فرمائي، دا هُم د صحابهٔ کِرام عَلَیْھِمُ الرِّضْوَان سُنّت دي چه که یو داسې خوب لیدلې شوې دې چه په هغې کښې د هغوئي د قول [یعني د خبرې] تائِید [یعني مَنل] راغلې دې نو په هغې باندې خوشحاله شوي دي او د هغه خوب لیدونکی په عِزّت او اِحترام کښې ئې اِضافه کړې ده. په صَحِیحَیْن کښې دي چه ابو جَمْرَه ضَبُعِی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ په تَمَتُّع حج کښې خوب ولیدو چه په هغې کښې (په فِقهی مسائلو کښې) د مذهبِ اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا تائِید وشو. اِبنِ عَبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا (چه هغه مبارك خوب واوریدلو نو د خپل مال نه ئې) د هغه وظیفه مقرره کړه او د هغه ورځې نه ئې هغوئي د ځان سره په تخت کښینول شروع کړل. (مُلَخَّصًا از صحیح بخاری ج۲ ص۱۸۶ رقم الحدیث ۱۵۶۷) د اللّٰه تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللّٰہُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك ولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

# دَ اِمام بخاری د مور بي بي خوب

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو نورو ته د خوب اورَولو په باره كښې د صحيح بُخاری په حواله هُم دوه روايتونه وكتل. دَ صحيح بُخاری مُؤَلِّف حضرت سَیِّدُنا شيخ ابو عبدُالله مُحَمَّد بِن اسمٰعِيل بُخاری رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ په ډيرو زياتو كوششونو احاديثِ مباركه راجمع كړل. هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ پخپله فرمائي: "چه اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ ما په "صحيح بخاری" كښې تقريباً شپږ زره احاديث شريف ذِكر كړي دي د هر حديث نه مخكښې به مې غسل كولو او دوه ركعته لـمونځ به مې ادا كولو." د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہ والد صاحب حضرت سَيِّدُنا شيخ اسماعيل رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ ډير نيك سړې وو او د هغوئي والده صاحبه رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہا عبادت گزاره او مُجَابَةُ الدُّعاء (يعني هغه زنانه چه دُعا ئې قبليږي) وه. په مبارك وړوكوالى كښې دَ امام بُخاری رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ نظر ختم شوې وو. مور محترمه رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہا به ئې په دې غم كښې ژړيدله او په ډيره زارئ به ئې دُعاگانې كولې. يوه شپه ئې په اودو د قِسمت ستورې اوځليدو، د زړه سترگې ئې اوغړيدلې، او خوب ئې وليدو چه حضرت سَيِّدُنا ابراهيم عَلَیۡہِالسَّلَام تشريف راوړې دې او فرمائي: "چه تا د خپل ځوې د بِينا كيدو د پاره دُعاگانې كړې دي، مبارك شه، ستا دُعا قبوله شوې ده، اَللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى ستا د ځوئ سترگې بيرته بِينا كړې دي." چه كله سحر شو نو څه گورې چه د امام بخاری رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ سترگې روښانه شوې وې. (مخلص از تفهيم البخاری ج اول ص ٤)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

مؤلف شیخ الحدیث غلام رسول رَضَوي دَ الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۲) د یو یهودي او یهودنې یو عجیبه حِکایت

**یو** یهودي په یوه یهودنه باندې عاشِق شو او د هغې په عِشق کښې داسې مجنون شو چه د خوراك څښاك نه به هم بې خبره وو. آخِر د حضرت سَیِّدُنا عطاءُ الاکبر رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خدمت کښې حاضر شو او خپل حال ئې بیان کړو، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د یو کاغذ په ټکړه باندې بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ولیکله او هغه ته ئې ورکړه چه دا تیره کړه په دې اُمِّید چه الله تَعالٰی تا ته په دې باره کښې تسلِّي درکړي، یا هغه تا ته درکړي. کله چه هغه **یهودي** هغه ټکړه تیره کړه، ( نو د تیریدو سره د هغه په زړه کښې مَدَنی اِنقِلاب راغې او هغه) عرض وکړو: "اے عطاء رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ! ما دَ ایمان خوږ والي اوموندلو او زما په زړه کښې نور ظاهِر شو، ما هغه (زنانه) هیره کړه، ما د **اسلام** په باره کښې خبر کړه. سَیِّدُنا عطاء رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ هغه ته اسلام پیش کړو او هغه د بِسْمِ الله په بَرَکت مسلمان شو. هلته هغې **یهودنې** چه کله د هغه د اسلام راوړو خبر واوریدو نو هغه د حضرت سَیِّدُنا عطاءُ الاکبر رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې وکړو: "اے د مسلمانانو اِمامه! زه هغه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك ولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

زنانه يم د چا ذِکر چه هغه اسلام قبلوونکي يهودي تاسو ته کړې وو، او ما تيره شپه خوب وليدو چه يو کس را ته په خوب کښې وائي چه که په جَنَّت کښې خپل د اوسيدو ځائ ليدل غواړې نو د سَيِّدُنا عطاءُ الاکبر رَحمَةُ اللهِ تعَالٰی عَلَیه په خدمت کښې حاضره شه هغوئي به تا ته ستا ځائ در وښائي." نو زه ستاسو په خدمت کښې حاضره شوې يمه، ما ته اِرشاد اوفرمائې چه جَنَّت چرته دې؟ هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: "که د جَنَّت اِراده لرې نو اول به د هغې دروازه بيرته کوې، د هغې نه پس به ته د هغې طرف [يعني خپل ځائ] ته تلې شې." عرض ئې وکړو: "زه د هغې دروازه څنګه بيرته کولې شم؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اووايه." هغې بِسۡمِ اللّٰه شريف ولوسته. (د لوستلو سره د هغې په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب پيدا شو او) هغې اووئيل: "اے عطا (رَحمَةُ اللهِ تعَالٰی عَلَیه)! ما په خپل زړه کښې نور اومندلو او د الله عَزَّوَجَلَّ خدائي مې وليدله، ما د اسلام نه خبره کړه." هغوئي رَحمَةُ اللهِ تعَالٰی عَلَیه په هغې باندې اسلام پيش کړو نو د بِسۡمِ اللّٰه په بَرَکت هغه هم مسلمانه شوه، بيا خپل کور ته لاړه. د شپې چه کله اوده شوه نو په خوب کښې جَنَّت ته داخله شوه او د جَنَّت محلونه اوګنبدې ئې وليدلې، په هغې کښې په يو ګنبد باندې ليکلې شوي وو بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللهِ (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) هغې هغه (عبارت)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پیش کیږي. (طَبَرَانِي)

ولوستلو نو یو آواز کوونکي دا اووئیل: ”اے لوستونکې! څه چه تا ولوستل الله تعالیٰ هم دغسې هر څه تول تا ته درکړل.“ زنانه را وِیښه شوه او عرض ئې وکړو: ”یا اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ! زه جَنَّت ته داخله شوې ووم، تا ترې بیرته را اووِیستم. اے الله عَزَّوَجَلَّ! د خپل قُدرتِ کامِله په خاطر ما ته دَ دُنیا دَ غمونو نه خلاصې راکړې.“ خُنکه ئې چه دُعا ختمه کړه نو د کور چت پرې را پریوتو او شهیده شوه. دغسې الله تَعالیٰ د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم په بَرَکت په هغې رحم وکړو. (قلیوبی حکایت۲۶ص۲۲،۲۳) دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوْبُوْا اِلَی اللّٰه اَسْتَغْفِرُ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

بسمِ الله کی بَرَکت ہے کتنی اچّھی قسمت ہے
ہم نے پائی جنّت ہے یہ سب ربّ کی رَحمت ہے

د بِسْمِ اللّٰهِ بَرَکت دي خومره ښکلې مو قسمت دي
موندلې مو جَنَّت دي دا تول د ربّ رحمت دي

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! د الله تعالیٰ رحمت ډیر لوئې دې. هغه په خپل کرم باندې بندګان د خپلو اولیاؤ آستانو ته لیږی او د هغوئې غټ غټ وران کارونه سَمَوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبلیغِ قرآن و سُنَّت عالمګیر غیر سیاسی تحریك دعوتِ اسلامی هر یو کس د اولیائے کِرام

فرمانِ مُصطَفےٰ صلَّی اللہُ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر وشي او هغه په ما درودِ پاك ونه لولي. (ترمِذی)

رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په غلامئ باندې فخر كوي. د اوليائے كِرام غلامان هم چه كله په مَدَنی قافِلو كښ سفر كوي او د نيكئ دعوت وركوي نو كله كله كُفّار هم اسلام قبول كړي. چنانچه د مَدَني قافلې يو سپرلې اوګورئ.

## د يو عيسائي قبول اسلام

د **خانپور** (پنجاب) دَ يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامی بيان دي چه دَ بابُ المَدينه كراچی نه د سُنّتو د تربيت حاصلولو د پاره يوه مَدَنی قافله راغلې وه دَ هغوئي سره ما ته هم د نيكئ د دعوت په علاقائي دوره كښ د شريك كيدو سعادت حاصل شو. د يو درزی دُكان خوا ته مو خلق را جمع كړي وو او د "**نيكئ دعوت**" مو وركولو. كله چه بيان ختم شو نو په هم هغه دُكان كښ په مزدورئ كار كوونكي يو ځلمي اووئيل: "زه عيسائي يم. ستاسو د نيكئ دَعوت زما په زړه ډير زيات اثر وكړو. مهربانی وكړئ او ما په اسلام كښ داخل كړئ."

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه مسلمان شو.

مقبول جہاں بھر میں ہو "دعوتِ اسلامی"
صَدقہ تجھے اے ربِّ غفار مدینے کا

مقبول دِ تول جهان كښ شي دعوتِ اسلامي
اے ربِّ غفّاره! په خاطر د مديني

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

## (3) بزرګ پهلوان

**يو** کافر ډاکو يو ښائسته محل ته داخل شو، هلته د يو بوډا بزرګ او د هغه د پيغلې لور نه سِوا بل هيڅ خوك نه وو. هغه دا اِراده وکړه چه دا بزرګ شهيد کړم او د ده په لور او مال قبضه وکړم. هغه حمله وکړه خو هغه **بزرګ** رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه خو **پهلوان** اوختو. هغوئي فوراً هغه ځلمي ډاکو را خملَوو، ډاکو په څه طريقه ځان خلاص کړو او بيا ئې حمله وکړه خو هغه **بزرګ پهلوان** رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه بيا په هغه غالب شو. ډير ځل د دواړو د يو بل سره پرځول وشو خو هر ځل به هغه کمزورې بزرګ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه کاميابيدو، ډاکو محسوسه کړه چه دا بزرګ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د ځان سره پټ څه وائي، هغه ترې تپوس وکړو، چه ته څه وائې؟ هغه ورته د خپلې پهلوانئ راز ښکاره کړو، مُسکې شو او وئې فرمائيل: "زه ډير کمزورې کس يم خو **بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم** وايم نو **الله** تعالٰی راته په تا باندې غلبه راکوي، کله چه هغه کافر ډاکو دا واوريدل نو د هغه په زړه کښې يو **مَدَنی اِنقِلاب** راپيدا شو او دا ئې اووئيل، چه په کوم دِين کښې د **فيضانِ بِسْمِ اللّٰهِ** دا شان دې نو د هغه دين به څپله څومره اوچت شان وي لِهٰذا هغه د **بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم** د اوريدو په بَرَکت مسلمان شو او دَ هغوئي په خپل مينځ کښې ډير ښه تَعَلُّق قائِم شو، تر دې چه هغه بزرګ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه وفات

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

شو او بیا هغه ښائسته محل او د هغه ټول دولت هغه نوي مسلمان ته پاتې شو او د هغه بزرګ رَحمۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د لور سره د هغه واده وشو. (مُلَخّص از اَسرارُ الفاتحه ص ١٦٥) دَ الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

حمد ہے اُس ذات کو جس نے مسلماں کردیا
عشقِ سلطانِ جہاں سینے میں پنہاں کردیا (قبالہ بخشش)

ثنا د هغه ربّ ده چه ئې کړمه مسلمان
هم عِشق ئې راعطا کړو د سُلطانِ دو جهان

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! هغه بزرګ یقیناً وَلِيُّ الله وو او د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم په بَرَکت به ئې په کافِر باندې غَلَبه مُوندله، او دا د هغوئي کرامت وو او آخِر د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم په بَرَکت هغه کافِر ډاکو ته د اِسلام عظیم نِعمَت په لاس ورغلو. اوس د بِسْمِ الله د یوې عاشقې یو د ایمان نه ډك حکایت واورئ او خوشحاله شئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٤) د کوهی نه خلته ښنګه را اووَته

یوه نیکه بي بي وه، هغې به په خبره خبره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم وئیله، د هغې خاوند مناقِق وو، او هغه د هغې په دې عادت باندې ډیر خفه وو. آخِر هغه د خپلې بي بي دَ ذلیله کولو اِراده وکړه، د دې د پاره هغه خپلې بي بي ته یوه خَلته [یعني تهیلئ] ورکړه چه دا په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك ولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

حِفاظت وساته. بي بي ترې هغه خلته [يعني تهيلۍ] واغسته او په حفاظت ئې وساتله. خاوند ئې چه موقع اوموندله نو هغه خلته ئې را واغستله او د كور كوهى ته ئې غوزار كړه چه هډو پيدا كيدې نه شي او بيا ئې د هغې نه هغه خلته اوغوښتله، هغه نيكه بي بي د هغه خلتې [يعني تهيلۍ] ځائ ته ورغله او چه ثنكه ئې بِسۡمِ اللّٰه اووئيله نو الله تعالیٰ جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام ته حكم وكړو چه تيز لاړ شه او خلته په هم هغه ځائ كيږده. چنانچه حضرت جبرَئيل عَلَيۡهِ السَّلَام فوراً هغه خلته د كوهى نه را اووِيستله او په هغه ځائ ئې كيښودله. چه كله هغه بي بي لاس ور وړاندې كړو نو تهيلۍ هم هغسې پرته وه ثنكه ئې چه كيښودې وه. خاوَند چه خلته وليدله نو ډير زيات حيران شو او د زړه په صِدق ئې **توبه** اوويستله. (قلیوبی حکایت ۱۱ص۱۱،۱۲)

دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! دا ټول د بِسۡمِ اللّٰه بَرَكتونه دي چه په ناسته ولاړه او د هر جائز او قدر لرونكي وړوكي او غټ كار نه مخكښې خوك خوش نصيبه بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لولي نو د مُصيبَت په وخت كښې د هغه غيبانه مدد كيږي.

مَحَبَّت میں ایسا گُما یا اِلٰہی نہ پاؤں پھر اپنا پتا یا اِلٰہی

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

د شعر ترجَمه: يا الٰهی! ستا په محبّت كښې مې داسې ورك كړې، چه د ځان نه هډو خبر نه يم.

## (٥) د فرعون محل

**فرعون** دَ خدائي دعوٰی كولو نه مخكښې يو **محل** جوړ كړې وو او د هغې په بهرنئ دروازه ئې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليكلې وه، چه كله هغه دَ خدائي دعوٰی وكړه او **حضرت سَيِّدُنا موسٰی كليمُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته په **الله** عَزَّوَجَلَّ باندې دَ ايمان راوړلو دعوت وركړو، نو هغه سركشي وكړه. حضرت سَيِّدُنا موسیٰ كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د **الله** تعالیٰ په بارګاه كښې عرض وكړو: يا **الله** عَزَّوَجَلَّ ما په څو څو ځله هغه ستا طرف ته را اوبلو خو هغه د سركشئ نه نه منع كيږي، ما ته خو په هغه كښې د نيكئ څه اثرات نه ښكاري، **الله** تعالیٰ اوفرمائيل: "اے **موسٰی**! (عَلَيْهِ السَّلَام) ته هغه هلاك كول غواړې، ته د هغه كفر ته ګورې او زه خپل نوم ته ګورم كوم چه هغه په خپله دروازه باندې ليكلې دې! (تفسيرِ كبير ج اول ص١٥٢)

## د كور د حِفاظت د پاره

خوږو خوږو اسلامی وروڼړو! مونږ ته پكار دي چه مونږ د خپل كور په دروازه باندې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وليكو اِنْ شَآءَ الله تعالیٰ د هر قِسم دُنياوي آفتونو نه به په حِفاظت كښې اوسو. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام فخرُالدِّين رازی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "چا چه دَ خپل كور په بَهر

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك ولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرَانِي)

دروازه باندې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم وليکله هغه (صرف په دُنيا کښې) دَ هلاکت نه محفوظه شو اګر که کافر وي، نو آيا د هغه مسلمان به څه حال وي چا چه ټول عمر هغه په خپل زړه باندې ليکلې وي.

(تفسیر کبیر ج اول ص۱۵۲)

## (٦) ته انسان ئې که پيرې؟

په **کتابُ النَّصائح** کښې دي، دَ يو مشهور صحابي حضرت سَيِّدُنا **ابُوالدَّردا** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ وينزې يوه ورځ عرض وکړو: حُضُور! رښتيا اووائې چه **تاسو انسان ئې که پيرې**؟ هغوئې اوفرمائيل: " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه انسان يم. هغې اووئيل ما ته خو انسان نه ښکارئ ځکه چه زه د ځلويښتو ورځو نه مسلسل تاسو ته زَهر درکووم خو په تاسو هيڅ اثر نه کيږي! وئې فرمائيل: آيا تا ته معلومه نه ده چه کوم خلق په هر حال کښې دَ الله تعالیٰ ذِکر کوي هغوئې ته هيڅ څيز نقصان نه شي رَسَولې. او زه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په اِسمِ اَعظم لوستلو د الله تعالیٰ ذکر کووم، تپوس ئې وکړو، هغه کوم يو اِسمِ اعظم دې؟ وئې فرمائيل: (زه هر ځل د خوراك څښاك نه مخکښې دا وايم) بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ (يعني د الله تعالیٰ په نوم شروع کووم چه د هغه د نوم په بَرَکت د زمکې او اسمان يو شې هُم څه نقصان نه شي رسولې، هغه اوريدو والا او پوهه دې)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دروِدِ پاک ونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنی)

د دې نه پس ترې هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ تپوس وکړو چه تا ما له په څه وجه زهر راکول؟ هغې اووئيل: زما ستا سره بُغض وو. دا جواب ئې چه واوريدلو نو هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوفرمائيل: ته لِوَجهِ‌الله (يعني د الله تعالىٰ د رضا د پاره) آزاده ئې. او تا چه زما سره څه کړي دي هغه مې هم تا ته معاف کړل. (حیاۃُالحَیوانِ الکبریٰ ج اول ص ۳۹۱) **د الله تعالىٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

مانندِ شمع تیری طرف لَو لگی رہے
دے لُطف میری جان کو سوز و گُداز کا

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ هر وخت مې توجُّه ستا طرف ته لړې، ما ته ستا د محبّت په شوق کښې د ژړا خوند را نصيب کړې.

سُبحٰنَ الله! د صحابهٔ کرام د عَظمَتونو به څه وائې! دا حضرات د حکمِ قرآني د دې آيت اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ (ترجمهٔ کنزُ الايمان: اے اوريدونکيه دَ بَدئ مخ نيوې په نيکئ وکړه. (پ٢٤حٰمٓ السجدة:٣٤)) صحيح تفسير وو، په ځو ځو ځله زهر ورکوونکې وينزې ته ئې هم سزا ورنه کړه بلکه ازاده ئې کړه. د دې حکايت په شان يو بل حکايت واورَئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۷) په طعام کښې زهر

دَ حضرت سَيِّدُنا ابو مسلم خولانى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه يوې وينزې د هغوئي سره بُغض ساتلو. هغه وينزې به هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته زهر ورکول خو اثر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک ولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي . (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

به ئې پرې نه کولو. د ډيرې مودې پورې دا معامله روانه وه، يوه ورځ ئې وِينزې اووئيل: ”زه د ډير وخت نه تاسو ته زهر درکووم خو په تاسو باندې هيڅ اثر نه کيږي! ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”داسې دِ ولې کول؟ وئې وئيل: ”په دې وجه چه تاسو ډير بوډا شوې ئې.“ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د خوراك څښاك نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لوَلم“ (د دې په بَرَکت د زهرو نه په حفاظت کښې اوسم) هغوئې رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه بيا هغه ازاده کړه. (قَلْيُوبِي حکايت ٦٤ ص ٥٢)

بے نوا مفلس و محتاج گدا کون؟ کہ میں
صاحبِ جود و کرم وَصف ہے کس کا؟ تیرا (ذوقِ نعت)

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ زه بې اَسره او غريب يم، او ته سخاوت او کرم والا ئې.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ! د بِسۡمِ اللّٰه شريف څه ښکلې بَرَکتونه او سپرلي دي.

وَسوَسَه: د روايتونو او حکايتونو نه خو هُم دا معلوميږي چه څوك بِسۡمِ اللّٰه شريف اووائي او زَهر اوخوري نو هيڅ اثر پرې نه کيږي خو مونږه د دومره غټې خطرې سره ځان ځنګه مخامخ کړو! ځکه چه زمونږه خو تجربه ده چه که بِسۡمِ اللّٰه هم اووايو او څه غوړ طعام اوخورو نو په خيټه کښې مو ”ګړ بړ“ پيدا شي.

**علاجِ وسوسه:** ”کارتوس“ زمرې هم وژلې شي خو که په ښه ټوپك پرې رسا ډز وکړې شي، دغسې دا وګڼړئ چه اوراد او وَظائِف او دُعاګانې د ”کارتوس“ په شان دي او د لوستونکي ژبه د ټوپك په شان ده. يعني

دُعاګاني خو هم هغه دي خو زمونږه ژبې دَ هغه صحابه او اولیائے کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان د ژبو په شان نه دي. په کومو ژبو چه هره ورځ دروغ، غِیبَت، چُغلی، کنزلې او بد اخلاقي جارې وي په هغې کښې به اثر د کوم طرف نه راشي؟ مونږ دُعاګاني خو پخپله هم کوو خو چه کله راباندې څه تکلیف راشي نو د **بزرګانو** خوا ته هم ځو او د دُعا درخواست ترې کوو وَلې؟ ځکه چه دَ هر چا دا ذهن جوړ شوې دې چه په **پاکه ژبه** شوې دُعا کښې زیات اثر وي. یقیناً حضرت **خالد** بن ولید رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم اووئیله او **زهر** ئې وخښل اَلْحَمْدُ لِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د هغوئي ژبه پاکه وه، زړه ئې پاك وو، د هغوئي ټول بدن د ګناه نه پاك وو، ځکه د **الله** تعالٰی د نوم مبارك په بَرَکت پرې زهرو هیڅ اَثر ونکړو، دغسې به چه حضرت سَیِّدُنا **اَبُوالدَّرداء** او سَیِّدُنا **ابومُسلم** خولانی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا په خپلو پاکو ژبو د **الله** تعالٰی نوم مبارك اغستلو نو زهرو به پرې هیڅ اثر نه کولو ګني زهر خو زهر وي انسان د کاره اوباسي. په دې خبره د دې **حیرانوونکي حکایت** په ذریعه ځان پوهه کړئ، چه په **کِتابُ الاَذْکِیاء** کښې دي، د حج یوه قافله دَ سفر په دوران کښې یوې چینې ته ورسیدله، هغوئي خبر شو چه دلته د ماهرو طبیبانو کورونه دي. د هغوئي خوا ته د ورتَلَلو د پاره هغوئي دا بهانه جوړه کړه چه د ځنګل په یو لرګي ئې د خپل یو ملګري پنډۍ **اوګرَوَله** او په وینه ئې ککړه کړه، بیا ئې هغه بوتلو او د هغه کور دروازې ته ورسیدل او غږ ئې

وکړو: آيا دلته د مار چيچلي علاج کيږي؟ غږ ئې چه واوريدو نو د کور نه يوه وړه جينئ را اووتله، هغې چه د مريض پنډئ ته په غور وکتل نو وئې وئيل: ”دا مار نه دې چيچلې بلکه په کوم ځيز چه دا زخمي شوې دې په هغې باندې به چرې نر مار بَول کړې وو، اوس دا سړې بچ نه شي پاتې کيدې، کله چه نمر را وخيږی نو دا به وفات شي!“ هم هغسې وشوه چه څنګه نمر را اوختو د هغه ساه اوختله.

(مُلخص از حياة الحيوان الکبرٰی جلد اول ص٣٩١)

ہر شے سے عِیاں مِرے صانِع کی صَنعتیں
عالَم سب آئینوں میں ہے آئینہ ساز کا (ذوقِ نعت)

تَرجَمَه: يعني په هر هر ځيز کښې د الله تعالیٰ قدرتونه ښکاره دي.

يا رَبِّ مُصطفٰی عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته بيا بيا د بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم لوستلو توفيق راکړې، دَ ګناهونو نه خلاصې راکړې او زمونږه بخښنه وکړې. يا الله عَزَّوَجَلَّ مونږ ته په مَدِينَهٔ مُنَوَّره کښې د شين ګُنبد نه لاندې د محبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار په نظارو کښې شهادت، په جَنَّتُ البَقِيع کښې خښيدل او په جَنَّتُ الفِردَوس کښې دَ خپل مَدَني حبيب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ را نصيب کړې. او د خپل محبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول اُمَّت بخښنه اوفرمائې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الاَمِين صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

## دَ محمود غزنوي په بارګاهِ رِسالت کښې مقبوليت

**حضرتِ** سلطان محمود غزنوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ[1] په خدمت کښې يو کس حاضر شو او عرض ئي وکړو چه زه د ډيرې مودې نه د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ ديدار اُرزو مند ووم په خوش قسمتئ سره تيره شپه راته [په خوب کښې] د سرورِ کائنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ليدلو سعادت نصيب شو. **حُضُورِ آکرم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مي خوشحاله وليدلو نو عرض مې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! په ما باندې زر دِرهمه قرضه ده او د هغې د اَدا کولو وَس نه لرم او يره لرم چه که زه په هم دې حالت کښې مړ شم نو د قرض بوج به مې په سر پاتې شي. **رحمتِ عالَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "محمود سُبُکْتَگِيْن له ورشه، هغه به ستا قرض خلاص کړي، ما عرض وکړو، هغوئي به څنګه په ما يقين وکړي؟ که د هغوئي د پاره څه نښه راکړئ نو ستاسو به په ما ډير لوئي کرم وي. خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "لاړ شه او هغه ته اووايه، **اے محمود! ته د شپې په اوله حصّه کښې دَيرش زره ځله دُرود شريف لولې، او بيا چه را پاځې نو د شپې په آخرئ حصّه کښې نور ديرش زره ځله درود شريف لولې.** دا نښه چه ورته بيان کړې نو (اِنْ شَآءَ اللّٰہ تعالٰی) هغه

---

[1] (محمود غزنوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په لسمه صدئ عيسوي کښې د غزنې يو ډير بهادُر او عاشقِ رسول بادشاه تير شوې دې د دوئي نوم سُلطان ناصِرُالدّين اِبنِ سُبُکْتَگِيْن وو، هغوئي ډير فتوحات کړي وو تر دې چه په هندوستان باندې ئې ۲۲ حملې کړې وې او ښې ډيرې کاميابئ ئې حاصلې کړې وې.)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

به ستا قرض خلاص کړي. سلطان محمود رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ چه د **شاهِ خیرُ الاَنَام** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا پیغام واوریدلو نو په ژړا شو او د دي تصدیق ئي وکړو [چه آو ته رښتیا وائي]، د هغه قرضه ئي ادا کړه او زر درهمه ئي نور هم ورکړل. وزیران وغیره حیران شو او عرض ئي وکړو! جناب! دي کس خو یوه نامُمکنه [یعني د نه کیدو] خبره وکړه او تاسو ئي هم تصدیق وکړو، حالانکه مونږ ستاسو په خدمت کښ حاضر یو تاسو کله هم په دومره شمیر کښ درود شریف نه دي لوستلی او نه څوك په یوه شپه کښ شپیته زره درود شریف لوستلې شي. سلطان محمود رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوفرمائیل! چه تاسو رښتیا اووئیل خو ما د عالِمَانو نه اوریدلي دي چه څوك **لس هزاری [یعني لس زریز] درود شریف** یو ځل ولولی نو داسې ده لکه هغه چه لس زره درود شریف ولوستل. زه دري ځله دَ شپې په اوله حصّه کښ او دري ځله د شپې په آخِره حصّه کښ دا **لس هزاری درود شریف** لولَم. په دي وجه زما دا گمان وو چه زه هره شپه شپیته زره ځله درود شریف لوَلم. کله چه دي خوش نصیبه عاشِقِ رسول د **شاهِ خیرُ الاَنَام** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رحمتونو نه ډك دا پیغام راوړو نو ما ته د دي **لس هزاري درود شریف** تصدیق وشو، او ژړا په دي خوشحالئ کښ وه چه د علمائے کرام فرمان صحیح ثابت شو څکه چه په غیبو باندي خبردار، رحمتِ عالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دي گواهی ورکړه. (ملخص از تفسیر روحُ البیان ج۷ص۲۳٤) **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بي حسابه بخښنه وشي.**

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نزدې هغه وي چې په دُنيا کښې په ما باندې زيات دروِدِ پاك لوستلې وي. (تِرمِذی)

# لس هزاری دُرُود شريف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ مَّا اخْتَلَفَ الْمَلَوَانِ وَتَعَاقَبَ الْعَصْرَانِ وَکَرَّ الْجَدِیْدَانِ وَاسْتَقَلَّ الْفَرْقَدَانِ وَبَلِّغْ رُوْحَہٗ وَاَرْوَاحَ اَھْلِ بَیْتِہٖ مِنَّا التَّحِیَّۃَ وَالسَّلَامَ وَبَارِکْ وَسَلِّمْ عَلَیْہِ کَثِیْرًا۔

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ زمونږ په سردار مُحمّد (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې درود ولیږې تر څو پورې چې ورځې په ګردش کښې وي او وار په وار راځي سحر او ماښام، او وار په وار راځی شپه او ورځ. تر څو پورې چې دوه ستورې اوچت وي. او زمونږ دَ طرف نه د هغوئي(صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په رُوح او د اَهلِ بيت (رَضْوَانُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِمْ اَجْمَعِیْن) په روحونو سلام ورسوې او بَرَکت ورکړې او په هغوئي ډير ډير سلامونه ولیږې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوْبُوْا اِلَی اللّٰہ اَسْتَغْفِرُ اللّٰہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

طلب غم مدینہ بقیع
و مغفرت وبے حساب
جنّت
الفردوس میں
آقاکاپڑوس



**دا رساله ولولئ او بل ته ئې ورکړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د **مَکتبةُ الْمَدِينه** نه شائع شوې رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم کړئ او ثواب وګټئ، خپلو ګاهکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښې هم د رِسالو ايښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرڅونکو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاوَنډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله يوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَوَلو په ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډير ثوابونه وګټئ.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# فهرست


| عنوان | صحفه |
|---|---|
| فَيْضَانِ بِسْمِ الله | |
| فيضانِ سُنَّت ۲۲ مَدَنی ګلونه | 1 |
| د فَيضانِ سُنَّت نه د درس وركولو طريقه | 4 |
| د درس په آخره كښې داسې ترغيب وركړئ | 5 |
| نيمګړې كار | 9 |
| بِسمِ اللّٰه وائې | 9 |
| د پيريانو نه د سامان د حفاظت طريقه | 10 |
| بِسْمِ اللّٰهِ صحيح لولئ | 10 |
| شور ګډ شو | 11 |
| د بِسْمِ اللّٰه د "ب" جامعيت | 11 |
| اِسمِ اَعظم | 12 |
| د اِسْمِ اَعْظَم سره دُعا قبليږي | 13 |
| كږه پوزه | 14 |
| د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه كرامت | 16 |
| عجيبه بُوډا او تور پيرې | 18 |
| نيت صفا منزِل اَسان | 24 |
| پينځه مَدَني ګلونه | 25 |
| چه ښنګه دروازه هغسې خيرات | 26 |
| دَ رَحمَت نه ډك حكايت | 28 |
| د باغ ټال | 29 |
| د سلو كسانو قاتِل اوبخښلې شو | 31 |


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښ په ما باندې درود پاك وليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښ وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِی)



| | |
|---|---|
| قابلِ رَشك مرګ | 33 |
| بِسْمِ اللّٰهِ وکړه وئيل منع دي | 35 |
| بِسْمِ الله وئيل كله كُفر دې | 36 |
| فرښتې نيكئ ليكي | 36 |
| په هر هر قدم باندې يوه نيكي | 36 |
| په كشتئ كښ نيكئ او نيكئ | 37 |
| په ډرائيور اِنفرادي كوشِش | 38 |
| د بيان كيسټ په تحفه كښ وركوئ | 39 |
| كه څوك مَني او كه نه ستا ثواب وشو | 40 |
| د ټولې زمكې د بادشاهئ نه غوره | 40 |
| زهرِ قاتل بې اثره شو | 40 |
| خوفناك زهر | 41 |
| اور وو او كه باغ وو؟ | 43 |
| حيرانوونكې واقعه | 45 |
| د سحر د لمانځه د پاره پاڅول سُنَّت دي | 46 |
| څوك په ښپه خوزَوَل كولې شي؟ | 47 |
| د مرګ په وخت كښ د كَلِمَه لوستلو فضيلت | 48 |
| څورب او تازه شيطان | 49 |
| د نهو شيطانانو نومونه او كارونه | 50 |
| د كورنو جګړو علاج | 51 |
| د خوراك نه مخكښ ضرور بِسْمِ اللّٰهِ وائې | 52 |
| خوراك د شيطان نه بچ وساتئ | 52 |
| بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ | 53 |
| شيطان خوراك بيرته را اوګرزَوَلو! | 53 |



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف ولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُ الۡعُمَّال)


| | |
|---|---|
| 54 | دَ نظرِ مُصطفٰى نه هيڅ پټ نه دي |
| 55 | صِدّيق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ مَدَنی اَپريشن وکړو! |
| 57 | (۱) آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سترګې روښانه کړې! |
| 57 | (۲) آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مرئ د غُوټو علاج وکړو |
| 58 | (۳)د آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بَرَکت د ساه لنډې مريض ته شِفا نصيب شوه |
| 59 | (٤) آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ برګې علاج وکړلو |
| 60 | ( ) آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لاس پولئ (يعني دانې) ښې کړې |
| 63 | شپږ اويا زره نيکئ |
| 64 | د حلالولو په وخت کښ دَ اَلرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم نه وئيلو حِکمت |
| 64 | د نُولَّسو حُرُوفو حکمتونه |
| 65 | دَ قبر نه عذاب لرې شو |
| 66 | د ماشوم د مَدَني تربيت حکايت |
| 69 | د دعوت اسلامی دَ تربيتی کورس مَدَني سپرلې |
| 71 | د مَدَني قافِلې نه دَ منع کولو نقصان |
| 73 | د سږې خورو ځناورو کور |
| 74 | د تبې علاج |
| 75 | د "يا نَبی" د پينځؤ حروفو په نِسبت د تبې پينځه مَدَنی علاجونه |
| 77 | سترګې روښانه شوې |
| 79 | د سر د درد علاج |
| 79 | په بِسۡمِ اللّٰهِ د عِلاج طريقه |
| 81 | د ياالله د شپږو حروفو په نسبت د نيم سر د درد شپږ علاجه |
| 82 | دَ "يا مُصطفٰی" د ووه حروفو په نسبت د سر د درد ووه علاجونه |
| 84 | د پوزې د ماتيدو علاج |
| 84 | د دوائي حکايت |


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف ولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)



| | |
|---|---|
| په دوائي نه، په خدائے پاك عَزَّوَجَلَّ يقين ساتئ | 85 |
| د رُوح تنده ماتيدل | 85 |
| په ښکلې طريقه د وئيلو فضيلت | 86 |
| دَ خدائے پاك دَ نوم خوړ والې د خلاصي سبب دې | 86 |
| د قِيامت د پاره عجيبه سَنَد | 87 |
| ته د عذاب نه بچ شوې | 88 |
| په کفن د ليکلو طريقه | 88 |
| څه مونږه ته او بخښلې | 89 |
| د خالِص عمل پيژندل | 90 |
| د افتونو لرې کيدو اسانه وظيفه | 91 |
| مشکلات به حل شي اِنْ شَآءَالله | 92 |
| نوې ژوند | 93 |
| د بِسْمِ اللّٰهِ عاشقه | 96 |
| دبِسْمِ اللّٰهِ دَ ليکلو فضيلت | 98 |
| په زمکه ليکل | 100 |
| د هرې ژبې د حُروفو تعظيم کوئ | 101 |
| د مدينې منورې يو زړه دردوونکې ياد | 101 |
| د هوښيار دليل | 104 |
| د دِيوانه جواب | 104 |
| شرابی او بخښلې شو | 107 |
| د بخښنې انعام | 108 |
| د ښه نِيَّت بَرکتونه | 109 |
| د الله تعالٰی پټ تدبير | 110 |
| يَرَوونکې حِکايَت | 111 |



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر وشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)


| | |
|---|---|
| د مدينې مُسافِر | 114 |
| شرابي وَلي جوړ شو | 117 |
| با اَدب با نصيب  بې ادب بې نصيب | 119 |
| ځناور هم د ولي تعظيم کوي | 120 |
| د عقيدت مندو هم بخښنه وشوه | 121 |
| دَ مُقَدَّس کاغذ د اوچتولو فضيلت | 123 |
| مفتئ اعظم هِند او دَ کاغذونو او حروفو تعظيم! | 123 |
| حُضُور مُفتئ اَعظم هِند او د درد مندو سره غمرازي | 124 |
| د مُقَدَّس کاغذ بَرَکت | 126 |
| دَ څلورو دُعاګانو حکايت | 128 |
| د خاورې ماته پياله | 130 |
| د ساده کاغذ هم ادب پکار دې | 130 |
| په لاره باندې کاغذونه په لتو مه وهئ | 131 |
| د قلم تراشه | 132 |
| دَ سياهي د ټکي ادب | 133 |
| په ديوالونو باندې اِشتِهار مه لګوئ | 134 |
| اَخبارونه په ردئ والا مه خرڅوئ | 135 |
| زما والد صاحب ذِهني مريض دې | 136 |
| په مَدَني قافِله باندې د آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کَرَم نوازی | 137 |
| حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرې طعام اوخوړلو | 140 |
| د هرې ژبې د حروفو ادب کوئ | 141 |
| د نمبرو نِسبتونه | 144 |
| د مُقدَّسو پاڼړو په درياب وغيره کښې د اچولو طريقه | 145 |
| د مُقدَّسو پاڼړو د ښخولو طريقه | 146 |
| د "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم" د فيضان 29 مَدَنی ګلونه | 147 |

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِیمان)



| | |
|---|---|
| دَ بِسْمِ اللّٰہِ د ووه حُروفو په نِسبَت ووه حِکايتونه | 154 |
| په کيسټ اجتماع کښې ديدارِ مُصطفٰیصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم | 157 |
| د دروغو خوب بيانولو عذاب | 160 |
| بې سوچه خبرې کولو والؤ خبردار! | 160 |
| د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خوب | 162 |
| نن چا خوب ليدلې دې | 162 |
| زيري پاتې دي | 163 |
| په خپله باره کښې ښه خوب ليدونکی ته اِنعام ورکول | 164 |
| دَ اِمام بخاری د مور بې بي خوب | 164 |
| (۲) د يو يهودي او يهودنې يو عجيبه حِکايت | 165 |
| د يو عيسائي قبول اسلام | 168 |
| (3) بزرګ پهلوان | 169 |
| (٤)د کوهی نه خلته څنګه را اووَته | 171 |
| (٥) د فرعون محل | 172 |
| د کور د حِفاظت د پاره | 173 |
| (٦) ته انسان ئې که پيرې؟ | 173 |
| (٧) په طعام کښې زهر | 175 |
| دَ محمود غزنوي په بارګاهِ رِسالت کښې مقبوليت | 178 |
| لس هزاری دُرُود شريف | 180 |



## د شِکوه تعريف

د مصيبت په وخت کښې ګِيلې قِيصې او بې صبري کولو ته شِکوه وائي. (حدِيقه ندِيه شرح طريقۀ محمّديه ج 2، ص98)

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيك او مونځ گزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار كښې كيدونكي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو نه ډكه هفته واره اجتماع كښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيت د پاره په مَدَني قافِله كښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِكرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځاى ذِمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

د ځان د اصلاح د پاره په "مَدَني اِنعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د اصلاح د پاره په "مَدَني قافِلو" كښې سَفَر كول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي مندئ، بابُ المدينه (كراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net